بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم
د مولانا سعید افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان
Dr.Said Afghani
د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# نازکمیر « زهیر بلخی »

تاریخ نشر : 12 اګست 2014 م

# مثنوی معنوی

## د شپږم دفتر سریزه

دمثنوی شپږم دفتر او د هغه معنوی سپرني لکه څراغ ، د وهم او شکونو په تورو شپو کې د حقیقت رڼا خوروي . په پینځه ګونو حیواني حواسو سره دا نه شي درکولی ، ځکه په ادراک او حواس یوازې مادي نړی پرتله کولی شي ، تر دې هغې خواته لار نلري . که څوک غواړي چې په مثنوی معنوی پوه شي لمړی دې خپل ځان پاک او زړه دې تزکیه کړي ، بیا به د هغه پر زړه د مثنوی الهی نوُر وځلیږي، پدې توګه به ورته د مثنوی درک آسانه شي .
مولانا مثنوی حسام الدین ته وړاندې کوي او پر هغه د حسام نامی نوم ږدي .، ځکه چې مولانا دا کتاب د حسام الدین سره د ډیرې مینې له کبله لیکلی او د لیکنې سبب یې هم همدا جذبه وه .

عشق د زمان او حس له بریده وتلی امر دی . دا هغه راز دی چې د مین د سترګو او غوږونو پرته په بله توګه نشي درکیدلی . خو کله چې معشوق د هغې د ویلو اراده وکړي ، مین پرته له دې چې د هغه د رد او یا د منلو په هکله سوچ وکړي ، خپله دنده تر سره کوي . که داسې نه وي نوح(ع) به خپل قوم ته د هغو د انکار سره ، سره نهسوه کاله هغوی حق ته نه رابللی، څرنګه چې سپوږمی د سپو د غپا سره د نوُر له خپرولو لاس نه آخلي ، هغه هم د قوم د انکار او سرتمبګی باوجود خپل کار ته ادامه ورکوله . خدای هر چا ته د هغه ور دنده ورسپارلې .
سپي دې په شپو کې غاپي او سپوږمی به وړانګې خپروي .خو سره د دې څومره چې سرکه تروشه ویډېره خوږه غواړي ، موږ ته هم ښاي چې د مغرضو حسودو منکرانو په وړاندې د نوُر خوروني ډیرې کړو .
مثنوی د حقیقت د سمندر سره مښتې دی ، هر څوک چې دې سمندر ته لاره ومومي ، نور سیندونه او نهرونه به په ګونډو کړي ؛ په ځانګړې توګه هغه سمندر چې ټولو یې ذکر آورېدلی دی .

دا جهان سر تر پایه د اضدادو ترمینځ د جګړې ډګر دی ، همهغسې چې ماران زهر شیندي او د عسل غمبسې په غرونو او ونو کې د شاتو د پاره کوډلې جوړه وي ، دین او کفر هم د تل د پاره په خپلو کې په جګړې بوخت دي . موږ ته ښاي په دې پوه شو چې له دې دنیا محوه کیدل او په حق کې بقا ، تللی سولې ته د رسېدو یوازینی لاره ده .که تضاد نه وی د خوځښت او حرکت شوق به هم نه وی . بې بریده سکون هم د مرګ سبب دی .

بيا د دنيا وجود د اضدادو دوجود سره تړاو لري او كه څوك غواړي چې له اضدادو خلاص شي ، بيا دې د ذرې او وړانګو له لارې د حقيقت د لمر سره يو ځاى شي.تر دې چې زموږ په دننه كې هم تلنې جګړه روانه ده .
د نفس او عقل ، د عقل اوعشق ترمينځ جنګ ، بيا د نورو سره بې‌ځايه جګړه مكوه په خپل دننه ني جنګ بوخت شه .
كه غواړې چې د تل دپاره د جنګونو ، تضادونو او دننه نيو جنګونو نه خلاصى ومومې ، بيا د تن موجوديت نفی كړه او فنا ته تسليم شه ، په دې توګه به حقيقت ته ورسېږې .
بې رنګې د رنګونو بنسټ دى . بې‌رنګه شه چې سوله دې په برخه شي . كه په ځان ډاډه نه يې چې دا كار كمال ته نه شي رسولى ، لږ تر لږه د وس سره سم هڅه خو وكړه . كه د معنويت تږى يې ، د مثنوى په سمسوره جزيره كې وګرځه ، بې له شكه دا ګرځېدل به دې د دننه نى او بهرنى جګړې كچه را ټيټه كړي ، سولې او بې‌رنګى ته دې نږدې كوي .
همغسې چې په آسمان كې ستورو ته د علامت او نښې په سترګه ګورپاو له هغو اغيزمن كېږو ، مثنوى چې له لكه ستورى د خداى د اوليا للهله معنويت نه نور آخلي هغه هم د خپل لاربنود په توګه ومنه او ترې كټه وآخله .دا نکلونه تمثيلونه او كليمې د ذهن هڅه ونې د پاره دي، تر دې چې عقل په خوځښت راشي . عقل د هوښيارى سره سره په دنيوي او باطنى چارو كې سست پېښى دى ، څكه چې تن او زړه ته پام نه كوي . بيا مثنوى ولوله چې د دنيوى لومو وژغورل شي .

# له واعظ نه د ساءِل پوښتنه

يو واعظ پر منبر ناست وو ، چا څنې پوښتنه وكړه چې : « يو مرغه د دېوال پر سر نا ست دى . اوس ووايه د هغه لكۍ ښه ده او كه سر يې ښه دى ؟ .»
واعظ وويل : « كه مخ يې ښار او لكى يې كلي ته وي ، بيا د هغه سر ښه دى . كه مخ يې كلي او لكى يې ښار ته وي بيا لكۍ يې ښه ده ، څكه ښار د پورتني عالم او كلى د دې دنيا نښه ده . »
مرغه د وزرو په مټ آلوزي ، خو دانسان وزرى د هغه لوړ همت دى . كوم مين چې د عشق په لاره كې زړه نا زړه او د خير او شر په څلور لاره كې حيران ولاړ وي ، د هغه همت تر شک لاندې راځي . سره له دې چې سپين باز ډېر پرتمين مرغه دي ، خو كه د موږک ښكارې وكړ بيا خوار برېښي . خو بوم چې يو شوم مرغه ګڼل كېږي كه الهى سوچ او فكر ولري ، يوه ورځ به هرو مرو د سلطان پر لاس كېښيني ، او لوړو مرتبو ته به ورسېږي . انسان چې د ختې له جنسه دى پر ځمكه ، آسمان او هر څه چې په هغه كې دي لوړه درجه او مقام لري ، تر دې چې د خداى له خوا « د كَرمنا »خطاب پرې وشو .دا په داسې حال كې پيښ شول چې آسمان او آسمان ميښتو لا تر هغه دمه داسې څه نه وو آورېدلي .
هيڅوک نه غواړي چې خپل ښايست ، پوهه ، ژبه ، هوا او هوس آسمانته وښي . تا تر اوسه داسې كړي چې خپل ښايست د آسمان مخ ته كيږدې او دا هيله ولرې چې آسمان دې دا درک كړي ؟ هيڅكله به دا سې وه نشي چې په حمام كې ځان بربنډ كړې او پر دېوال كښلو انځورونو ته خپل ښايست ور وښې . خو كه يوه نيمه ژنده بودۍ ووينې هغې ته د ښايسته ښځو پر انځورونو تر جيځ وركوې ، څكه هغه لږ تر لږه ا حساس ،عقل ، درک ، تدبير او ځان خو لري . د بودۍ پورته والى په دې كې‌دى چې (ځان ) لري او ځان همغه د خير او شر پوهه ده .
د ځان څښتن د احسان سره ښاد او د تاوان سره غمجن كېږي . له هغه ځايه چې د ځان آصلى ماهيت پوهه ده ، بيا هر څوک چې ډېره پوهه لري ، د هغه ځان هم ستر دى . روح تل له پوهې اغېز من كېږي، كله يې چې پوهه ډېره شوه بيا الهى كېږي . كله چې له ځان نه پوهه يا خبرتيا وآخيستل شي ، بيا په يوه مادى موجود بدلېږي . لمرنى څان په الهى وره كې ناست دى . په خپله دا ځان بل ځان لري كوم چې الهى مظهر دى . په خپله فرښتې چې د عقل او ځان عينې هنداره ده ، دآدم (ع) د تازه او لوړ ځان په ليدو سره ، هغه ته په تعظيم شوې . د هغوى ذې‌كمرغي انسان ته په چوپړ كې ده . شيطان څكه وشړل شوو چې هغه له دې نوي ځان نه لرې پاتې شو . د هغه ځان سره يو نشو كوم چې په حقيقت كې پوهه او په آصل كې د خداى مظهر دى . هغه لكه مات لاس چې د تن خدمت نشي كولى ، له ځانه د اطاعت جوګه نشو .

بل راز په كار دى چې د هغه د آورېدو دپاره بل غوږ ته اړ يو . هغوى چې د ظاهر بينى د فقر سره لاس او ګرېوان ندي ، كولى شي چې د دې اشعارو ژورو معناو ته ورسيږي . تر دې چې حضرت موسى(ع) له خپل خره نه هم د معرفت خواږه نه سپمول . خو څه ګټه چې د هغه په خلقت كې د بوسو خوند ايښودل شوى وو ، او د معرفت له خوږې خزانې نه چې د هغه په وړاندې ايښودل شوې وه هيڅ خبر نه وو . لاروى ته ښاي چې د خاتميت په معنى پوه شي او د انبياؤ ټول ټاكلي هدفونه د رسول الله ٠ (ص) د رسالت سره كمال ته ورسېدل . هغه (ص) د دنيا او آخرت پرانيستونكى دى .

هغه(ص) په دې نړۍ او هغه جهان کې د خلکو شفیع دی او د رسول الله (ص) غونډې ښېونکی نه وو او نه به مونده شي .
د هغه زامن هم همداسې دي . همهغسې چې د ګُل له لښتې نه ګُل او مستی له شرابو پاڅي ، د رسول الله (ص) اولاده هم همداسې ده ، دا مهمه نده چې چېرې وي . که لمر له لوېدیزه را وخیژي ، بیا هم د هغه په لمر والي کې شک کول نه ښاي . یواځې بوم صفتي دي چې د خپلو بېوسو سترګو لکبله د لمر له درک نه عاجز دي .

## د هغو ناسمو عادتونو او تعصبونو غندنه چې د ایمان

ای حسام دینه ! راشه مثنوی ته روح وبښه . هیله کوم چې ستا عمر هم لکه خضر (ع) لاس نیونکی او اوږد شي .
که بد نیتي حسدکونکي نه وی ما به ستا مقام بر بنډ کړی وی ، خو څه ګټه ما په وار وار له ناپوهو او بد نظرو د لاس غشي خوړلي . په سلهاو ځان او زړونه د پالونکي رب مینان دي ، د هغو د مینې څه ګټه ، چې تړلو سترګو او غوږونو د هغو پر مخ د معارفت او حمد لاره تړلې ده ؛ لکه ابوطالب د رسول الله(ص) تره چې د الله رسول(ص) ته به یې ویل :« که ایمان راوړم ، ماته د دین د پرېښودو پېغور را کوي او وبه واي چې ، پر هغه چا یې ایمان راوړ کوم چې ده تهلکه اولاد کشر دی .»

د هغه په ځواب کې به رسول الله (ص) ویل : « ای ابوطالبه ! که ایمان راوړې ستا په ننګه به د ټولو په وړاندې ودرېږم .» که ابو طالب ته د الله د ازلي سابقې پته وی ، هېڅکله به زړه نا زړه شوی نه وی . د انسان د زړه نا زړه توب او اختیار نه الله ته پناه وړم ، ځکه همدا د دوه لارو ترمینځ د حیران پاتې‌کېدو سبب دی. خدایه ! په نېغه لاره تلل ډېر ښه دي ، تر دې چې زړه نا زړه او متردده اوسم . سره له دې چې د دواړو لارو پایله الله ته رسېږي ، خو یوه لکه جنګ او بله مېلمستیاته ورته ده . د دوه لارو تر مینځ د یوې لارې ټاکل ، زړه نازړه کېدل او تردد ، په زړه کې جنګ ته پاتې .

## مناجات او د اختیار له فتنې نه حق ته پناه

خدایه ! تا دا ټول تردیدونه زما په زړه کې آچولي . اوس د خپلې پېرزوینې له مخې ، دا ټول زړه نازړه توب له ما لرې او د تردید له ناروغۍ نه مې وساته . ما د یوه طریقت وړ وګرځوه ، او د ډول ډول لارو نه مې وژغوره . زه هغه اوښ ته ورته شوی یم ، چې د اختیار پېټی مې یوه او بله خوا کېباسي . د اختیار دې پېټی زما شا زخمی کړې ده ، دا کوږ پېټی له ما لرې کړه ، او ما لکه اصحاب کهف په داسې درانه خوب ویده کړه چې بیا ویښېدل نه غواړم .

زه هم پېړۍ پېړۍ پخوا له زیږېدو بې اختیاره وم ، اوس هم کله نا کله هغه د بې اختیارۍ زمانې په خوب وینم . کله چې د تن له لومې خلاص شم ، بلې نړۍ ته لاره مومم . خوب لکه دایه د مستۍ او بې اختیارۍ شودې زما په خوله کې څڅوي . له همدې کبله خلک د اختیار نه د مستۍ په لور تښتي او پدې خاطر چې د یوې شېبې د پاره له هوښیارۍ نه خلاص وي ، خپل وجود د کرغېړنې مستۍ لمن ته غورځوي ، هغوی پوهېږي چې په هوښیارۍ ، اختیار او ستا په عذاب کې امن نغښتی ، بیا ځانونه په مستۍ یا ورځنیو چارو کې ډوبه وي . دا ته یې چې نفس له دې بېخبرۍ وروسته بیا بېرته بولې ، او هغه هوښیار په سد کوې ، ځکه ستا د فرمان پرته تن بېسدۍ ته سپارلی .

له فنا کېدو پرته هېڅوک ستا ورته لار نه مومي . له نېستۍ پرته عشق او سلوک نه تر لاسه کېږي . که په ظاهره مینان لا تر اوسه هم څه لرې هغه د اړتیا له مخې ده ، لکه ایاز چې یو پوهه مریی او د سلطان محمود په چوپړ کې وو ، او د ضرورت له مخې یې خپل کوڅو او پڼې ساتلې وې . سره له دې چې سلطان ته ډېر منلی وو خو د غرور او ریا پرته به ې د پاچا خدمت کاوه ، له همدې کبله د سلطان د کرم او پېر زوینې هینداره ګرځېدلی وو . ایاز له شتوالي لرې او په سلطان کې نشت شو . په هغه کې کار او خدمت ته حس او میل ، تر دې ډېر پیاوړی ووچې له وېرې دې خدمت وکړي . هغه له خپلو ټولو غوښتنو تېر او په پاک زړه سره یېپاچا ته د خدمت ملا تړلې وه ، د هغه په زړه کې د څه ګټې تمه نه وه چې هغه تر لاسه کړي ، د ریا پرته یوازې او یوازې د چوپړ په نیت راغلی وو .
دا ټولې رښیبښتینې هستۍ ، د نېستۍ نتیجه ده . په حقیقت کې د نېستۍ په کندواله کې ، یو ور دی چې د ریښتیني ژوند په لور پرانیستل کېږی . ملک و مال ، د هغو ظواهرپوړی لری چې د هغو لاسته راوړنه انسان مغروره کوي ، همدا د دې سبب ګرځي چې د آسمانونو د پراخه باغونو پر ځای د مادیاتو په کنده کې ولوېږي او همدې سره خوشحاله وي . په ښکاره دا ټولې شتمنۍ انسان ته خوشحالی وربښي ، خو پایله یې ډېره کرغېړنه او درد ناکه ده . لکه زهرلړلی مار ډېر ښکلی پوستکی لري ، پام چې و دې نه چیچي باطن یې د دوزخ اور دی .

## د مالک د لور سره د هندو مری مینه

یوه امیر هندو مریی درلود چي له ماشوم توبه يي په ناز او نعمت پاللی ، او هغه ته یي علم و هنر هم ور زده کړی وو . همدارنګه هغه یوه ښایسته لور هم درلوده . جلی پېغله شوه ، او له هرې خوا د امیر کورته جرګي راتلي او هر چا غوښتل چي د امیر د لور واده دې د هغه د زوی سره وشي . امیر پوهېده چي مال او دولت څه د عتبار شی ندی او ښایست هم له مینځه تلونکی دی . د شتمنو زامن ډېر ژر د خپلو شتمنیو سره مغروره کېږي ، پدې توګه خپلو پلارونو ته د پېغور سبب ګرځي . تر دې چي عالمان او هنرمندان هم که د بصیرت سترګي ونه لري ، د ظاهر پرته بل څه نشی لیدلی . ځکه یې د زوم په ټاکلو کې دینداری او صداقت ته ډېر پام کوه .

د همدې ټکو د پام کې نیولو سره یې ، د ټولو غوښتونکو له مینځه یو صالح زوم وټاکه . ښځو پر هغه نیوکه کوله چي دا یو بېوزلی هلک او د کوم ستر سړي زوی هم ندی . خو خواجه به ویل :« پخپله د هغه وجود یوه بې پایلې خزانه ده . » کله چي د جلی د واده خبر هره خوا خپور شو، هندو مریی د دې خبر د آورېدو سره سم ناروغه شو . هیڅوک نه پوهېدل چي د هغه ناروغي له څه ده . عاقلانو به ویل ، د هغه درد دننه نی دی او د دې جهان درمل یی درملنه نشی کولی ، او مریی هم د خپل دننه نی حال په هکله هېڅ نه ویل .

یوه ورځ امیر خپلي ښځي ته وویل ، لاړه شه او د هغه د ناروغی په هکله د هلک نه پوښتنه وکړه ، وبویل :« ته هغه ته لکه مور یی ، کېدی شي چي تا ته د خپل د زړه حال ووای. »
بله ورځ مېرمن د هغه خوني ته ولاړه او لکه یوه مهربانه مور د هغه په وېښتو کې يې لاس واهه او په خبرو یې پیل وکړ . د غلام زړه نرم شو او په خبرو راغی او وبویل :
« ما دا سوچ نه کوه چي تاسي به خپله لور یو پردي ته ورکړی . هغه یو ګستاخه پردي دی . زه ستاسو په لور مین یم . دا د خواشینی ځای دی چي زه دې له هغې بې برخي شم او هغه دې د بل چا سره واده وکړي . » مېرمن د مریي د خبرو په آورېدو سره په غصه شوه ، غوښتل یې چي هغه له بام ښکته راګذار کړي ، خو پر خپلي غصي بره شوه او هېڅ یې ونه ویل . میرمني تولله پېښه خپل خاوند ته بیان کړه او وبویل :« ما سوچ کوه چي دی یو رښتینی او د باد ور هلک دی ، اوس څرګنده شوه چي زه تېروتي وم .»
خاوند یي وویل :« لږ صبر وکړه وه به وینی چي د هغه له زړه نه زموږ د لور مینه څنګه وباسم ، داسي چي هغه ته څه تاوان پېښ نه شی ، نه سیخ وه سوځي او نه هم کباب ، ته لاړه شه ، هغه ډاډه کړه ورته ووایه چي زموږ د لور د پاره یوازې ور سړی ته یی . موږ نه پوهېدو چي ته هم د هغې غوښتونکی وې ، تر تا بل ښه زوم نشو مندلی ، زموږ د کورنی د پاره ته مناسب سړی یی ، پدې توګه به روغ او خوشحاله شي .» ښځه لږ نا کراره شوه ، نه یی غوښتل چي هندو هلک ته دروغ ووای ، خو مېړه یی ویل :
« دا کار وکړه ، مه ډارېږه هغه به روغ شي .» کله چي د کور مېرمني دا خبره د مریي سره شریکه کړه ، هغه له خوشحالی نه په خت کې نه ځایده ، په ډېر لږ وخت کې غوښن او لکه سور ګُل وغوړېد . هغه په ډېر احتیاط د خان سره وویل : « دا خبرې زما د غولولو د پاره هسې چل او داستان نه وي .؟» خواجه یوه لویه مېلمستیا جوړه او د خلکو په وړاندې یی هغه تهد زوم خطاب وکړ ، له دې کار سره غلام ډاډه او حال یې په بشپړه توګه په ښه کېدو شو .

د واده دېګي باندي شو ، له هرې خوا د ساز او آواز ږغونه پورته کېدل ، خواجه یوه بې ګیری ، غوښن ښځو ته ورته سړي ته د ناوې کالي ور واغوستل او ژر تر ژره یې د ناوې خوني ته ولېږه . څراغونه یې مړه او مطربانو ته یې وویل سازونه وږغېږه وئ او اتڼونو ته ملاوې ټینګې وتړئ . د یوځای کېدو په وخت کې سړي د زوم سته ویسته ، د ساز او اتڼونو په شور ماشور کې چا د هغه ناری نه آورېدي . تر سحاره همدا لوبه روانه وه . سحار شو خلکو زوم حمام ته بوته ، کورته د بېرته راګرځېدو سره خپلي خوني ته ولاړ .د خواجه لور ځان سینګار ، لکه ناوې د هغه خواته کښېناسته . د څه پېښېدو له وېرې د جلی مور هم په پټه د هغو ځارنه کوله . نه یي غوښتل چي غلام دې د هغې لور ته ور نږدې شي . زوم د څو شېبو د پاره په حیرانتیا سره ناوې ته کتل ، بیا لږ څه راغوند شو او د ځان سره یې وویل :
« خدای دې هېڅوک له تا سره نه یو ځای کوي . دا دې د ورځي حالت دی او هغه دې هم د شپي وضعه وه ! د ورځي لخوا ښایسته ښځه او د شپې له خوا داړونکی سړی . » له همدې کبله دنیوي نعمتونه له لرې ښه بربېښي . هغه په ښکاره ښایسته بربېښی ، پام چي مغرور دې نه کړي . دا دنیا د داني تر شا ایښي لومې ته ورته ده .

## په بیان د دې چي دا غرور یوازې د هندو د پاره نه وو

پاچاي ، وزیری او مشر توب د دنیا ښکاره شته دي ، خو د تر لاسه کولو وروسته ډېر ژر پېښېمانه کېږي ، ځکه چي په دننه کې یې مرګ پټ دی . د دې پرځای چي خپل دروند پېټی د نورو پر سټ کېږدي او پر هغوی په کبر او

غرورسره واکمني وکړي ، آدمی ته ښه ده چې ساده ژوند ته غاړه کېږدي او پرځمکه دې ورو ورو درومي . هغه څوک چې د نورو د آس سره مزل کوي ، ډېر ژر به د نقرس په ناروغی آخته شي . ای هغه کسه چې شپه او ورځ د ریاست او مشرتوب پسي ستړی او لالهانده یې ، وروسته به درته څرګنده شي چې مقام او منصب وران کلی دی ، خو تا ته لکه ودان ښار بریښي.

د الله رسول(ص) ویلي : « که د جنت غوښتونکي یاست ، د خپلو اړتیاو پوره کول له نورو نه ، بلکې له خدایه وغواړئ .» نکل کا چې یوه ورځ د صحابو یو تن پر آس سور او چېرې روان وو ، د هغه له لاس لښته ولوېده ؛ خپله له آسه کوز شو او لښته یې پورته کړه ، ځکه هغه ته په یاد ول چې دې د ورکړې او عدل له کهوله دی او هیڅ غوښتنه نه لري . الله د انسان به اړتیاو پوهېږي ، پرته له دې چې هغه څه ووای الله د انسان اړتیاوې پوره کوي . د خدای نه یوازې دا غوښتنه پکار ده چې ، هر څه چې د هغه له لوري وی هغه ښه دي . تر دې چې که پر تا د کفر پېرزوینه هم وکړي ، دا به ریښتینی ایمان وي .
که تر ټولو بد شی هم درته وړاندې کړي ، که په ذړکی سره وګوری دا به درته جوته شي چې تر ټولو ښو ښه دی . له همدې کبله که ناکراره شوې ، بې‌تابی مه کوه ، تل د هغه په لور را ګرځه، د حقیقت د تیارې شوې خزانې تل ته ځان ور ورسوه ، بیا به د ټولو اړتیاو له پېټي خلاص شې .
کله چې د یوه ښایسته صورت هوا د چا په زړه کې ځای ونیسي ، د هغه سره سم په سلهاو ستونځې او پښېمانی رامینځ ته کېږي ، بیا هم انسان عبرت نه آخلي . سره له دې چې د غله لاس غوڅېږي ، لکه هغه مور چې خپل ماشوم ته پې ورکوي ، بیا هم د غلا سره بې خرته علاقه لري .
په داسي حال کې چې انسان د دنیوی شتو د تکلیفونو د څکلو سره ، پښې‌مانه کېږی ، خو ډېر ژر خپله توبه هېره وي او د پخوانیو غوښتنو او هوس پسي ځي .

## د کُلَما اَو قدو اناراً لِلحرب آیت د تفسیرپه هکله

کله چې هغوی د جنګ لمبې بلې کړې ، الله د هغوی اور تت کړ .
یوه چا پداسي حال چې د ټینګ عزم جوګه نه وو ، د ربانی سفر نیت او د ګناه د پرېښودو هوډ وکړ . څرنګه چې په خپل هوډ کې ریښتینی نه وه ، د دې د پاره چې خپلې بې وسی ته یې پام نشي ، الله هغه ته هېرېدا ورپېښه کړه ، تر څو چې په دې پوه نشي او دایمان ډیوه یې په زړه کې تته پاتې شي .

یوه چا په نیمه شپه خپل کور کې‌د پښو ږغ واورېد ، د اور بلول ته‌ږه یې را وآخیسته چې څراغ بل کړي . غل په آسانی سره هغه ته ور نږدې شو او هر کله به چې د کور خاوند ډیوه بله کړه ، غله هم سم د لاسه هغه ډیوه تته وله . د کور خاوند فکر کوه چې په تار کې اوبه دي ، ځکه تیاره وه او هغه غل نه لیده .

د الله د منکرانو ورځ هم همداسي ده ؛ شیطان لکه غلد هغوی د زړه کورته ور دننه کېږي ، پدي توګه که د هغوی په زړه کې د ایمان لړ شانته بله رڼا وي ، هغه هم وژني . هغوی چې د جهان د ګرځونکي خدای له وجوده غافلهدي ، هسې خوشې په خوشي خانونه په عقلی مسایلو بوختوي .
په ډېرې ساده ګی سره سرې پوهېدی شي چې د ورځې او شپې د تنظیمولو د پاره خالق ته اړتیا شته ، تا کله لیدلي چې د بنا پرته کور او د خطاط پرته دې لیک شته شي ؟ .
اوس چې پوه شوې د ټولو چارو واکي د الله په قدرت کې دی ، که ناراضه یې ، که کولی شې لکه نمرود آسمان ته غشي ګذار کړه ؛ یا هم د هغه د قدرت له کړی نه وتښته ! کله چې په عدم او نېستی کې وې ، د هغه د قدرت په لاس کې وې ، اوس بیا څنګه غواړې چې له هغه وتښتې ، د نفساني غوښتنو میل هم لکه د الله نه تېښته ده ، ځکه د دغو میلو نو سره تقوا وژل کېږي . دا جهان لومې او آرزوګانې یې دانې ته ورته دي .
هر کله چې جهان ته شا کړې ،بیا به حقیقتونه ووینې او د نړی کرغېړنتوب او فساد به درته څرګند شي . کله چې د الله له محضر نه تښتیدی نشي ، بیا د هغه چوپړ ته ملا وتړه . په دې توګه به له زندانه ستر بڼ ته ور دننه شې .
یوازې له نفسه د پاملرنې په صورت کې ، الهی عدالت درکولی شو . که موږ خپلې سترګې وتړو بیا به هم لمر خپلې وړانګې خوره وي .

## د ایاز په هکله له متعصبانو د پاچا آزموینه

د ډېرې مودې راهیسې د سلطان محمود امیرانو د ایاز سره حسادت کوه ، پایله دا شوه چې یوه ورځ هغوی سلطان ته د نیوکې په توګه وویل : « ولې ایاز د دېرشو امیرانو برخه آخلي ؟ » یوه ورځ سلطان ښکار ته ولاړ ، د ځان سره یې دېرش کسه امیران هم بوتله ، د دوی په لور د لرې یو کاروان راروان وو ، پاچا د امیرانو یوه کس ته وویل لاړ شه

پوښتنه وکړه چې دا کاروان له کوم ښار نه راغلی دی ؟ .
امیر لاړ ، بېرته راغی او ویویل : « له ری نه راغلی دی .» پاچا وویل « چېرې ځي ؟ » امیر غلی شو » پاچا بل امیر ته وویل لاړ شه پوښتنه وکړه چې کاروان چېرې ځي ؟ دوهم امیر د راتګ سره سم وویل :
« یمن ته ځي . » پاچا وویل :« په پېتو کې یې څه دي ؟ .» دې امیر هم ځواب نه درلود .

پاچا دریم امیر ولېږه ، هغه وویل له هر جنسه کالي لري . پاچا وپوښت : « له ری نه کله راخوځېدلي ؟ .» دا امیر هم حیران پاتې شو او ځواب یې نه درلود . په همدې توګه دېرش واړه امیران لاړل او راغلل ، خپلې ذهنی او فکر کمزوري يې ثابتې کړې . پاچا ټولو ته مخ ور واړوه او ویویل : « ما یوه ورځ ایاز په جلا توګه وآزمایه ، هغه ته مې وویل لاړه شه له کاروانیانو وپوښته ، چې له کوم ځایه راغلي دي . کله چې بېرته راغی له تاسو ټولو پوښتل شوو سوالونو ځواب یې په یوه وار یو په یو راکړ .
امیرانو له ځانه د دفاع په ترڅ کې وویل :« ایاز ته خدای ډېره ورتیا او پوه ورکړې ، هغه ورتیاو په تر لاسه کولو کې هېڅ هڅه نده کړې.» پاچا ځواب ورکړ : « له انسانه چې څه سر وهي ، د هغه د لتې او یا هم هڅو او زیار له کبله وي ؛ کنه د کوښښ او خوځښت پرته بخت او اقبال ته به سترګې په لار وی ، چې د هغه برخه لیک وټاکي . لکه ابلیس یوې خواته مکوره چې ویل به یې : زه خدای همداسې شته او برمته کړی یم. تقدیر هم وجود لري غوښتنه او اختیار هم موجود دی ، او هغه څوک چې له دوه کارونو یو ټاکي ، له خپل عقل او اختیار نه یې کار آخیستی دی، بیا دې د خپلو کړو مسولیت ومني ، او د بېځایه پلمو سره دې د هغو ملامتیا پر نور ونه تپي ، بلکې خپل نفس دې ګرم کړي . ځکه چې انسان د خپل کړلي کښت لو کوي . »

## د هغه ښکاري نکل چې ځان یې په وښو کې پېچلی وو

یوه زیرکه مرغۍ د ورشو په سر آلوتله ، د زمکې پر سر یې دانه ولیدله . یوه ښکارې ځان په وښو پټ کړي وو او ځارنه یې کوله ، په لمړي سر کې هغه ته د مرغۍ پام نه وو شوی . ځکه یې په بیړه یې ځان دانې ته ور وه رسوه ، کله یې چې هغه ولید ، پوښتنه یې ترې وکړه چې :« ای چې زرغوني جامې دې آغوستي ، ته څوک یې او دلته د دې وحشي حیواناتو په مېنځ کې څه کوې ؟ »

ښکاري ځواب ورکړ :« زه مرګ ته متوجي شوی زاهد سړی یم ، له همدې کبله له خلکو بېل دلته ګوټ ته شوی یم او د ونو له پاڼو خواړه خورم . زه ګاونډي مرګ دلته راوستی ، یم او زما ژوند بدلون ومند ؛ پدې یوه شوم چې یوه ورځ به په یوازې توب کې ومرم ، بیا نه ښاي چې ځان نورو پورې وتړم ، دا به ښه وي چې د خدای سره عادت شم . په کلونو کلونو د انسان جسم د طبیعت او د هغه د عناصرو سره روږدی شوی ، هوسونه او مختلف افکار د هغه له روح نه را تاو شوي . روح خپل آصل هیر کړی . کله کله له څېږځلي روح او نفس نه د انسان زړه ته یوه سندره ویل کېږي چې ای ژمنه ماتونکیه! اوس دې دنیوي ملکري مونډلي او خپل پخواني یاران دې هېر کړل ؟.

سره له دې چې ماشومان د لوبو سره خوشحاله وي ، خو کله چې ماښام را ورسېږي ي بېرته خپل کورته را ستنېږي . که په لوبوخت یوه ماشوم نه غله کالي یوسي ، بیا له شرمه بېرته کورته د راګرځېدو مخه نه ویني . ما هم ځکه په دې بیدیا کې یوازې توب غوره کړلی ، او خلک راته هغه د کالو غله ښکاري . زما نیم عمر د یار د مندلو پسې تېر شوی ، او نیم نور هم د دښمنانو د لاسه په ژړا وم . کله چې لکه ماشوم په دنیوي لوبو بوخت وم ، یوه رانه خټ او بل خولی یوړله ؛ اوس چې آجل رانږدې شوی غواړم چې توبه وباسم او له غلو خپل غلا شوي کالي بېرته تر لاسه کړم .
توبه هم عجیب څیز ده ، چې په یوه شېبه انسان له تر ټولو ټیټ ځای نه تر ټولو لوړ مقام ته رسوي ، په کار خو دا ده چې د توبې سورلی هم د غلو له شره وساتو . کنه هغه هم وړي ، لکه د مړ خاوند چې غلو کالي هم ترې یوړل .
یوه سړي خپل مړ په پړی تړلی او د ځان سره یې بوته . غله په ډېر مهارت سره پړی پرې او مړ یې یوړ .

کله چې سړی پوه شو ، سترګې لالهانده د خپل مړ پسې ګرځېده . د یوې ځا پر سر یې یو کس ولید چې خپل سر او تندی وهي. د مړ خاوند ترې پوښتنه وکړه چې څه در پېښ دي ، سړي په ځواب کې وویل :« زما ټول شته همدغه د سرو زرو کسوړه وه چې رانه په ځا کې ولوېده ، که هغه را وباسی پینځمه برخه به یې تا ته در کړم . »

هغه ساده سړي د ځان سره سوچ وکړ چې ، خدای له ما یو مړ واخیست خو د هغه لس بربره پیسي یې ما ته راکړې . په ډېرې خوشحالی سره یې خپل کالي و ایستل او ځا ته ور کوز شو . دا ، کس چې همهغه د مړ غل وو کالي د ځان

سره وآخيستل او وتښتېده .

شيطان هم هغه غل دی ، د سړي په سر کې ډېرې فتنې خلقوي چې ، يوازې خدای په هغو پوهېږي او بس . بيا خدای ته پناه يوسی ، تر څو چې د فتنو له شره وژغورل شئ .
د ښکاري او مرغه پاتې نکل :

مرغۍ سړي ته وويل چې :
« د الله رسول(ص) موږ په ګوټ کې له ناستي او عزلت منعه کړي يو ، ته د دې عمل سره د هغه (ص) له خبرو سر غړونه کوې . ته نه پوهېږې چې په اسلام کې د جمعې په لمانځه ، امر په معروف ، نهي له منکرو ، زغم صبر او دنورو سره په مرستې څومره تاکيد شوی ؟ . بيا سنتو ته تسليم شه آو د رسول (ص) امر ومنهلاږه شه د خلکو تر مينځ او د هغوی سره يو ځای ژوند وکړه .
ښکاري وويل :« څوک چې عقل نلري لوټې او کاڼې ته ورته دي ، او هغه څوک چې يوازې د خوړو ځېتې پسې وي ، لکه خر دی .هغوی د خدای د لارې په خلاف روان دي ، ښه به داوي چې هغوی په مړو وشمېږو . دا سمه ده چې رهبانيت او يوازېتوب روا نده ، خو د دې مړ زړو خلکو سره اوسېدل هم جايز ندي . له کاڼو او لوټو انسان ته تاوان نه رسېږي ، خو دا قوم هره شېبه زما په وجود نوی تپ لګوي . » مرغۍ وويل :« جهاد او مبارزه هله پېښېږي چې ته د د ې خلکو تر مينځ يې ، زمري صفته خلک همدې دښمنانو سره د جنګ ډګر ته درومي . زموږ رسول(ص) د تورې خاوند وو ، او دهغه ياران هم لکه زمري زره ور ول .زموږ د دين مصليحت په مبارزې کې دی . »

ښکاري ځواب ور کړ چې :« هو ! که سړی په ځان کې د مقابلې وس ووينې آو کنه له دې خلکو لرې والی ښه دی »
مرغۍ وويل :« که په خپل کار کې رښتينی يې ، بې له مرستندوې او يار نه پاتې کېږې . که ته رښتينی يار يې ، سل ياره به وموسې . که وری له رمې لرې او يوازې پاتې شي ، د لېوهپه منګولو کې به ولوېږي .

زموږ سنت دا دی چې د مصيبتونو ، شر، بلاو او آزموينو ډکه لار کې ملګری ولرو ، څکه له ملګري پرته د ستونځو سره مخ کېږو . که خطر هم درته پېښ نشي ، په يوازې توب کې به خسا او خوانيولی شې . د دوستانو سره سفر ، مساپری ته خوند ور ښښي . له يار نه زما موخه هغه کس ندی چې تا سره د دې پاره ملګرتيا کوي، تر څو چې تا په ستونځمنو پېچومو کېيوازې وموسې ، او هر څه درنه لوټ کړي . »

د الله آستازو هم د معجزو سره ياران او منونکي را غونډ کړل . د يوه دېوال سره کوټه نه جوړېږي . که قلم او پاڼه نه وي هېڅ عدد نه ليکل کېږي . خدای هم د ټولنې د جوړولو د پاره له هر جنسه جوړه شته کړل .هغو دواړو په ساعتونوبحث وکړ ، که د هغو ټولې کړې خبرې و وايم، مثنوی اوږدېږي . په آخره کې مرغۍ پوښتنه وکړه چې :« دا غنم د چا دي ؟ »

ښکاري وويل : « دا ديوه يتيم آمانت دی ، چې د ساتنې د پاره يې ماته سپارلي او د يتيم د مال خوړل لکه د مردارو خوراک دی .»
مرغۍ وويل :« اوس چې زه بېوسې او زهيره شوی يم د مردارو خوړل هم راته حلال دي ، که اجازه راکړې دا به وخورم . »

ښکاري وويل :« که بېوسي او اړهيې ، دا وخوره ، وروسته بيا کفاره ادا کړه.»
ولږې ترې اختيار يوړ ، مرغۍ سرکوز کړ . د خوړو سره سمه په لومه کې ومښته ، هغې ډېرې زارۍ او د مرستې غوښتنه کوله . بې ځايه آسوېليو هېڅ ګټه ور ونه رسوله . هغې تا په کار دا وو ،چې د هوس د را توکېدو سره سم يې د شيطان نه وی منلې ، او له خدايه وېرېدلې وی ، او دانه يې نه وی خوړلې . له مښتو وروسته د افسوس او زاريو څه ګټه ؟ای ځارونکيه! مخکې تر دې چې غله پر کاروان بريد وکړې ، ډول وړغوه چې ګټه وکړې .

## د هغه ځارونکي نکل

د کاروان ساتونکی ويده شوی وو ، غلو پر کاروان يرغل وکړ ، هر څه يې د ځان سره يوړل . کاروونيان چې را ويښ شول ، خپل مالونه او اوښان يې ونه ليدل . بيا يې له ساتونکي پوښتنه وکړه او هغه وويل چې :« تېره شپهمخ پټو

غلو پر کاروان تېرى وکړ او هر څه يې له ځانه سره يوړل . » کاروانيانو وويل :« بيا ته دلته د څه د پاره يې ، چې هېڅ دې ونکړه ؟ .»

ساتونکي وويل چې :« د هغوى شمېر ډېر وو او زه يوازې ، چاړه يې زما پر ستوني کېښوده او وېويل ، که دې ږغ پورته کړ مړ به دې کړو ځکه ما د ځان له وېرې څه ونکړه او غلى پاتې شوم . اوس کولى شم چې چېغې ووهم ، فال، ووينم او ډول وږغوم او ستاسو د مال څارنه وکړم . » کاروانيانو وويل :« اوس يې چې هر څه يوړه ، ستا چيغو به موږ ته څه ګټه را ورسوي ؟ . » کله دې چې ټول عمر په پرده څيرلو او ګناه کې تېر شوى وي ، بيا فاتحه لولل او ببنه غوښتنه هېڅ معنى نه لري . سره له دې که اوس هم توبه وباسې ، دا به تر دې ښه وي چې په غفلت کې مړ شې . په هر وخت کې چې بنده توبه وباسي ، الله د هغه توبه قبلوي ، چې له دې سره به د الله قدرت ته هېڅ تاوان ونه رسېږي .

بيا د هغې زيرکې مرغۍ او ښکار نکلته را ګرځو :

مېښتې مرغۍ وويل :« دا د هغه کس سزا ده چې ، په زاهدانو پورې زړه تړي او د يتيمانو مال خوري .» . مرغۍ داسې آسويلي او کوکارې وهلې چې د لومې او زاهد زړه پرې وسو . مرغۍ وويل :« دې غولونکي زړه په لومه کې ومښلولم . خدايه ! راشه زما پر سر د محبت لاس کېږده ! خپل سيورى له ما مسپموه چې د نا کرارۍ پسې ناکراره يم . ستا د پاره خوب زما له سترګو تښتېدلى ، تر دې که د ببنې وړ هم نه يم ، که د يوه غمجن پوښتنه وکړې ستا به هېڅ کم نشي .

خدايه ! تا د خپلې پېرزوينه له مخې ، د بې ارزښته عدم نه د احساس لس ګوهرونو شته کړه ، چې پينځه ظاهري او پينځه هم باطنى دي ، که هغه نه وي بيا انسان هم مري . که موږ ته د محبت په سترګه ونه ګورې ، زموږ توبې هم څه ارزښت نلري .اى هغه ذاته ، چې ستا ياد زما ژوند وران کړى ، زه څنګه سندرې وبولم او نارې ووهم ، پداسې حال کې چې ستا مينه مې زړه کېباسي .؟ کله چې له تا پرته ژوندى پاتېکېدى نشم ، بيا څنګه وتښتم .؟ زما پر مخ د وصل لارې تړلې دي . زما حالت ګوډې اوسۍ او هغه مټور زمري ته ورته دى . د دې زمري پر وړاندې له تسليمودو پرته بله لار نه لرو . هغه خوراک او خوب نه لرې ، د دې د پاره چې ده ته ورته وي او د ده په لور بېرته وګرځي ، روح يې هم همداسې شته کړى . پشو پدې پوهېږي چې په سوري کې غذا شته ، ځکه د سوري مخ ته ناست وي . بل بيا د مرغۍ پسې د دېوال سر ته ځېږي . يو تل پر لمانځه ولاړ وي بل بيا د خپل کار او مال پسې ستړى او لالهانده دى .کوم کسان چې سر ښندونکي دي او د هغه د پاره له هر څه تېر شوي ، بې له شکه چې رېښتينى کار يې مندلى . نور لکه ماشومان ويده او په لوبو بوخت دي ، پدې توګه که يوه شېبه هم له خوبه راويښ شي ، شيطان لکه مهربانه دايه د هغو په غوږونو کې د للو للو بدله بولي . که

## د هغه مين نکل چې هر شپه به د معشوق
## د وعدې په هيله راته

ډېر پخوا يوه رښتينى مين ژوند کوه چې ، معشوق ته د رسېدو د پاره يې هر کار ته ملا تړلې وه . دى لا سترګې په لار وو ، چې د معشوق لخوا ورته خبر راغى چې ، پلاني کورته راشه ما همهغه ستا د خوښې خواړه پاخه کړي .

سړي د خوشحالۍ له کبله قربانى او خيرات خلکو ته ورکړ ، او تمامه شپه د وصال په تمه په هغه کور کې ناست وو . نيمه شپه وه چې معشوق له وره را دننه شوه ، سړى ويده شوى وو . د مين لستونى يې پرې او څو غوزان يې هم د هغه په جوب کې واچولې ولاړ . ګهيز شو مين له خوبه راپاڅېد ، خپل پرې لستونى او غوزان يې وليدل . د ډېرې خواشينۍ سره يې وويل :« زما معشوق خپله ژمنه پوره کړه ، دا بلا ما پر خپل ځان راوستې . زما ټيټ همت خپل کار وکړ ، زه د دې غم په هکله څه ووايم ، که هرڅه ووايم بيا به هم کم وي . ماته د عشق نکلونه مه وايئ ، ځکه نور نه غواړم چې د بېلتون په هکله څه واورم . زه يې يو وار وآزمايلم ، څنګه د بل آزمايښت غوښتنه وکړم ؟.»

د عشق د لارې په هر څه کې لېونتوب دى ، راشه پښې مې و تړه ، د عقل زنځير مې شليدلى ، لېونى شوى يم ! که د معشوق له وېښتو پرته بل هر څه راوړې هغه به وشلوم . اوس د دې وخت را رسېدلى چې هر څه پرېږدم سر تر پايه روح او ځان شم . تا د خپل افسون سره په درانه خوب ويده کړى وم ، ته د عالم تر ټولو سخت زړه يار يې ، د هر څه اراده ستا په لاس کې ده . اوس به په مينه کې وسوځم ، صبر به وکړم تر هغو چې ستا وړ وګرځم . د سوځېدو سره د مين قدر ډېرېږي ، له دې وروسته به لکه شمعه ، چې سوځېدو سره روښانه وي، د سوځېدلو هڅه کوم .نن شپه مه ويده کېږه ، د ويښو کوڅې ته لاړ شه ، هلته ډېر مينان ستا د مينې په اور کې سوځي او عشق لکه نه ليدونکى ښامار عقل په بده وهي . کله چې عقل له عشقه خبر شي ، له ځانه نا خبره کېږي ، ټول علتونه د سببونه سره لرې غورځوي .

اى ظاهر پالونکيه ، حيله کونکيه ! له دې نه پوهېږم ، لاس پر سر شه او د ژوند په جهان کې قدم کېږده ، بيا به په ټولو نه پوهېږمو پوه شي . پر خپله مينه او مستۍ مه نازېږه ، ځکه دلته د هرې کوڅې په سر کې يو مست ولاړ دى

. که ټول جهان له مستو عاشقانو ډک هم شي ، ټول میئنان یو دي او په هغو کې یو هم وړوکی او خوار ندی . که ټوله نړۍ له میئنانو ډکه هم شي، د هغوی هر یو لکه د لمر وړانګې ښکلي او قیمتي دي . که د عشق شڼ پر عقل ډه ډه ولګوي ، بیا به ورته د نیوهېږم تکلیف پېښ شي .

د خبرو په منطق کې ، نفی د اثبات د پاره کاره وي . ته له شتوالي او ثبات سره پیل وکړه ، او نېستی پر خپل حال پرېږده . هستی ولمانځه ! دا کار له هغه مست ترک نه زده کړه .

## د ترکي امیر غوښتنه

یوه ترکي امیر شراب څښلي وو . د مستی په حالت کې یې مطرب ته وویل ساز وغږه وه ، ځکه ساز مستی ته لا زور وربښي . د مطرب د نغموسره امیر لا پسې مست شو .
د حقیقت شراب انسان د ځان د مطرب په لور بیاي ، پدې توګه د تن شراب د مطرب سره ملګرتیا کوي

د هغو دواړو نوم یو دی ، خو د یوه بل سره ډېر توپیر لري . په ژبه کې لفظی تېروتني ډېرې دي ، ځکه خو لفظی ورته والی غولونکی وي ؛ لکه کافر او مومین چې د تن په لړلو سره ورته دي .
جسمونه لکه سر تړلي منګي دي ، که غواړې چې د هغو په مینځ کې له شته شي خبر شي ، بیا هڅه وکړه چې د منګي تل ووینې . لفظ ته هم د هغه جسم په سترګه وګوره چې معنی یې په دننه کې پټه ده . د تن سترګې ، ظاهر وینیاو د زړه سترګې د جهاني اسرارو ننداره کوي . مثنوی هم په ظاهره یو شمېړ بې ارزښته لفظونه لري چې ، په حقیقت کې د معنویت لاربښونه کوي . الله فرمآیلي :« قرآن د ځینو ډلو زړونو ته لاربښونه کوي ، خو ځیني بیا ناڅمو او کږو لارو ته بیاي . » په خدای مې دې قسم وي ، کله چې عارف واي ، هر څه ورته ښکاري آو چا چې شیطاني شراب څکلي وي هېڅکله هم نه پوهېږي چې د حقیقت شراب څنګه دي . د حقیقت شڼ مستان د مطرب د غږ سره خوشحاله کېږي ، ځکه خو د اختیار واګې د هغو له لاسه اوځي . د عشق مطرب هغوی مې څښلو او بېسدی ته بولي . غوږ هغه آوري کوم چې عقل د هغه پسې وی ، وروسته بیا دواړه بېسده کېږي ، په دې توګه شته شوی او شته کونکی دواړه سره یو کېږي . کله چې ښادي او درد سره یو شول ، ټول وحدت ته ورسېدل او یو والی یې په برخه شو ، مطرب په داسې حال کې چې خوبولی وو د یوه شعر په ویلو پیل وکړ .

## د حضرت مصطفی(ص) کور ته د ضریر دننه کیدل

یو ړوند د رسول الله(ص) کورته د دننه کېدو سره سمد لاسه ویل :« ای زړونو ته تودښ ورکونکیه ! ای د اوبو امیره ! زه تږی یم . ای ساقی ! ما سره مرسته وکړه . » کله چې ړوند کوټې ته را دننه شو . د دې د پاره چې ځان پټ کړي ، عایشه په ډېره بیړه له کوټې ووته . دا ځکه چې هغې څېځلي میرمن ته د رسول الله (ص) د غیرت پته وه .

کوم کس چې ښایسته او نازولی وي ، ډېر ژر نور په غیرت راولي . زړې کوندې پر خپل بدرنګ توب پوهېږي ، ځکه خپل اهمیت د لاسه ورکوي . خو د رسول الله (ص) ښایست چې د الهی فضل سره د دواړو جهانو سردار دی ، د لمر حسادتهم را پاره وي . هغه (ص) واي :
« زما د وجود نُور د ووم آسمان نه هم تېر سوی ، زه ستورو ته وایم چې راشئ ، زما د نُور په وړانګو کې نشت شئ ، کنه زما د وجود د نُور په وړاندې به رسوا شی .د دې د پاره چې تاسې لکه بمان وآلوزئ ، او د خپلو وزرونو ننداره وړاندې کړی ، زه هره شپه پټېږم ، تر څو چې مست او په سد شی . ستاسو د غوږ تاوه ولو د پاره ګهیز بیا ځلېږم ، تر څو چې ستاسو غرور مو هلاک نکړي . »
لنده داچې د الله رسول(ص) غوښتل چې د عایشې د پټېدو په څرنګه والي ځان پوه کړي هغې ته وویل :« دا سړی ړوند دی ، تا نه ویني ، بیا د څه د پاره پټېږې ؟
عایشې د لاس په اشارې سره وویل :« که هغه ړوند دی ، زه خو هغه وینم . »
سره له دې چې روح ډېر پټ دی ، بیا هم عقل د هغه سره حسادت کوي. د روح څرګند والی د هغه د پټوالي سبب دی او د نُور ظهور یې وجود پټوي ، لکه حقتعالی چې د ډېر څرګندوالي له کبله نه ښکاري . د خپل حقیقي معشوق په هکله مې داسې غیرت مندلی ، تر دې چې غواړم هغه له خپل ځان نه هم پټ کړم ، د خپلو سترګو او غوږونو سره په جنګ یم او خپل ځان سره وایم ، دا به ښه وي چې خوله وتړم او ذکر یې هم ونکړم ؛ خو له دې وېرېږم چې هغه معنوی لمر پردې بېرته او له بلې خوا خپل مخ مشتاقانو ته څرګند کړي .په چپتیا کې ډېرې خبرې څرګندې وي، ځکه چې چوپتیا د آورېدلو میل زیاته وي او خبرې کول لکه د حق د تجلی ور تړل دي. د دې ځلانده لمر په وړاندې دلیل ویل

بېځایه هڅه ده . د ترکي امیر د دربار مطرب د ساز سره داسې پیل وکړ . : ته ګُل یې ، سرو یې ، سوسن ، که کب نه پوهېږم ـــ له دې زړه ماتې څخه څه غوارې نه پوهېږم .
د شعر مضمون له نېوهېږم نه ډک وو . پاچا د ډېرو نېوهېږم آورېدو سره په غصه شو او وېویل :« بس ده دا نه پوهېږم ویل ، په کوم څه چې پوهېږې هغه ووایه ! زما حوصله دې سر ته ورسوله ، که نپوهېږې بیا ډېرې غلطی هم مکوه ، او سندرې هم مه وایه . دا دې ته ورته دي چې زه له تا پوښتنه وکړم ، له کوم ځای یې ، او ته بیا ووایې چې نه له بلخ و نه له هرات ، نه له بغداد او موصل ، دا خو ځواب نشو . خبرې لنډې کړه چې مطلب ته ورسېږو ، د کولمو دا اوږد والی او لوبې د څه د پاره دي ؟ . »
مطرب وویل : « زه له دې کاره یوه پټه موخه لرم .زه یې نفی کوم ،تر څو چې ته د اثبات بوی محسوس کړې ، د دې د پاره چې د ژوند معنی درته جوته شي ، زما کار مرګ ته ورته دی . »

## د رسول الله (ص) د دې حدیث د تفسیر په هکله چې واي: مُوتوا قَبلَ تمَوُ تُوا

د ټولو هڅو سره سره بیا هم ډېر نا سپړلي رازونه درته پاتې دي ، دا ځکه چې تا فنا او مرګ درک کړی ندی ، کوم څه چې د حقایقو د تر لاسه کولو آصل دی ، تر هغو چې مړ نشي کمال ته به ونه رسېږې .
که د سلو پوړیو یا زینې دوه ستنې نه وي ، بیا هم انسان د بام سر ته ختلی نشي . دا ځکه ، کله چې مرګ را ورسېږي ، هر څه په ځان کې حلوي ، هله به د حقیقت په سمندر کې ډوب شې ، پدې توګه به بیا لکه لمر سر له دې سمندره را وباسې . تر هغو پورې چې ته په خپل ستورو ته ورته وجود نازېږې ، د حقیقت لمر پر تا نه ځلېږي .

مطرب خپلې خبرې داسې وغزولې : « کرز را واخله خپل سر پرې ووهه ، چې غرور دې مات شي ، ځکه چې له همدې سببه ستا غوږونه کانه شوي او نصیحت نه آوري .تا خپل انځور زما د صورت په هناره کې لیدلی ، اوس دې د خپل ځان د وژلو پسې راخیستی ده ، لکه هغه زمری چې په څا کې خپل انځور ورته د ښمن په څېر برېښېده . د نشتوالي نفی ، شتوالی دی ، د یوه شي له ضد نه د هغه شي په هکلهږ څه معلومات تر لاسه کېدی شي . ښه به دا وي چې تر حقیقی مرګ وړاندې ومرو ،بیا هله کولی شو چې د حق د وجود په هکله لږ څه درک کړو . له دې نه زما موخه ، ګور ته تلل او جسمانی مرګ ندی ، بلکې غوارم نور او حکمت ته ورسېږې. لکه سره زر ، کله چې له خاورې شته شي ، بیا د هغه خاورین توب په سترګو نه لیدل کیږي .»

حضرت محمد(ص) پدې هکله فرمایلي :«که غوارې چې ژوندی مړی ووینې ، هغو کسانو ته وګوره کوم چې د ټولو خلکو په څېر پر خاورو ګرځي ، خو ځانونه یې آسمان ته آلوتي او هلته ژوند کوي . په آخرت کې د هغو له روح نه پوښتنه نه کېږي ، ځکه مخکې تر مرګه یې ځوابونه ویلي . د اختیاري مرګ سره دې پوښتنو ته ځواب ویلی شو ، نه د عقل په وسیله . » د معمولي خلکو د خبرو سره دا خبرې ستر توپیر لري، لکه له یوې مرتبې نه بل مقام ته تک . که غوارې چې داسې کس ووینې ، وګوره چې د حضرت محمد(ص) په وجود کې دا قیامت سل واري پېښ او په ایمان کې ډوب شوی وو .
چا د حضرت رسول اکرم (ص) نه د قیامتپه هکله پوښتنه وکړه، هغه(ص) د حال په ژبه وویل :« دا کېدی چې څوک دې په قیامت کې د قیامت په هکله پوښتنه وکړي ؟ » دا همهغه تر مرګ مخکې د مړه کېدو راز دی . حضرت محمد (ص) مخکې تر دې چې د هغه تن ومرې ، مړ وو ، ځکه خو له بل جهان نه خبر وو . بنا پر دې تر څو چې ونمرې ، قیامت نشي لیدلی . د هر شي لیدل ځان ته شرط لري ؛ تر هغو چې په یوه شي بدل نشې ، په مکمله توګه هغه شی درکولی نشې ، دا که نُور وي یا رنا . کله چې عاقل شې د عقل په کمال پوهېږې او د مینې معنی هله درکولی شې چې مین شې .
بشر د ژوند په هره شېبه کې د مرینې په حال کې دی . د ژوند دهرې ثاني په تېرېدو سره ، هغه ثانیه دې له لاسه ووځي او ستا د پاره هغه زمانه مړه ده ، په حقیقت کې په هغه زمانه کې ته مړ شوی یې !
خلک د مرګ په وخت کې خپلو زامنو ته نصیحت کوي ، کېدی شي چې هغوی عبرت وآخلي ، د کرکې او انتقام پسې ونه ګرځي . ته هم خپلوانو ته په همدې نیت ووګوره ، کېدی شي چې د هغو په ځانکندن دې زړه وسوځي . د ځلکدن او تک هغو شېبو ته وګوره ، د سترګو له وړاندې تولې پردې لرې او د هغو د بېوسی ننداره وکړه . درک یا یوه معجزه زیږوي. بېوسې له تا راتاوه زنځیر دی ، هغه وشلوه . د الله وره ته په زاریو شه ، ووایه :« خدایه په څه وجهي ترلی ، مبتلی او په ګناهونو لړلی یم . که ماته په قهر یې ، بیا نشت کېږم . زه کوڼ وم ستا نصیحتونو ته مې غوږ نه نیوه . »

د کار او ژوند له فکره د مرګ یاد ډېر واجب دی ، ځکه مرګ لکه د مني باد او ته د هستۍ په ونه پاڼه ته ورته یې . کلونه کلونه کېږي چې مرګ خپل ډول ږغږي ، خو ستا غوږونه د هغه ږغ نه آوري . په ورستیو شېبو کې مرګ ځان در ښي ، ته به د هغه په اسرارو پوه شې .

## دهغه غافل تشبیه چې خپل عمر یې ضایع کړ ... د حلب میشتي شیعه ماتم

د حلب میشتو شیعه ګانو یوه ستره ډله ، هر کال د انطاکیې دروازې ته د تلو سره د عاشورا ورځ چې د حضرت محمد(ص) د مسي د کورنۍ حضرت حسین(ض) د شهادت د ماتم ورځ لمانځي . د ژړا او آسویلو سره د شمیر او یزید ظلم غندي او د امام حسین مظلوم توب یاده وي . یوه ورځ یو مسافر شاعر له هغه ځایه تېرېده ، چې ناري سورې او د سوو آسویلو ږغ یې وآورېد ، هغه د پوښتنو کېګنو په ترڅ کې هغه لور ته ولاړ .

هغه ویل « کېدی شي دا خلک د کوم ستر سړي له پاره دلته راغونډ شوي دي . چا ته یې وویل ما ته د هغه مړ سړي القاب او نوم و ښاي ، چې د هغه پاره یوه مرثیه ولیکم او پدې توګه به ښې پیسې تر لاسه کړم . »

د هغه ځای یوه اوسېدونکي وویل : « ته لېونی یې ، یا خو شیعهنه یې ! د پېړیو پېړیو راهیسېخلک د دا ویر ورځ په ډېر برم سرهلمانځي . د مومنانو له نظره دا غم وړوکی غم ندی ، دا د عشق غم دی . »

شاعر په پسخند سره حلب مېشتو شیعه ګانو ته وویل : « اوس خو د یزید زمانه نده ، دا مصیبت ډېر پخوا پېښ شوی ، تاسې ډېر وروسته خبر شوي یاست . که تر اوسه ویده وئ ؟ چې نن ګرېوانونه شلوی . ولاړ شئ د ځان د پاره ماتم وکړئ ، چې ستاسې دا غفات ناڅاپي مرګ ته ورته دی . دا شهادت هغوی ته لکه د قفس او بند نه د روح وتل او آزادي ده . هغوی زنځیرونه شلولي او د الهی حرم په لور و لاړل . که په خیر سره وګورې نن د هغوی د سلطنت ورځ ده ، ولاړ شه پر خپل حال وژاړه چې د آخرت او جزا ورځ نه مني . تا ته ښاي د خپل وران دین او زړه ویر وکړې چې د دې نه پاېدونکېخاورې پرته بل څه نه ویني . که د دې خاورین عالم برمته نه یې بیا زړه ورتیا او مېړنتوب دې چېرې دی .؟ ولې سربښندونکی او بې نیازه نه یې ، په مخکې دې د دین او ایمان هېڅ نښنه نه لیدل کېږي ؟ »څوک چې سین ووینې د هغه ځک هم وینې ، څوک چې د اوبو لښتی ولرې اوبه له چا نه سپموي ، په ځانګړې توګه که یوه شي چې سین هم شته دی .

## د هغه حریص تمثیل چې د حق رازقی نه وینې

مېږی چې د درمن له شتوالي خبر ندي ، د یوې دانې د لاسته راوړو د پاره یې لاس او ښپې لړزېږي ؛ هغه ګڼ نور نعمتونه نه وینې ، یوه دانه په ډېر حرص او وارخطايی سره تښتوی . د درمن خاوند مږی ته وای : « دومره وړوکی یې چې د غنمو درمن نه وینې او د یوې دانې پورې مښتې یې . سترګې وغړوه ، خپله شا او خوا وګوره . »

د آدمی حقیقت د هغه په لیدنه او معرفت کې وي نور پاتي غوښه ، هډوکي او پوستکی دی . پوهه او نظر تر نورو تولو جسمانی حساب او کتابونو پورته او د ډاډ وړ دی . له همدې کبله موږ په دې باور یو چې د یوه منګي اوبو د یوه څاڅکي سره غر ډوبولی شو ، هغه ځکه چې سینونو ته لار لري . کله چې انسان د حقیقت د سمندر سره اړیکه ولري د هغه د پاره هېڅ ناممکن شتون نلري . منګی د جیحون سره چې تر رود ستر دی برابري کوي .
له همدې کبله څه چې رسول الله (ص) واي هغه د خدای وینا ده . حضرت رسول اکرم(ص) د حقیقت د سمندر سره چې همهغه د خدای وجود دی یو شوی ، ځکه کولی شي د سین ګوهرونهو ښي . کله چې د سمندر د ګوهرونو وجود زموږ د رسول د وجود سره تړاو لري ، بېځایه به نه وي که ووایو چې سین یې په یوه کب کې ځای په ځای کړی .

د سر سترګې ټول حقیقت لیدلی نشي ، خو د بصیرت سترګې د هر څه سر چینه وینې او پرې پوهېږي . د آشیاو تر مینځ د غبرګ لیدلو احساس زموږ د لیدلو د کمزورتیا له کبله وي ، کنه د اول ، آخر ، خالق او مخلوق ترمینځبیل والی په کار ندی . د یوالی دلیل همهغه د آخرت پر ورځ را پاڅیدل او د حشر ورځ ده . دا به ښه وي چې د حشر د ورځې د خبرو کولو پر ځای خپله آخرت ته پام واړو .
د آخرت د ورځې د خوشحال تیا شرط ، په دې دنیا نشت او مړه کېدل دي . ځکه راپاڅېدل د مړو سره معنی مومي . د دنیا ډېر خلک د نېستۍ له وېرې هستۍ ته پناه وړي ، خو دوی تېر وتي دي ؛ ځکه علم د علم د پرېښودو سره لاس ته راځي ، سلامتي د سلامتۍ د پرېښودو او هستۍ له نېستۍ نه زیږي . همهغه سې چې زموږ وجود هم د عدم نه

را مینځته شوی . په حقیقت کې هغه لیدل چې نېستيویني ، حقیقي هستی ته یې پام کېږي . په حقیقت کې همدا پوهه او لید لور دی چې وجود لري . بیا ویلی شو چې د نېستی ذات دی چې په هستی پوهېږي. که زموږ سترګې د حقیقي رڼا سره روښانه شي ، دا منظم او روغ جهان ورته په قیامت بدلېږي . که دا حقیقتونه چاته نه ښکاري او درکولی یې نښي دا دهغه د اومه توب او نامحرمی له کبله دی .

سره له دې چې د خدای ورکړه او سخا هېڅ پای نلري ، خو بیا هم پر دوزخیانو جنت او د هغه نعمتونه حرام دي . د سوداګرو د پاره هم همداسې دی . که آخیستونکی نه وي ، بیا خرڅونکی هم هیځ معنی نلري ، هغه کس چې یوازې کتل کوي آخیستونکی ندی ، هغه که د جنس د قیمت پوښتنه هم کوي دا کار یواز د شوخی او وخت تېرولو د پاره کوي . د جنس په هکله سلواره پوښتنه کوي خو بیا یې بېرته پرخپل ځای ږدي ، ځکه چې د آخیستو د پاره پیسی نلري . د دنیا په بازار کې دولت همهغه د زرو سکې دي ، چې پرې معامله کولی شي ، خو کوم څه چې په آخرت کې په کارېږي ،عشق ، ځان کم ګڼل او او دوه اوښکې تویه ونکې سترګې دي .

څوک چې بې له پیسو بازار ته ځي یوازې خپل وخت ضایع کوي . په حقیقت کې د هعه شتمني هېڅ ده . که غواړي چې خرڅونکي خپل ښه مال په تا خرڅ کړي ، بیا رښتینی آخیستونکی شه .

که موږ رښیتني پلورونکي یو ، بیا هم موږ ته ښاي چې لالهانده پېرېدونکی ته حقیقي متاع وړاندې کړو . موږ ته په کار ده چې په خپله لار ښونه ټینګ و درېږو . په دې توګه به زموږ روح صیقل شي . لکه نوح(ع) چې د خپل قوم د بې پامی سره یې هغوی ته بلنه ورکوله ، موږ ته په کار ده چې د معروف په امر او نهی له منکرو باندې ټینګ و درېږو او دا ټول کارون د خدای د پاره سرته ورسو. د خلکو منل او نه منل هېڅ کره د خدای خدمت ته ملا وتړه .

## د هغه مطرب نکل چې د یوه تش کور په وره یې ساز ږغاوه

مطرب د ښار د یوه مشر د کور وره ته ولاړ وو ، او د ګهیز محال نغمه یې ږغوله ، ګاونډي هغه ته وویل : « ای بېوزلیه ! لمړی دا چې سحر نه بلکي نیمه شپه ده ، پداسې حال کې چې ستا نغمه د نیمې شپې ده ، دویم په کور کې له ارواحو پرته بل څوک نشته چې ستا ږغ وآوري ، بیا د څه د پاره ساز ږغوې ؟» مطرب وویل : « اوس زما ځواب وآوره چې حیرانتیا دې لرې شي .

لمړی دا چې که دا شېبه ستا د پاره نیمه شپه ده ، خو زما د پاره بیا د ښادی روڼ سحر دی ، هره شپه ماته همداسې وي . کېدی شي چې ستا په نظر په نیل کې ویني بهېږي ، خو زه اوبه وینم . ستا په نظر به غلې شکه بېځانه او بې حسه وي ، خو د حضرت محمد(ص) په نظر کې هغه یوه روښانه لار ښونکي او وینا کونکي وي . د خلکو په نظر کې د نړی اجزاوې بېځانه او مړه ښکاري ، خو د بصیر خدای په وړاندې هغه پوه او فرمان وړونکي دي .

دویم دا تا وویل چې په کور کې څوک نشته بیا څله ډول وهې .؟ ته نه وینې چې د خدای میړان کعبې ته د ورتګ په لاره کې څومره ستونځې ګالي او د خپل سر او مال نه تیرېږي ، تا تر اوسه آورېدلي دي چې چا هغو ته ویلي ، هلته خو څوک نشته بیا څله ځئ ؟ هغوی د رب په مینه شڼ او د دوست کور ورته ډک ښکاري .

داسې ډېرې مانی دي چې د ظاهر لیدونکو په نظر له ګڼي ګوڼي ډک ښکاري ، په داسې حال کې چې د روڼ بصیرت خاوندانو ته تش بربېښي . خدای خلکو او د هغو لیدو ته اړ ندی ، بلکې خلک هغه ته محتاجه دي ، خو هېڅکله نه واي چې زموږ لبیک ویل څه ګټه نلري ، بلکي د همدغو لبیک ویلو سره هره سا د رب له خوا ږغونه آوري . زه هم دا احساس کوم چې دا مېنه د ځان حجره او خاوره یې آرزښت ناکه ده .

بیا د وجود دا بې ارزښته مس د زیر او بم په ترنم کې څرګند او هغه کیمیا ګر ته سپارم .، کېدی شي چې د دې ډول د ږغ سره د رحمت سمندر څپاند او زما مس په زرو بدل کړي . یو شمیر خلک د جنګ په لیکو کې شهید ، د بلاو او ستونځو په وړاندې صبر ته مخه کوي ، او زه د خدای په هیله د دې وره مخې ته ډول وهم .

زما د زړه تر تولو ښه پېرېدونکی زما رب دی چې ډېره ګټه را رسوي . ځکه چې زما سوړ او فاني جسم آخلي او له شمیره وتلي شتمني راکوي .

هغه دی چې دا بې ارزښته اوښکې‌ه په کوثر بدلوي . اوس ته هم راشه په دې تود بازار کې خپل بې ارزښته متاع وپلوره او پر ځای یې اخروي سلطنت تر لاسه کړه . که شک لرې انبیا در په یاد کړه ، ځکه هغوی د دې بازار ښه سوداګر دي ، الله ورته سترې مرتبې او خوشحالی ور کړې دي »

# د بلال د احد احد ويلو داستان

د بلال مالک يو ناپوه او متعصب سړی وو ، هغه به خپل مريه په اغزو لرونکو لښتو واهه . بلال د خپل مالک له دينه مخ اړولی او د جضرت محمد(ص) دين يې منلی وو .
هغه د حجاز په سوځنده لمر کې لوڅ لېر پروت او ويل به يې « احد احد » .

يوه ورځ حضرت ابوبکر صديق له هغه خوا تېرېده ، د بلال احد احد ويل يې وآورېده او د هغه حال په ليدو سره يې سترګې له اوښکې ډکې شوې . هغه يوه ورځ بلال يوازې ومند او ورته يې وويل : « په خدای ايمان لرل له منکرانو پټ کړه ، ځکه چې الله زموږ په پټ او ښکاره حالت پوهېږي . » بلال د جضرت ابوبکر خبره ومنله ، خو کله چې سبا بيا له هغه ځايه تېرېده د بلال احد احد ويل يې وآورېده ، د دې سره يې په زړه کې د اور لمبې بلې شوې . بيا يې د بلال سره وکتل او خپلې پخوانۍ خبرې يې ورته وکړې . بلال هم پښېمانو شو او وې ويل : « له دې وروسته به د ناپوهه منکرانو په وړاندې د ايمان ښکندونه نه کوم . خو بيا به هم د رسول الله مينې ژمنه تري هېره کړه .

دا پيښه څو وارې تکرار شوه ، په پايله کې بلال له توبې ايستلو ستړی شو ، د ځان سره يې وويل :
« د حضرت محمد مينه زما په وينه کې چلېږي ، نور نو د توبې او پټولو وس نه لرم . زه د يار د وجود د لمر پسې يم لکه وچه پاڼه چې باد يې هره خوا بياي ، د عشق ځيلی پسې آخيستی يم هېڅ آرام نه لرم . تر دې چې ګرځېدونکی جهان هم د هغه په مينه کې ناکراره دی . ولې دې زما زړه کرار ومومي ، په داسې حال کې چې که بل شی ته لاس وآچوم تيوتې توتې به شي . »
که د دنيا په سرخوږي باور نلرې ، کولی شې چې د طبيعت بدلون ته وګورې . باد سرګردانه دی د هغه د خوځېدو لکبله سمندر ځپانده کېږي . لمر او سپوږمی يو د بل پسې ځي او راځي ، ستوري کله د نيکمرغی او کله هم د بد مرغی په دايره کې ځای نيسي .د کال په اوږدو کې کله منی او کله هم پسرلی وي ، ټول طبيعت د خدای امر ته لاس په نامه ولاړ دی ، ای زړه ! بيا ته هم د نورو زرګونو زرګونو موجوداتو په څېر خوځنده او ، لکه آس د خپل خاوند امر ته سر تر پايه غوږ شه . د دې پاره چې د يار په وړاندې تور مخی نشې ، له ګناهونو ځان وساته ، ځکه د ګناهونو په پرتله تور او پټېږي .

بلال ويل : « زه د مستۍ په حالت کې له عشقه خوند اخلم ، په دې لاره کې د اغزو زخم راته لکه ګُل او ګلشن ښکاري .» کله چې حضرت ابوبکر د بلال خبرې وآورېدې له نصيحت کولو لاس په سر شو .

بيا حضرت ابوبکر صديق رسول الله(ص) ته عرض وکړ : « بلال دا نيکمرغه آسمانی انسان ستا د مينې لېونی دی ، لکه باز د کارغو او بمانو تر مينځ راګير شوی دی ، شپه او ورځ يې په عذاب کې تېرېږي . د هغه ګناه دا ده چې لکه باز خپلواک جګ آلوتونکی دی ، ځکه بمان هغه ته غاښ چيچي کوي ، چې ولې د نورو مانيو او د ښارونو خبر راوړي او زموږ کورونو ته کندوالي واي ، په دې توګه فتنې خلقوي او په خپلو کې يې ويل : کېدی شي دا به تېر ايستل وي تر څو چې کارغي ده ته خپل مشر ووای . »

ابوبکر (ض) ادامه ورکړه : « بلال د ختيز له خوا په څلورو موکېو ترلي شوی ، تن يې لوڅ او په اغزنو لښتو ، تر هغو وهل کېږي چې له بدن نه يې وينې داري ووهي . ما هغه ته ډېر وويل چې خپل دين پټ کړه ، خو هغه مين دی د توبې ور يې پر خپل مخ ترلی . د توبې او عشق يو ځای کېدل ممکن ندي .»

عشق د خدای د صفتونو يو صفت دی ، د هغه له مينې پرته نورې ټولې مينې دروغ دي . دا ډول مينې لکه په زرو پوښلې منګی دی ، کله چې د هغه زر وتوکي لوګی تر سترګو کېږي ، مجازي مينه بيا هله خپل رنګ بايلي ، دلته ده چې مين د د هغو تورو لوګو په ليدلو سره تور مخی کېږي . نيکمرغه دي هغه کسان چې زړونه يې د سرو زرو کانونه دي . الهی پاکه مينه د نُور او کمال انتها ده او مخلوق بيا د دې نُور سيوری دی ، چې په دې جهان کېځلېږي .

رسول الله (ص) د هغو خبرو په آورېدو سره خواشينی شو وې ويل : « اوس څه کول پکار دي ؟ »
ابوبکرصديق وويل : « بلال مريی دی موږ کولی شو هغه و پلورو . په هر قيمت چې وي زه هغه ترې آخلم ؛ ځکه چې هغه آسمانی سړی دی او په دې دنيا د خدای د دښمنانو په منګولو کې راګير شوی . »
د الله رسول (ص) وويل : « زه هم غوارم پدې سودا کې له تا سره شريک شم ، بيا ته زما وکيل يې هغه و پېره . »
ابوبکر ومنله ولاړ ، د ځان سره يې سوچ کوه چې د هغه متعصب سړي نه د بلال پلورل څه آسان کار ندی . هغه کافر لکه ساحر او هغه تاجر وو چې بې ارزښته شيان به يې د دې د پاره رنګولچې په ښه قيمت يې وپلوري .هغه نه

پوهېده چې بلال ګوهر وو ، آو دی لکه خر د ګوهر او خرمهرې په توپیر نه پوهېده ، د هغه فکر یوازې څر ته وو د بلال ګرانښت ورته نه ښکارېده .
ابوبکر د ډېرې غصې سره د سرې کورته ور دننه شو او هغه ته یې په سختی سره وویل چې ، د خدای بنده ولې وهې. په ښکاره د هغه د دین دښمني کوې .؟ تر دې که په خپل دین صادقه یې او خپل کفر برملا هم کړې. تا ته نه ښاې چې د خدای رښتیني بنده ګان و زوروې . که دا کار کوې بیا به د خدای د تلنې لعنت ور وګرځي .ستا وجود یوې خیرنې هنداړې ته ورته شوی چې په کې ټولې ککړتیا او او خیرنوالی ویني . » د حق خبرې لکه سېل د ابوبکر له خولې راوتلې او د کافر غوږونه یې لرزول .
کافر سړي وویل : « که دې زړه پرې سوځي کولی شې ، هغه د زرو په بدل کې وپېرې . د پیسو پرته ستونځه نه حل کېږي . » ابوبکر ځواب ورکړ :« زه یو سپین مخی خو زړه توری مریی لرم ، ته دا تورمخې خو د سپین زړه مالک غلامزما سره بدل کړه . » څوک یې د هغه سپین غلام پسې ولېږه ، چې د لیدو سره یې سړی حیرانه ، د ظاهر پالونکی کافر زړه پوست شو . خو هغه راضی نشو . بیا یې هم د سپینو زرو غوښتنه وکړه .د دې د پاره چې د هغه حرص آرامه شي ، ابوبکر څه نور سپین زر ور کړه .

کافر د ریشخندی له مخې وخندل ، کله چې ابوبکر له هغه د خندا سبب وپوښت ، دکافر خندا لا زیاته شو او وې ویل : « که دې ټینګار نه وی کړی زه د دې پیسو په لسمه برخه هم راضی وم . دا مریي په نیمه روپۍ هم نه ارزېده . تا د خپلو خبرو سره د هغه قیمت ګران کړ . » ابوبکر ورته په ځواب کې وویل : « تا د غوزانو په بیعه ګوهر و پلورلو . ځکه زما د پاره د هغه ارزښت تر دواړو جهانونو هم زیات دی .
زه د هغه زړه او دننه ته ګورم او ته د هغه تور مخ ته . که دې لږ نور ټینګار کړی وی زه حاضر وم چې خپله ټوله شتمني مې درکړې وی .تا ارزانه خرڅ کړ . ځکه چې تا ته د هغه د دننی خزانې پته معلومه نه وه . ته به ډېر ژر یوه شي چې ستر تاوان دې کړی . نې‌کمرغي د غلامي په په جامو کې تا ته مخه کړې وه ، خو تا له ظاهر پرته بل څه ونه لیدل . دا د هغو بت پالونکو سزا ده چې ستا په څېر بدمرغه پاتې شي .» بیا ابوبکر د بلال لاس ونیوهاو د رسول الله (ص) په لور وخوځېدل . کله چې د بلالسترګې د الله په رسول(ص) ومښتې بې‌سده شوه .د بیا په سد کې‌دو سره یې له سترګو د خوشحالی اوښکې بهېدلې. د الله رسول(ص) تر خپل څنګ کښېنولوهغه سره یې داسې خبرې وکړې، چې که هغه خبرې یې د شپې د تورو تیارو سره کړې وی ، تور والی به یې په روڼ سحر بدل شوی وی . هېڅ عقل نشي کولی چې د هغو خبرو په راز پوه شي .
د الله آستازي وویل : « ای ابوبکره! ما تا ته ویلي ول زه هم غواړم چې د بلال په پېرېدلو کې برخه وآخلم، تا ولې دا کار یوازې وکړ ؟» ابوبکر(ض) عرض وکړ چې :«موږ دواړه ستا مریان یو . ما ستا د پاره هغه آزاد کړ ، که ته ما د خپل غلام په توګه ومنې ، په ټول عمر آزادي نه غواړم . ستا غلامي رښتیني آزادي ده .
ته هغه غوره شوی کس یې چې جهان دې ژوندی کړی؛ زما په څېر یوه عامي کس دې د خاصانو په ډله کې کښېنو . ما به په ځوانی کې خوب لیده چې لمر راته سلام واي او د ځان سره مې آسمان ته بیاي . تل به مې د ځان سره سوچ کوه چې دا نامکنه ده، خو ستا په لیدو سره دا ممکن او ، اوس مې ځان په اکرام او پرتم کې ډوب شوی. ستا په شتوالي کې سترو شیانو ته نظر کوم ؛ د نُور پسې وم د نُورونو نور مې ومند .د یوسف(ع) پسې ګرځېدم په تا کې مې له یوسفو ډک ښار مې ومند ، د جنت غوښتونکی وم ، ستا د وجود په ذره ذره کې جنتونه پټ دي .
زه چې ستا کومې ښې‌ګنې یاده وم هغه ستا د ښکلا ور ندي ، کې‌دی شي چې دا ستاینې بې‌ځایه او نا مناسبه وي ، لکه دهغه شپانه لمونځ او مدحه چې په موسی(ع) ښې ونه لګې‌دې ، تا سره ښاي چې زما بې‌وسي وبښې . شپون غوښتل چې د خدای سپړې ونیسي ، شودې ورکړې او پنې یې وګندي ، خو دهغه دا ټولې تې‌روتنې د خدای په وړاندې لکه مدحه وې . ته هم پر ما رحم وکړه . ځکه د عقلونو او وهمونو له بریده هخوا یې ، زما دا نا څه ستاینې ومنه .»

خدای پر خپلو نازولو بنده ګانو بلا وې نازلوي، ځکه چې پرې ګران دي ، همدارنګه خدای غواړي چې د هغوی زړونه نور هم ځان ته را واړوي . کله کله خدای خپلو بنده ګانو ته ځان د بلا له وره را څرګندوي، تر څو چې هغوی ځانونه د زاریو او ژړا په وسیله هغه ته ورنږدې کړي .

# د خدای د مخلص بنده هلال نکل

تا د بلال دښو صفتونو په هکله وآورېدل ، اوس د هلال نکل وآوره چې د حق په لاره تر بلاله هم څښانده او له بدو خوینو لرې وو ، نه لکه هغه کس چې د انسانیت له جوهره د کانه کې‌دو په لور بې‌رته بې‌رته درومي . داسې چې یوه ورځ چاته مې‌لمه راغی کوربه ترې پوښتنه وکړه ، څو کلن یې ؟ هلک وویل : « اتلس ، ولس یا شپاړس کې‌دی شي پینځلس . » کوربه ورته وویل :« پام چې بې‌رته د مور رحم ته و نه رسې‌ږې ؟ »
چا له یوه امیر نه آس وغوښت او امیر ورته وویل کولی شې هغه خر آس ځان سره بوځه . هغه سړي وویل : « زه هغه نه غواړم ځکه چې بې‌رته په شا ځي او سورلی ته نه درېږي . »

امیر وویل :« ډېره ښه د آس لکۍ د کور په لور ونیسه ، مقصد ته به دې ورسېږې . » د آس لکۍ همهغه شهوت دی او آس نفس ؛ له همدې کبله بیرته بیرته ځي . که د نفس لکۍ د آخرت او عقل په لور راوګرځوی، شهوت به د آخرت او عقل په غوښتنه بدل شي او تا سم مقصد ته رسوي . خو ښه به دا وي چې مخ ته تلونکی او رام آس وټاکی .

د موسی(ع) یقین دې ځای ته رسېدلی وو چې د سترګو په رپ کې به یې اوږدې لارې لنډولې . کمه لاره چې موسی(ع) خضر(ع) ته د رسېدو د پاره وهلې وه د آویا کلونو لاره وه . کله چې د هغه جسم دومره چټک او لوړ همتی وو ، ځان خو به یې خاما خا لوړ ملکوت ته ته .

## مثال

کاروان کلي ته ورسېد ، د یوه کور ور خلاص وو ، چا وویل :« ښه به داوي چې د ژمي دا سړې ورځې دلته تېرې کړو ، سا وآخلو . » هغوی یو ږغ وآورېد چې :
« پیټي مو د باندې پرېږدئ خپله را دننه شئ . ټول بې ارزښته شیان لرې وغورځوئ بیا را دننه شئ چې ، دا د سترو لوړ همتو کسانو جرګه ده . د سیر او سلوک شرط له منیت او کبر تشېدل دي ، که غواړې چې د مقصود لیلی ته ورسېږې دا بې ارزښته اسباب لرې وغورځوئ .
هلال یو زړه پاکی سړی وو او د مسلمانانو د یوه امیر ځاروي یې ساتل . هغه د مصلحت له مخې خدمت ته ملا تړلې وه ، کنه په باطن کې ستر سلطان وو . خو ظاهر لیدونکی امیر د هغه پټې خزانې ته پام نه وو . چا د منارې انځورونو او ښکلا ته په حیرانی سره کتل ، په همدې وخت کې د هغه دوست چې تر ده لا زیات په ځیر کتلیو شهباز ولید چې د منارې په شا او خوا آلوزې او یوه مرغۍ یې په مښوکه کې نیولې ده .

د انسان تن منارې ، علم او طاعت هغې مرغۍ ته ورته ده او هغه څه چې د مرغۍ په مښوکه کې شته ، هغه نُور دی چې د انسان په وجود کې پټ دی . او د مرغۍ ځان هغه نُور پورې تړلی دی . علم او پوه له هغه چا راخوټېږي چې دا نُور ولري .
د قضا له مخې هلال ناروغه شو . مالک د هغه له حاله خبر نه وو ، ځکه هلال یو غلی سړی وو . نهه ورځې هغه لوړ مرتبه انسان د ځاروو په غوجل کې پروت وو . هېچا ته پته نه وه چې هغه ناروغه دی .تر دې چې الله پرې پېرزوینه وکړه او رسول(ع) ته یې د وحیې په وسیله وویل چې ستا یو محب ناروغه دې د هغه پوښتنه وکړه . د الله رسول(ص) هم سمدلاسه څو تنو صحابو سره د هغه په لور وخوځید .
د رسول اکرم(ص) د راتګ خبر د بلال مالک ته ورسید او هغه هم په ډېرې خوشحالۍ سره د هغوی مخ ته ورغی . هغه ګمان کوه چې د الله رسول(ص) د ده د پوښتنې د پاره ور روان دی . په ډېر شوق سره یې ځمکه ښکلوله او مخ یې د ډېرې خوشالۍ لکبله سور شوی وو .د رسول الله (ص) د رسېدو سم یې وویل :« زموږ کور دې په جنت بدل کړل . »
د الله نبی(ص) وویل : « ستا پوښتنې ته نه یم راغلی . »
بدای سړي وویل : « زما روح دې له تا ځار وي ، مهربانی وکړه ووایه ، د چا د پوښتنې د پاره راغلی یې ، چې د هغه د پښو خاورې شم ! هغه څوک دی چې ستا د پېرزوینې وړ ګرځېدلی . ؟ »
حضرت محمد(ص) وفرمایل : « هغه ستر او متواضع هلال چېرې دی ؟ ته پوهېږې چې هغه څوک دې ؟ هغه د مریانو په جامو کې ستر سلطان دی چې د ځاروو په خوړ ځي کې ناروغه پروت دی .

مالک وویل : « ډېرې ورځې کېږي چې هغه مې نه دی لیدلی ، د هغه له ناروغۍ نه هم خبر نه یم او په دې هم نپوهېدم چې هغه د آسونو او اوښانو سره په غوجل کې اوسېږي .»

رسول(ص) د هلال د لیدلو په موخه غوجل ته ور دننه شو چې ډېر تیاره او ککړ وو . د هلال سپړمو ته د رسول الله بوی ورسېده او د آسونو د پښو له مینځه یې د هغه (ص) کالي ولیدل .
هر جنس خپل جنس جذبوي هلال په ډېر شوق سره ځان د الله دنبی پښو ته ور ورسوه سر یې د هغه(ص) پر پښو کېښود . حضرت رسول اکرم(ص) هغه را پورته په سر او مخ یې ښنګل کړ ، او وې ویل :
« ای د هستۍ ستر ګوهره په کوم حال کې اوسېږې ؟» هلال وویل :« هغې کنډوالې ته ورته یم چې لمر پکې راختلی وي ، نېکمرغی دی هغه تږی چې خپله اوبه د هغه لیدو راشي .

# مصطفی(ص) وآورېده چې عیسی(ع) به پر اوبو ته

هلال وویل : « زما حال عیسی(ع) ته ورته دی ، کله به یې چې پر سین پل کېښود نه ډوبېده ، څکه څوک چې د ژوند یا حیات په اوبو کې ډوب وي بیا په سین کې نه ډوبېږي .».

مصطفی(ص) په دې هکله وفرمایل : « که یقین یې لږ څه نور ډېر وی ، بیا یې کولی چې زما په څېر پر هوا سور او معراج ته لاړ شي. »
هلال وویل : « د هغه زور او پست سپي حال به څه وي ، کله چې له خوبه راپاڅي خان د داسې زمري په منګولو کې ووینې چې پر هغه هېڅ غشی او توره کار نه کوي . د هغه کس حال به څه وي چې د ځرنګوالي له بنده آزاد شوی وي ؟ څوک چې بېسده ، له خپل ځان نه نا خبره شوی ، ځان د زمان او مکان له بریده هخوا ووینیاو ټول ځرنګوالی هغه ته بی معنی شوی وي او هر څه له هغه معنی آخلي »

بیا هر څه د نه ځرنګوالي او بېسدی نه زیږي ، که غوارې چې پدې موضوع پوه شې ، بیا دا ټولې ناپاکی لرې کړه . د اوبو پر سر د تګه د پاره دا شرط نشي لګولی چې لمړی غسل وکړه بیا پر اوبو پل کېږده . هر ناپاکه شی د اوبو سره پاکېږي ، همهغسې چې د دنیا په په ناپاکیو لړلو خلکو ته نشو ویلی ، قرآن مه لولې چې د هغو شفا په دې کتاب کې نه مندل کېږي . که په اوبو کې دا کرامت نه وی چې نا څېرځلي ومني ، په جهان کې به له حسرت پرته بل څه نه وی پاتې .
اوس دې چې د هلال داستان وآورېد هلال او د څوار لسمي سپوږمی ته ووګوره . سپوږمی په لمړیو کې کړه وړه وي ، ورو ورو کامله او ښایسته کېږي . دا د انسان د پاره یوه کنایه ده چې ګام په ګام دې د کمال په لور وخوځېږي . بې دلیله نه وو چې د جهان خلقت دې د یوې شپېبې پر ځای په شپږو ورځو کې وشي . ماشو هم د مور په نس کې نهه میاشتې اوسېږي او د آدم (ع) خلقت هم څلویښت ورځې ونیوی . د ماشوم نه دا انتظار مه کوه چې د سترګو په رپ کېدې ستر سړی شي .

## د هغې بوډۍ داستان

دا دهغې غونج مخې بډی نکل دی چې په نوي کلنی یې مېړه غوښته . د کلونو په تېرېدو سره یې غاښونه ولېدلې . وېښته سپین او قد یې لکه لیندۍ را کوږ شوی وو ، خو د مېړه مندلو مینه یې لا په زړه کې ژوندی وه . هغه لکه مرغې چې لاره یې ورکه کړې وي سرګردانه لالهانده وه ، لکه هغه کس چې د ساز ږغول یې خوښېږي خو ژوندې او شپېلی ونه لري .
خدایه ! کافر هم د زوړتوب له حرص او شهوت نه وساته ، څکه چې د شرم او پستی سبب به یې شی . تر دې چې سپی هم په زوړ والي کې له خلکو لرې یوه غلې ګوټ ته ځي . بد مرغه دې هغه زاړه سپي چې د حرص او غوښتنو غاښونه یې تېره ، په دې توګه یې ژوند تېر او ، پایله یې جهنم شو . که هغو ته ووایې چې عمر دې ډېر شه خوشحاله کېږي او دا ښکنځل ورته لکه دعا ښکاري .
هغوی د واقعیتونو پر مخ خپلې سترګې تړلې .

## د هغه درویش نکل چې ګیلانی ته یې دعا کوله

یوه ورځ چا د ګیلانی شتمن نه خواږه تر لاسه کړه دعا یې ورته وکړه . :
« خدای دې خپل کورته بېرته روغ ورسوه .».
خواجه چې له کور او مېرمنې خوابدی تېنېدلی وو . وویل :« ای خوار غمجنه ! که منظور دې هغه کور وي کوم چې زه پوهېږم ، خدای دې تا هغه کورته ورسوي . »
که وینا کونکی داسې خبرې وکړي چې آورېدونکی پرې پوهه نشي ، که ښې خبرې یې هم کړې وي بې ارزښته برېښې . وینا کونکي ته ښاي چې د آورېدونکي د پوهېدو وړ خبرې وکړي، همهغسې چې ګنډونکی د هر چا د ونې او اندازې سره سم کالي ګنډي .
بیا د هغې زړې بوډۍ آفسانې تهېرته راګرځو ، سره له دې چې د ډېرو کلونو وه ، خو لا تر اوسه د حق لارې ته راستنه شوې نه وه . کولی شی چې هغې بوډۍ ته ووایئ . هغې نه معنوی شتمنې درلوده او نه هم مادي . له هېچا سره یې ښېګڼه نه کوله او هېچا هم د هغې سره په ښېکي چلند نه کوه. نه یې سمې خبرې کولی شوی ، غوږونه او سترګې یې هم روغې نه وې . زماني ترې هوش او عقل وړی وو ، لکه پیاز ول په ول خوسا شوې وه . نه یې ښکلی مخ وو چې پرې ناز وکړي، نه د ایمان پسې سوی زړه او نه په مخه تلونکې پېښې .

## د هغه درویش نکل چې د هر څه د وغوښتلو سره به
## د کور خاوند ورته ویل چې نشته

یو فقیر سړی د چا ورته ولاړ وو او ډوډی یې وغوښتله . د کور خاوند وویل : « ډوډی نلرو ، څه فکر کوې دا خو څه د ډوډۍ خرڅولو دوکان ندی .؟ » زاره سړي ورته وویل بیا لږ غوښه او لم راکړه ، د کور مالک ورته وویل : « سړیه دا خو قصابی نده . » فقیر وویل : « بیا لږ اوړه راکړه .» ځواب یې وآورېد چې :« اي سړیه ! دا کور دی ژرنده نده. » فقیر بیا وویل : « یوغړپ اوبه خو راکړه . » د کور خاوند ځواب ور کړ چې : « ای نا پوهه ! زه دلته چینه یا د اوبو لښتی نلرم .»
لنډه دا چې د کور خاوند به په دروغ سره د هغه د هرې غوښتني په ځواب ویل نه یې لرم ، په داسي حال کې چې فقیر د نلرم ویلو سره ناهیلی شوی وو ، خپلی ګنډې ته لاس کړ غوښتل یې چې هغه ځای ناولی کړي .

کله چې د کور مالک د هغه دا کار ولید وې ویل : « دا څه کوې ؟ »
فقیر ځواب ورکړ : « په هغه کور کې چې د ژوند کولو د پاره څه نه وي ، همدا کار ښاي . »
که ښکاري باز نه يې چې د پاچا پر لاس کښېني ، که ښایسته طاوس نه یې چې د خپلې ښکلا سره د خلکو سترګې روښانه کړې ، که طوطی نه یې چې قند درکړي او ستا خوږې خبرې وآوري ، او که لکه مین بلبل په ګلزار کې خوږې سندرې بوللی نشې تر دې چې که لکه هُد هُد خبر هم نه شي رسولی ، بیا د پېرېدلو ارزښت نه لرې ، له دې بازاره لاړ شه او د الهي پېرزویني بازار ته مخه کړه .
یوازې هغه دی چې د خلکو نه خرڅېدونکې کالي او متاع آخلي ، هغه د ده په لور هېڅ ور تلونکی زړه نه ناهیلی کوي، یوازې هغه دی چې له تا ګټه او تاون نه غواړي .
بیا د هغې بوډۍ داستان ته بېرته راګرځو .
یوه ورځ دې بوډۍ واده ته د تګ پاره هنداره راواخیستهچې ځان سیګار کړي په غرور سره یې څه پر مخ وتپل ، خو د مخ غونجې یې ورکې نه شوې ، بیا یې د قرآن د څنډې ښکلې انځورونه را وآخیستل او پر مخ یې کېښودل ، په دې توګه دې غوښتل چې ښه ښکاره شي او د مجلس په پورتنۍ لیکه کې کښېني ؛ خو همدا چې ټیکرې به یې پر سر ونیوه انځورونه پرېوتل ، هغې څو واري دا کار وکړ خوانځورونه به بېرته راولېدل ، ځکه غصه شوه وېویل لعنت دې پر شیطان وي . همهغه شېبه ابلس حاضر شو او وې ویل :
« ای بې شرمې او حیا ! په ټول عمر ما داسې فکرنه وو کړی او نه مې هم څوک لیدلی دې چې داسې کار دې وکړي ، ته د ابلیس سلو لښکرو سره برابرې کوې ، ما مه یاده وه ، د هغه ستر کتاب د حاشیې څومره انځورونه چې پټولی شي پټ یې کړه تر څو چې ښکاې ښکاره شې .
پدې کتاب کې ډېرې لوې خبرې پټې دي ، ته غواړې چې پر هغو ښه وبرېښې او د خلکو ستاینې تر لاسه کړې . یوه نه یوه ورځ به د مرګ ټېکرې پر سر شي ، دا ټول تپلي کاغذونه دې له صورته ولېږي او حقیقت به دې څرګند شي ؛ په هغه وخت به دې دا ټول مکر او هنرونه نا کاره شي . لاړه شه هنداره رآواخله خپل دننه پاک او ښایسته کړه ، چې د یوسف د مینې له برکته د حق په پېرزوینه زړه زلیخا پېغله شوه ، او مریم له وچې ونې نه مېوه تر لاسه کړه .
ای زړې بوډۍ ! تر څو به د خپل تقدیر سره جنګېږې . حال تر لاسه کړه ، راتلونکې وروسته ته پرېږده . کله چې د دې زاړه صورت ښکلا ته امېد نشي کېدی ، بیا څه فرق کوي چې هغه ګُل ته ورته سور وي که ساده څېځلی .

## د هغه ناروغ نکل چې طبیب په هغه کې د روغتیا
## څه نښې نه لیدلې

یو ناروغ کس حکیم ته ورغی وې ویل :« نبض مې ونیسه کېدی شي چې زما د دننه نې حالت پته درته ولګیږي ، ځکه چې د لاس رګ زړه ته ورنږدې دی ، له دې لارې به د په سینه کې پټ زړه حال در معلوم شي .

لکه د باد شته والی چې د خاورو او دوړه له نڅا او د هغه د حرکت مخ د پاڼو له خوځښته څرګندېږي . همدا رنګه الله هم د هغه د صفاتو له مخې پېژاندی شو او د هغه انبیا د خپلو معجزو سره د خلکو زړونه پوهوي . تر دې چې معجزې پر بې ځانه شیانو هم اثر کوي ، لکه د موسی(ع) اعصا او د سین دوه برخې کېدل .؛ اوس که دا معجزې د انسان پر ځان ولګېږي نیغ په نېغه هغه د پټ جهان سره مبتلوی او بیا ځلي روح ور ببښي .
معجزې هغه سین ته ورته دي چې سمندري مرغان له هغه تغذیه کوي او دا مرغان همهغه الهی عارفان دي . خاورين مرغه بیا د مادیونو د ټیټ فطرت نښه ده ، چې په هغه کې امنیت وجود نلري . په همدې توګه معجزې بې باوران

عاجزه او د نېغې لارې ملګروته قوت وربښي . که د معجزو د ليدلو نېکمرغي دې په برخه شوې نه وي ، کولی شې خپل عقل ته رجوع وکړې او په استدلال سره د چاپېريال د نښو په ليدو د هغو د شته کونکي ذات وجود ومنې . دا ټولې نښې نښانې پوستکي ته ورته دي ، که هغه وسپړې سمدلاسه به په هغو کې د خپل رب اثر ته متوجې شې . بيا لار نه ورکوې او تل به د خپل رب سره يې .
لنډه دا چې حکيم د ناروغ د نبض په ليدو سره وه پوهېده د هغه رغېدل شونی نه دی او يو ډول روحې ناروغي هم لري . ځکه يې هغه ته وويل :« د دې د پاره چې زوړ غم دې له زړه لاړ شي ، له دې وروسته هر څه دې چې زړه غواړي هغه وکړه .
له هېڅ شي پرهېز مه کوه ، ځکه چې پرهېز او زغم ستا د پاره ښه ندی . څه چې غواړې همهغسې عمل وکړه . »
ناروغ وويل : « که خبره داسې وي ، زړه مې غواړم جې د اوبو خوا ته لاړ شم . »
له ځايه پاڅيد او د اوبو په لور لاړ . د قضا له مخې هلته يوه صوفی لګيا و خپل سر او مخ يې وينځه . کله چې د ناروغ سترګې د صوفی په سټ ولګېدې ، په خيال کې يې د صوفی په سټ د يوې ښې سپېړې د وهلو شوق را وټوکېد . د وهلو په موخه يې خپل لاس اوږد کړ . هغه ته د طبيب خبر په ياد وه د ځان سره يې سوچ وکړ که صبر وکړم هسې نه چې حال مې خراب شي ، بنا پر دې صوفی ته يې داسې څپېړه ورکړه جې غږ يې پورته تر آسمانه ورسېد . صوفی د درد لکبله چيغې کړې ، غوښتل يې چې په سوک او لګدو ووهي .

خلايق د خپلې بې فکرۍ لکبله په عذاب کې وي ، او لګيا دي د دې ديو د مکر څپېړې خوري ! ای هغه کسه چې د بېګناه خلکو پر سټ څپېړې وهې ، کله دا هم دا سوچ کړی چې د خپلو کړو سزا به ووينې ؟ هغه چا چې دا کار د درمل په توګه تا ته در پېژاندلی ، په تا ريشخند وهي ،لکه شيطان چې آدم(ع) يې د غنمو خوړو ته وه هڅه وه ، په دې توګه هغه تېروته . خو خدای د هغه لاس نيوی وکړ ، ځکه چې د آدم (ع) پنځ پاک او ارزښت ناکه وو . ته چې په ځان کې د خلاصون يوه ذره هم نه وينې ، بيا ځنګه الهي مرستېته سترګې په لار يې ؟ کله کولی شې لکه ابراهيم (ع) پر خدای توکل وکړې چې د هغه چاړه د اسماعيل غاړه غوڅه نکړي . ؟ کله کولی شې د موسی(ع) کرامت درک کړې ، چې د نيل په رود کې يې لاره جوړه کړه ؟ .

يوه ورځ يو حق پالونکي عارف چې د کرامت خاوند وو ، له منارې را ولوېد ، باد د هغه په خت کې راټول شو او روغ رمټ ځمکې ته راکوز شو . که د هغه په څېر يقين نلرې ، بيا ځان باد ته مسپاره ، ځکه چې په زرهاو کسه له دې لوړو راولېدلي او پو پناه شوي دي .

لنډه دا چې وهل صوفی په غصه خو وړاندې کتونکی وو ، ويې نه غوښتل چې ځان ګنهګاره کړي . که غواړې چې له تاوانونو وژغورل شې ، سر له اوسه سترګې پټې او قيامت در په ياد کړه ، په دې توګه به نيستۍ درته شته او او د دنيا هستۍ درته بې ارزښته کېږي . د خدای د اسرارو چينې په پټوالي او نېستۍ کې بهېږي . او واي ، په صنعت کې هغه کس بريالی دې چې د کمبوديو پسې وي . ختګر استاد هغه ځای لټوي چې جوړ کور پکې نه وي . دوی ټول د نېستۍ پسې ګرځي، تر څو چې هغه شته کړي . اوس چې د خلاصون يوازينۍ لاره نېستيو کې ده ، بيا د هغه سره جنګېدل او پرهېز هم يو بېمعنی کار دی .

مرګ د انسان دپاره هر ډول نېستي ده ، چې مينځ کې يې ژوند يا حيات دی ، خو د جهان دې جادوګرو نعمتونو زموږ سترګې تړلي او آخرت راته ډارونکی ښکاري . صوفی چې د څپېړې سره ډېر په غصه شوی وو ، د ځان سره وويل :« که هغه په سوک ووهم ، دومره ډنګر دی چې ضعيف وجود به يې لکه کودوړی ټوټې ټوټې شي او خدای به د هغه په خاطر ما قصاص کړي ، زه د خدای امر ته غاړه ږدم . نه غواړم چې د يو داسې ټيټ او ناپوهه کس په خاطر قصاص شم . » نه پوهيده چې څه وکړي ، د هغه ګرېوان يې ونيوه او د قاضی په لور وخوځېد .

قاضی په عدل سره قضاوت کوي ، د شيطان د مکر او وسوسو نه لرې دی ، د قانون زيرکي حقيقت را برسېره کوي ، په دې توګه شخړو او جنګونو ته د پای ټکی ږدي . د قاضی دا رحمت او وړتياهغه څاڅکی دی چې د الهي عدالت د سمندر څرګندونه کوي .
ای ظالمه ! چې په ظلم کولو خوشحاله ، او د الهی عدل او مکافات له لړۍ غافله يې ! که د غفلت پردو کړه درنه هېر کړي ، را په سد شه . اوس چې د دې دنيا زنداني يې ، ورو ورو د خلکو حق بېرته ور وسپاره او توبه وباسه ! کنه په آخرت کې به په يوه وار د دې ټول اعمالو ځواب ورکوې .
صوفی قاضی ته وويل :« دا احمق انسان مې راوستی چې په ښار کې يې وګرځو او خلک د هغه په حماقت پوه شي . د هغه ته داسې سزا ورکړه چې نور ليدونکي ترې عبرت وآخلی ، که هغه ته مرګ سزا هم وآوروې څوک به له تا پوښتنه ونکړي چې ولې ، ځکه چې ته د لوړې مرتبې خاوند او د ځمکې پر مخ د خدای سيوری يې . څرنګه چې ته د

خدای د رضا په خاطر فیصلې کوې نه د خپلې غوصې او دښمنی له مخې ، که له تا تېروتنه هم وشي ، له ځواب ورکولو خوندي یې . »

که پلار زوی ووهي او د زوی دوهلو لکبله ومري ، له پلاره خونبها آخلي ، ځکه چې هغه د خپلې ځان خوښونې له کبله وهلی دی . خو که کوم زده کونکی د معلم د وهلو لکبله ومري ، پر ښونکي جرم نه ثابتېږي ، ځکه چې معلم امین دی او دا کار یې د شاګرد ښېګڼې د پاره کړی . د امین حکم قصاص نه لري او خدای د دې حکم ضامن دی ، د دې مسلې شرحه په فقه کې راغلې ده .

هر دوکان یو څه خرڅوي خو د مثنوی په دوکان کې د فقر او نشتوالي پرته بل څه نه پلورل کېږي . د پنو په مغازه کې ښه څرمن او قالبونه منده کېږي او په بزازی کې پاسته زرغون وریښم اندازه کېږي ، خو مثنوی یوالي دوکان دی ، د وحدت پرته بل هر څه په بوت پالنه ګڼل کېږي .

قاضی وویل : « ثابته یې کړه ، ته چا وهلی یې چې د هغه په هکله حکم صادره کړم . هغه څوک دی چې ته یې وهلی یې اوس غواړې چې ترې بدل وآخلې .؟ »زه فکر کوم چې ناروغی سودای کړی یې ، د شریعت حکم د ژوندو او شتمنو په هلکه صادرېږي . څوک چې د فقر له کبله مرګ ته نژدې دی ، له سلو مړو لا بد وي ، ځکه چې مړی یو وار مري ، خو د فقیر د ژوند هره سا مرګ ته ورته ده . زه یوازې د ژوندو په هکله قضاوت کوم . کېدی شي چې د دې سړي صورت ژوندو ته ورته وي خو په ظاهري بڼه کې یې زرګونه قبرونه پټ دي . مړي یوازې په ګور کې نه لیدل کېږي . کله کله د یوه چا په ظاهري بڼه کې ګور له ورایه لیدل کېږي .
ته هم هڅه وکړه چې له دې لېوني سړینه بدل وانخلې او د خدای شُکر پر ځای کړه چې دا څپېړه کوم کامل انسان نه ده درکړې ، ځکه کله چې یو بنده د کاملو انسانانو د غضب وړ وګرځي ، مانا دا چې خدای هم پر هغه غصه شوی .
ځکه د خدای کامله او څپېځلي بنده ګان د خدای د وجود له برکته ژوندي دي او د خدای برملا نښې په هغو کې لیدل کېږي ، همدارنګه حق د هغو په وجود کې خپل روح پو کړی ، د خدای پو کول د نورو د پو یا دم سره ډېر توپېر لري .
یو ترې ژوند آخلي او بل بیا ورته تلنی ژوند ښښي .
صوفی وویل :« بیا دا روا ګڼې چې هغه دې ما ووهي او د حکم او قصاص پرته دې لاړ شي ، ته دا روا بولې چې هر ناپوه دې د ځان خوشحاله ساتلو د پاره د صوفی سټ ته څپېړه ورکړي . ؟ . »

قاضی له صوفی پوښتنه وکړه :« څومره دنیوي مال لرې ؟ . »
صوفی وویل :« شپږ درهمه . »
قاضی ور غبرګه کړه :« بیا درې درهمه د ځان د پاره وساته او پاتې نور درې درهمه هغه فقیر سړي ته ورکړه چې د ځان د پاره خوارهوآخلي . » په همدې شېبه کې د درویش سترګې د قاضی په سټ و لګېدې چې ، د صوفی له څټه لا څپېړې ته مناسب دی . د ځان سره یې سوچ وکړ :« د څپېړې قصاص ښه او ګټور دی .
بیا د قاضی خوا ته ورغی او یوه ښه څپېړه یې ورپورې کړه او وې ویل :« بیا تاسي دواړه ماته شپږ درهمه راکړئ او د دعوااو جنجال پرته مې آزاد کړئ ! »

قاضی په غصه شو خو صوفی ژر ورته وویل : «، پام چې د غصې په حالت کې حکم ونکړې . ای د دین مشره څه چې ځان ته نه خوښوې بیا بل ته هغه څنګه خوښوې؟ ته په دې نپوهېږې چې ، که ماته ځا وکینې کېدی شي چې وروسته ته خپل په هغه کې ولوېږې .؟ دا څل دې داسې قضوت وکړ چې د هغه سره دې ځان ته هم څپېړه وآخیسته ، وېرېږم له هغې ورځې چې داسې نور حکمونه صادر کړې او معلومه نده چې پر سر به دې لا نور څه راځي . تا دظالم سره خواخوږي وکړه او د درې درهمو روزی دې هم ورته په نظر کې ونیوله ، په کار خو دا وو چې د هغه لاس دې غوڅ کړی وی ، نه دا چې هغه ته په خپل حکم سره ګټه ورسوې ، ته هغې مېږې ته ورته یې چې لېوه صفتو ته پې ورکوي . »
قاضی وویل :« که په ظاهره غصه ښکارم ، ولې په باطن کې د خدای حکم او د هغه پټ لیکل شوي رضا باندې راضی یم . زړه مې باغ او سترګې مې ورېځو ته ورته دي ، سترګې چې څومره وژاړي ، د زړه باغ هغومره شین او سمسور کېږي . خدای فرمآیلی ډېر وژاړی چې زړونه مو روښانه شي . ډیوه سوځي خو تیاري روښانه کوي . کله کلهد پلار او مور تریو تندی او رټل هغوی ته ښېګڼې راولي .
کله ژړا تر قندو لا خوږه وي . لکه هغه ژړا چې دوزخ را په یاده وي او موږ له هغه لرې ساتي . کله هم په ژړا کې خندا نغښتې وي . که ګنج لټوې په کنډولو کې یې ولټوه ، خپل دوستانو ته هم د ژړا سپارښتنه وکړه ، ځکه چې د هغوی ژړا د اعتبار وړ ده ، او ستا مرسته کولی شي . کله هم چې د دوستانو سره یو ځای کېږې ، غلی اوسه او له

ځانه د مجلس غمی مه جوړه وه . څرنګه چې د جمعې په ورځ خلک سره یوځای کېږي او د یوه واحد سوچ سره غلي ناست وي . کېدی شي چې د خپلې خوښې موخې ته ورسیږي .
د الله رسول (ص) فرمآیلي :« په کارونوکي د دوستانو سره مشوره وکړئ او د هغوی نیکي مشورې خپل د لارې ستوري وګرځوی ؛ بیا که په دننه کیدې د ویلو د پاره څه نلرې، خپله خوله بنده وساته او شرعی حکمونه مه ورکوه ، چې پایله به یې شرمیدل او رسواي وي .
ځکه چې د خبر لوڅی سره د کلام واکي ستا د لاسه اوزي او پایله به یې اوتو بوتو ته ورسیږي . ځکه چې پخوانو ویلي ، له خبرو خبرې پاڅي . وینا هغو کسانو سره ښاي چې الله پاک کړي ، او په وجود کې یې هوا او هوس شتون ونه لري .
اوس ته هم له ځان د وینا وړخبرلوڅ جوړ کړه ، د ریا پرته په حکمت سره خبرې وکړه ، تر څو چې ما غوندې جرګې د خندا وړنه شې . »
صوفی وویل:« کله چې ټول له یوه ځایه شته شوي ، بیا ولې یوه ډله عاقل او بله مست وي ؟ ولې د یوه لښتي اوبه خوږې او د بلې ترخې بد مزه وي پداسې حال کې چې د ټول لښتیو چینه له یوه ځایه ده ؟کله چې ټولې رڼاګانې له یوه لمر نه خوریږي ، بیا د کاذب او صادق سحر معنی څه ده ؟
کله چې د یوې رنجومې په رانجو ټولې سترګې توریږي ، بیا ولې د یوه سترګې دوه لیدونکي او بل یوویني ؟ خدای تعالی یوه لاره د خپلې لارې په توګه ښودلې ، بیا ولې یو ساتونکی او بل غل دی ؟ څنګه کېدی شي چې د یوې هستی له وجوده دې دا ټول اضداد شته شي آو د ټول عالم له مرکز نه دې دا ناکرارۍ او خوځښتونه را مینځ ته شي .؟»

قاضی وویل :« همهغسې چې د مینانو ناکرارې د معشوق له چوپتیا رامینځته کیږي ، هغه لکه غر ثابته او نازولی دی او عاشقان لکه پاڼه رپېږي . »
د هغه د ښکلا په خاطر د ډېرو پټ له لاسه تللی . د هغه په ذات او عمل کې هیڅ ضد او سیال وجود نلري ، او هستې د د هغه د وجود له برکته خلل نه منونکی دی . څنګه ممکنه ده چې خپل سیال او ضد ته وجود وبښي ؟
اوس خیالي صورت کله کولی شي چې ځان ته ورته صورت دې جوړ کړي ؟ کله چې دوه شیه دواړه یوه بل خیالی شی ته ورته وي ، بیا څنګه کولی شو چې یو له بله ښه وګنو .
اساساً «ضد» او «سیال» لکه د سین ځک دالهی حقیقت  بې ضدی او نه ورته والیته ورته ده . له دې پرته چې د دې ټولو د څرنګوالي په هکله پوښتنه وکړې ، حیران او مات اوسه . د خلقت د عجایبو تر ټولو وړکی حقیقت ستا خپل وجود دی ، چې د ډېرو پېچومو سره شته شوی یې . په دې بدیا کې ، ولې ، څنګه ، چون او چراهېڅ معنی نلري ، ځکه چې هستي زموږ د عقل له بریده وتلې او ستره ده .

عقل هله کولی شي چې دا ټول درک کړي کله چې په نه پوهیدو کې ډوب شي .عقل ته نه ښاي چې د جسم محدودیت ته لاس په سر شي . په حقیقت کې جسم د عقل سیوری دی ، دا به څوک وي چې له خپل سیوري نه مرسته وغواړي ؟ .
کوم عقل چې د ولې او څنګه پسې وي تر جسمه محدود دی، په داسې حال کې چې په دې ډګر کې د حساب او کتاب اړتیا نشته .
اوسی د زمری تر څنګ اوسېږي او ښکاري باز له ځانه وړکیمرغه سره څه دعوه نلري ، څرنګه چې مصطفی(ص) به له فقیرانو د دعا غوښتنه کوله . که ګمان کوې چې دا کار یې د نورو د پوهاوي په خاطر کوه ، بیا پوه شه چې خپله همدا کار ژوره معنی لري او دا عمل موږ ته ښي چې ګنج په کنډوالو کې وي .
او د حقیقت خزانه د خدای د فقیرو سالکانو سره منده کولی شو . ظاهر لیدونکي دې حقیقت ته غاړه نږدې ، ځکه خو هېڅکله حقیقت ته نه رسېږي . باطنی حقیقت د ظاهري حقیقت تر شا پټ شوی ، له همدې کبله په نړی کې ډېرې فرقې موجودې دي .
که غواړې چې حقیقت واورې د زړه غوږونه خلاص کړه ، هر کله چې له آسمانه بلا را نازلېږي ، بیا سترګې په لاره اوسه ستر نعمت را رسېدونکی دی .
همدا خدای چې بلاوې در لیږي بیا نعمتونه هم درکوي ، که غوږونه دې کېږاسي ، بیا خپله همدی دې پر تخت هم کښینوي ، د ژوند بلاوو او ستونځو ته ښه راغلاست ووایه ، ځکه چې د دې کښت حاصل به په آخرت کې تر لاسه کړې  .انبیاو او سترو خلکو ته ووګوره چې خپلې ټولې هستی به یې د لاسه ورکولیتر څو چې سر لوړي واوسي . په هغه کور کې چې تا ستونځې او تکلیفونه ګاللي تل حاضر اوسه، هسې نه چې د نعمت د راتلو په وخت کې د خپل غیابت لکبله له هغه محرومه شې .

صوفی وویل :« څه به شوي وی که ، د دنیا ټول نعمتونه تلني او هره شیبه یوه پیښه واقع شوې نه وی ، ځراغ د ورځ غلا کړې نه وی ، او ټولې خوښی په ورځ کې موجودې وی .

يا داچي سلامتي او ډاډتلنی ، د تبې او وبرې په نوم چا څه نه پيژاندلی . څه کېدل د خدای رحمت او کرم نه څه کميدل ، که د هغه په نعمتونو کيدا ټولې غوغاوې او شورپټ نه وی ؟ . »

## صوفی ته د قاضی ځواب او د هغه تُرک او ګنډونکي د قيصې مثال راوړل

قاضی وويل :« ته ډېر اپلتې وينکی صوفی يې ! لکه چې د ګنډونکی د چلول قيصه دې نه ده آورېدلې ! هغه داسې ادا

مه ورکره ، يوه نکل وينکي د دې ډلې د غلا قيصه داسې وکړه: هغه په سمرقند کې د ګنډونکو د غلا نکل کوه چې ورو ورو خلک څنې راټاو شول او په ډېر شوق سره يې ورته غوږونه نيولي ول . کله چې ګنډونکي د خلکو د آورېدوشوق وليد د زړه له کومې يې د نکل ويلو ته ملا وتړله ! .

صوفی وويل :« کله چې خدای ابراهيم(ع) ته اور په ګلستان بدلوي ، کولی شي چې له ژونده داستونځې او نا خوالې هم لرې کړي . هغه خدای چې د اغزو له سترګو ګُل شته کوي ، ژمې په پسرلي اړه وي ، هغه چې له هر څه آزاد دی ، قادر دی چې غمونه په ښادی بدل کړي ؛ هغه چې جسم ته ځان ورکوي ، که هغه مړ نه کړي ده ته هېڅ تاوان نه رسېږي ، بيا ولې د هڅې او کوښښ پرته د خپلو بنده ګانو سوالونه نه مني ؟ يا بېوسې خلک د نفس او شيطان له شره نه ژغوري ؟ »

قاضی وويل :« که د خدای د فرمان له کبله د کاڼي بدوالی او د ډُورو ارزښت نه وی بيا به د شيطان وسوسو هم وجود نلرلی ، يا داچې که چل ول درد او زخم نه وی ، بيا به يې خپل نېک بنده ګان په کوم نوم يادولی ؟ څنګه کېدی شوی چې يوې ډلې ته د صبور د زغم لرونکی خطاب او بلې ته د زړه ور نوم ورکړي ؟ که دشيطان غلا او وسوسې نه وی بيا به صادقينو ، صابرينو او منافقينو هم نه وجود نلرلی ،رستم ، حمزه او يو ډارن به يوشان وی ، د علم او حکمت ارزښت له مينځه ته . علم او حکمت د لار ښوونې د پاره رامينځته کېږي ، څرنګه چې که لاره څرګنده وي ، بيا علم او حکمت د کوم درد دوا ده .؟ پکار نه ده چې د دې بې ارزښته دنيوي دوکان دپاره دواړه جهانونه تباه کړو . زه پوهېږم چې ته څېږګلی او پوه انسان يې ، ستا دا پوښتنې د خلکو د پوهاوې د پاره دي .»

د زماني دا ناخوالي او کړاونه ډېر آسانه دي تر دې چې له حقه لرې او بيل وي . داټول به تير شي ، خو هغه بېلتون همغسې تلنی پاتې کيږي . بريالی او پاچا هغه څوک دی چې له دې دنيا پوه لاړ شي .

## د هغه حکايت په هکله چې صبر له رنځه ډېر آسانه دی

ښځې خپل ميړه ته وويل:« ای نا ځوانه ولې له ډېرې مودې راهيستې له ما سره مينه نه کوې ، تر څو به همداسې خواره او يوازې اوسمه ؟ » مېړه وويل :« زه کار کوم چې ستاسې نفقه لاس ته راوړم ، سره له دې چې فقير يم خو هڅه کوم . ستا خرڅ پر ما لازم دی ، بيا نشم کولی چې دا دواړو پېټې يو ځای اوچت کړم . »

ښځې خپل لستونی ور وښود چې ډېر لوی او خيګ وو .وې ويل :« دومره ځيګ دی چې تن مې خوري او تا تر اوسه دا سې خرڅ کونکی ليدلی ، چې خپله ښځه داسې وساتې ؟ » سړي ځواب ورکړ چې : « زه يو فقير او بېوزلی سړی يم زما دلاسه همدمره کېږي . کولی شي دا لوی لستونی په يوه تار وتړې ، خو له تا پوښتنه کوم چې دا ځيګ او لوی خت ښه دی که طلاق ، له کوم يوه دې ډېر بد راځي .؟ »

ای هغه کسه چې د بلا ، ستونځو او فقر بده وايې ! بې له شکه چې د هوا او هوس نه لرې والی ډېر ګران کار دی ، خو هيڅکله هم له ربه تر لرې والي سخت نه دی . سره له دې چې روژه نيول او جهاد ډېر سخت کار دی خو پايله يې بيا د خالق رضا ده . کله چې الله ستا د حال پوښتنه وکړي ، بيا ټولې نا خوالې هيره وی . دا ټول د دې د پاره دي چې په تا کې له هغه هيلې او غوښتنې را وتوکېږي .

عارفان او الهی ميړني د هغو کسانو د حال پوښتنه کوي ، کوم چې د حقيقت په هکله فکر او د عشق غم لري . تر دې که هغو ته نژدې هم نه وي ، زړونه يې يو بل ته لاره لري ، او په خپلو کې نا خبره نه پاتې کيږي . ته چې د نکلونو او

حکایتونو غوښتونکی یې ! د میناوو داستان هم ولوله . د ډېر عمر د تیرېدو سره سره بیا هم خام یې . په ژوند کېدې په وار وار قضاوتونه او دعوې لیدلي ، بیا هم له ډېرو بې تجربو او نا لیدولو خلکو څنې نا پوه یې . هر څوک چې شاګردی کوي یوه نه یوه ورځ به استادۍ ته رسیږي . ولې د ړاندو په څېر بې‌رته بیرته ځې . دا سمه ده چې پلار او مور دې څه نه دي درښودلي ، لږ تر لږه تا خو کولی شوی چې د ورځې او شپې له خوځښته عبرت آخیلې .

## د سلطان محمود او هندو مریي نکل

د هندوانو او سلطان محمود په جګړه کې سلطان ته یو هندو غلام په لاس ورغی . سلطان هغه په ډېر عزت سره پر شاهي تخت تر خوا کښېنوه و او هغه ته یې د زوی خطاب وکړ . خو غلام خوشحاله نه وو او تل به یې ژړل . یوه ورځ سلطان په ډېرې حیرانتیا سره له هغه پوښتنه وکړه چې :« ته چې دومره شته او ملک لرې ، نازولی هم یې ، بیا ولې اوښکې تویه وې ؟ »

هلک ځواب ورکړ :« ځکه ژاړم ، کله به چې زما مور پر ما په غوصه شوه او غوښتل به چې ما ورټي ، بیا به یې راته ویل کاشکې د سلطان محمود لاس ته ولوېږې ، پلار به مې ویل ، ستا زړه د کاڼو دی چې ده ته داسې وېره ونکې ښېرا کوې ، دا به ښه وي چې په توره ووژل شي نه دا چې د سلطان محمود په لاس کې ولوېږي . ما به د هغو د خبرو په آورېدو سره تعجب کوه او په زړه کې له سلطانه ډېر وېرېدم او فکر مې کوه چې هغه یو ډېر ظالم او دوزخې سړی دی ، په دې توګه له دې تولو پېرزوینو او محبتونو غافل ومه . اوس هغه چېرې ده چې ما د جهان پر تخت ووینی ، هغه بد مرغه وه چې داړپدله . که د محمود رحم یې لیدلی وی ، هرو مرو به یې ورته دعا کړې وی . »

کله چې د فقر او ناپوهی سره لاس او ګریوان شي ، د حساب په ورځ به خاماخا اوښکې تویه وي . د هر چا تن لکه مهربانه مور د هغه پالنه کوي ، خو کله کله بیا تر سلو دښمنانو هم بد وي . کله چې تن ناروغه شي ، د درملو پسې ځې او که قوی شي تا تېري او ظلم ته هڅه وي . بیا دا ظالم تن هغه جنګی زره ده چې نه د ژمي درد دوا کوي نه هم په اوړي د هغه پېتی زغملی شي . دا بد یار وزغمه چې صبر ، د روح د پرخوالي او خلاصون سبب کېږي . د سپوږمی صبر د هغې د ځلېدو سبب شو او د منکرانو په وړاندې د انبیاو صبر ، په خلکو کې د هغو د ګرانښت او د الله د رضا سبب شو . که د چا سره یو د ارزښت وړ ګران شی وینې ، پوه شه چې د هغه د لاس ته راوړلو د پاره یې صبر کړی . که دصبر سره روږدی شي او هغه درته ګران وي ، ځرنګه چې د خدای سره دې مینه کوې ، نور نو څوک تا ته تاوان نشي در رسولی . ځکه چې هغه تا یوازې نه پرېږدي ، همهغسې یې چې د انبیاو پالنه وکړه ، تا هم ژغوري .

که د نا پوه کس سره ملګرتیا وکړې ، یوه نه یوه ورځ به درته تاوان در ورسوي ، ځکه چې هغه مکار ، دوه مخی دی . د هغو خبرو ته غوږ مه نیسه چې په زهرو لړلي دي . د هستۍ مور دي که په ناز او نعمت و روزي ، رنې سترګې درکړي او د پلار سره دې جګړه وکړي چې تا مکتب ته بونځي چې نا روغه او خوار نشي ؛ پوه شه چې د پلار څپېړه تر دې خواخوږی ډېره ښه او خوږه ده . مور لکه نفس او پلار لکه سلیم عقل دی چې په لمړیو کې تا ستونځو ته مخامخ کوي او په آخره کې ستا له مخې تول بندونه لرې کوي .

ای د عقلونو خدایه ، زموږ لاس نیوی وکړه ، تر څو چې ته ونه غواړې هېڅوک څه نشي کولی . زموږ دا تمناوې له تا دي او اجابت کونکی هم ته یې ! اول ته یې ! او آخر ته یې ! آورې او وجود لرې . موږ په مختلفو شکلونو شته شوي اجساد یو ، چې ستا د وجود پرته هېڅ یو ، بیا په موږ کې د عبادت مینه زیاته کړه ! دا جبر لکه وزرپکامل انسانان مقصد ته رسوي ، او تن پالونکو او کافرانو ته لکه زندان دی چې د هغوی لاره یې تړلې ده .

## لیس للماضین هُم الموتِ انمالَهُم حسره الفوت

څوک چې له دې دنیا ځي د مرګ له کبله ناکراره ندی ، بلکې په حسرت سره وای چې ولې مې د ژوندانه فرستونه له لاسه تللي ، او هېڅکله د مرګ او دلاسه تللي رمان په هکله یې سوچ نه وو کړی .

مړي په خواشینی سره وای ، ولې د انځورونو په الهي نښو نښانو نه پوهېده ؟ تر هغو چې سین وي ، خوځښت وي څپه به د اوبو پر سر روانه او ځګ به هم مینځ ته راځي . دا ځګ د سین د ظاهري حقیقت یوازینی برخه ده او لکه د اوبو پر مخ ځګ تلونکی دی ، ځرنګه چې که باد نه وي دوړې او خاورې هم پورته نه ځي . بیا هر څه چې وینې د هغه علت هم ولټوه . په انسان کې هم دا سوچ او نظر دی چې تلنی پاتې کېږې او دا جسم د سین ځکه ته ورته دی . په

لارتلونکي سالکان هم د بېلو بېلو لارو پسې ځي ، يو د لارې اوږدوالي ته ګوري او بل بيا د يار د جمال ليدو ته سترګې په لار دی . د دې دوه ليد لارو تر مينځ ډېر ستر توپير موجود دی .
اوس چې د د نيستی د سين سره آشنا شولي ، بيا د سترو ميړنو په څير د نيستی پسې شه ، ځکه چې د خدای او دهغه سترو دوستانو کارونو بنا پر نېستی ولاړه ده .
هر چيرې چې نېستي ډېره وي ، هلته د خدای حضور هم ډېر وي .الهی فقر او نېستی انسان لوړو مرتبو ته رسوي او درويشان د هغه د لاسته راوړلو د پاره له ټولو مخکي وي .
کدا هغه چا ته ويل کېږي چې شته يې د لاسه تللي او هېڅ ونلري ، خو فقير هغه څوک دی چې مال لري ، قانع هم دی ؛ د خپل جسم او دهغه له غوښتنو لاس په سر شوی دی . بيا د ناخوالو ګېلې ګذارې مکوه چې ارزښتناکه متاع ده . لاړه شه د دې خبرو په وره کې فکر وکړه ، که د تفکر قوت نلرې ، بيا ذکر وکړه ، چې ذکر عقل راخوته وي . آصل جذبه ده چې هغه ته بايد ورسېږې ! په جذبه کې هم مه تمېږه ، هڅه ، کار د ناز او نعمت څخه ده ده وکړه .

د وينا قوت د خپل کمال له کبله غوږونه د ځان خواته رابولي او لکه خوږ ژبی ښونکی ماشومان درس ته مجذوبوي .
په حقيقت کې د آورېدونکو اشتياق ، وينا وال ته د ښې وينا قوت ور ببښي . چنګ غږونکی هم که آورېدونکی ونلري شعر هېروي او ګوتې يې د ساز د ږغولو ميل نه کوي . که انسان کې د الهی اسرارو د آورېدو وړتيا نه وی ، هېڅکله به وحيه پر هغه نازله شوې نه وی ، که د ليدو د پاره سترګې نه وی ، د ځمکې او آسمان دا ښکلا وې به هم نه وی .
هو د نکل کونکي د نکل پاتې برخه :
قيصه کونکي سړي د قيصې په ترڅ کې وار په وار د ګنډونکو غلاو ته اشاره کوله .د خلکو تر مينځ يو ټُرک و چې د دې پرده څيرلو سره په غصه شو ، وې غوښتل چې د دې کار مخه ونيسي .

که دې چېرې وليدل چې دوه کسه په جنګ دي او يو د بل رازونه بر ملا کوي ، پدې پوه شی چې خدای د دوی تر مينځ دا اور لګولی ، په دې توګه الله د هغوی پټ رازونه څرګنده وي . ټُرک په غصې سره وويل : « ای قيصه کونکيه ! ستاسو په ښار څوک د دې مکر ، تېراېستلو او غلا ماهر دی . ؟ »
قيصه وينکي وويل :« يو ګنډونکی چې نوم يې يورو شش دی ، چې په دې کار کې يې د نورو غلو لاسونه تر شا کلک تړلي آو د هغه دلاسه ډېرو خلکو ته تاوان رسېدلی . »

ټُرک وويل :« زه له نا سره ژمنه کوم چې هغهېه له ما هېڅ غلا ونشي کړی .»
هغه سړي وويل :ه ځانته ډېر مه مغروره کېږه چې ، تر تا ډېر چالاکه خلک هم د هغه کار ته حيرانه دي . تا به هم و داړي . »
هغه ټُرک په ډېر ډاډ سره وويل : «نه هېڅکله ! هغه نه شي کولی چې له ما ، زوړ يا نوی شی غلا کړي . »
ملګرو يې هغه ته لا زيات تاو ورکوه ، تر دې چې ټُرک وويل :« که هغه سړی وشي کړی چې له ما څه سامان يا ټوټه غلا کړي ، زه به خپل تازي آس هم هغه ته ور وبښم ، که يې ونشوی کړی ، زه له تاسو آس غواړم . »

هغه شپه د غله خياط سره د مخامخ کېدو له وېرې د ټُرک له سترګو خوب وتښتېد . ګهيز د وختخ پاځېد ، د وربښمو يوه ټوټه يې د ځان سره وآخيسته او د هغه تېر ابستونکي ګندونکي دوکان ته ورغی .ګندونکي د ټُرک په ليدلو سره هغه تود ښه راغلاست ووايه او د ټُرک په ستايلو شو . ټُرک هم چې وليد هغه يو دروند او خوږ سړی دی ، خپله قېمتي ټوټه يې هغه ته ورکړه ، چې د جنګ جوړه ترې جوړه کړی .
خياط د هغه سترکو ته په کتو سره وويل : څه مې چې د لاسه وشي له تا به يې و نه سپموکم ، ګندونکي ژونډې بېرته کړې او په ډېر حرارت سره يې د جنګ د ډګرونو ، د يوه خسيس سړي د کړو وړو د خندا وړ خبرې کولې .
ټُرک د سړي د ټوکو سره په خندا شو ، چې د دې سره يې وړې سترګې وترل شوې . په همدې وخت کې ګندونکي د ټوټې يوه برخه پټه او د زنګانه لاندې کېښوده ، داسې چې له خدای پرته بل هيڅوک پوه نشول .
ټُرک د داستان د آورېدو په خوند کې داسې ډوب شوی وو چې ، پرونی ادعا ترې هيره شوې وه .
ټُرک په ډېرې عاجزی سره له خياط غوښتنه وکړه چې ، يو بل طنز هم ووای .
ګندونکي هم سمدلاسه يوه بله خوندوره قيصه پيل کړه ، چې ټُرک د خندا سره په شا مات شو او په همدې حالت کې خياط بله ټوټه هم د ورانه لاندې تېره کړه .د دريم ځل د پاره ټُرک بيا له ګندونکي د نکل ويلو غوښتنه وکړه . وېويل : « که د خدای په خاطر هم وي بيا يوه بله قيصه ووايه . »خياط تر پخوا خوندوره لطيفه وويله او ناپوه مست ټُرک ورته د خندا له کبله په شا اوښتی وو . خياط چې وليدل ميدان ورته تش دی ، بله لويه ټوټه يې پورته کړه ، خو کله چې ټُرک د څلورم وار د پاره د لطيفې ويلو غوښتنه وکړه ، د ګندونکي زړه پرې وسو او هېڅ يې ونه ويل .

ټُرک ده ته د ورپېښو تاونونو خبرنه وو ، په داسې حال کې چې د خیاط مخ یې ښکلوه ، له هغه یې د بلې لطیفې د ویلو غوښتنه کوله .
ای هغه کسه چې آفسانو ته محوه شوی یې ، تر څو په داسې حالت کې اوسې‌دل غواړې ؟ تر تا بله د خندا وړ قیصه نشته ! خپل ځان پورې وخانده. تر څو به د جهان د په مکیزونو او دروغجنو آفسانو باور کوې .؟ نور نو عقل او ځان درته پاتې نه دی د ژوند دې غولونکو طنزونو د ډېرو پټ وریاو ګرانې شتمنی یې ترې لوټې کړې .

ګندونکې مخ ټُرک ته ور واړه وه او وېویل :« ای ګرانه ! د بل داستان له آورېدو تېر شه چې خوار او ورو ورو به دې خت تنګ شې. هېڅوک د ځان سره دا لوبه نه کوي ، ولې خاندې ؟ که پدې پوه شې چې څه در سره شوي د خندا په ځای به وژاړې .
د دې د پاره چې همداسې خوشحاله پاتې شې ، تل له دنیا غواړېچې دا داستانونه درته ولولي . د هغو تېراېستلو او آفتونوته پام نه کوې او د بد امنی او بدل نه یې خوابدی کېږې .پوښتنه کوې چې ولې د زهرې ښایسته ستوری نه نڅېږې او د ځان سره نېکمرغي او سعادت نه راولي ؟.ستوری ورته په ځواب کې وای :« که خوښی او د نکل ویل زیات کړم ، بیا به بېسده شې او هر څه به دې د لاسه ولاړ شي . د ستورو دې دروغجنو نکلونه ته دومره سترګې مه نیسه . عشق په خپل زړه کې وساتهاو د هغه نُور ته ووګوره چې خوشحالي دې ډېره شي .»

## مثل

یو سړی د خپلې مغازې په لور وخوځید ، د ښځو یوه ستره کنه ګونه یې ولیده چې د ده دتلو لاره یې بنده کړې وه .
سړی بېړه درلوده ، د یوې ښځې نه یې پوښتنه وکړه :« ای ښځې ولې د دومره پېغلو سره دلته را ټول شوي یاست ، ؟ او لاره مو بنده کړې ده .»
ښځې ځواب ورکړ چې :« د دې د پاره ، سره له دې چې ښځې ډېرې دي خو تاسې نارینه بیا هم لواطت او بې‌لارې توب ته هڅه کوی . »
خپلو ښځو ته د نفقې په ورکولو سره ، ستاسې روزي نه کمېږي ؛ د ښځو د تکلیفونو له کبله مه خوا بدی کېږه ، چې د دې ټولو ناخوالو سره سره ښځو ته اړ یاست او نشی کولی چې له هغوی لرې شی .

د خدای سختې آزموینهته د الله د رحمت او نعمت په سترګه ووګورئ ! ابرهیم(ع) له مرګه ونه دار شوه ، ځکه ژوندی پاتې او ونه سوځېده . بل له شرافته تېښتې ، شړلې او سوځې . کله کله د طلب په لاره مخالف لورې ته قدم ایښودل په کار دې .

## مثل

یو عارف د کشیش (عیسوی راهب) پسې لاړ او پوښتنه یې ځنې وکړه :« ای بوډا ! ته زوړ یې که دې ګیره ؟ »
کشیش ورته ځواب ور کړ چې :« زه ځکه چې د تر ځوانی پورې مې ګیره نلره او کلونه کلونه مې بې له ګیرې ځوند کړی . بیا زه زوړ یم . » عرف وویل :« ګیره دې بدله شوې ، توره وه ، سپینه شوه ، خو تر اوسه هم ستا بدو اخلاقو بدلون ونه مند ، هغه تر تا وروسته زېږېدلي . خو له تا مخته شوو . ته لا همهغسې خام پاتې یې ، ځرنګه چې دنیا ته رغلی وې . د دنیا په دې تاوده تناره کې پوخ نه شوې . لکه د موسی(ع) قوم ، لا هم پر خپل ځلوېښت کلن ځای او ځان خوښونه ټینګ ولاړ یې . تر هغو پورې چې په زړه کې د خوسې مینه لرې ، دا درې سوه کلن واټن به لنډ نکړې ، لکه د بنی اسرایلو قوم . تر هغو یې چې د خوسې خیال له سره لرې نکړه ، سرګردانه او لالهانده پاتې شول . ای بوډا ! اوس هم که د خپل بدن له اجزاو پوښتنه وکړې ، هر یو به سل ژبې خلاصې کړې او د خدای نعمتونه او روزې به درته وشمېرې . که د آفسانو غوښتونکی یې ، د بدن هر غړی به دې د خوښیو او غمونو په زرهاو ورځنی لیدلې قیصې درته وکړې . دا به وای ، که یې خوړلې نه وی ، خوند به یې نه وی آخیستی او دمره به ډنګر شوي وای چې د تک وس به یې هم نلرلی . خو هغه خوښی لاړې او دا غړي لا پاتې ؛ لکه پخته چې په اوړې کې وده کوي . اوړی ختمېږې خو هغه لا همهغسې په ښاخونو پاتې وي ، دا غړي پرله پسې درته د نعمتونو آفسانې لولي .

که د خدای او پسرلي پېرزوینې نه وې ، باغ هېڅکله له مېوو نه ډکېده . د ونو غوټی د پسرلي د وجود ځرګندونه کوي ، سره له دې چې اوبه اور وژني ، خو د اوبو د تویولو سره د اور پر مخ ځکونه خوټېږې او داور نا ویلې بولې . د خدای پالونکو د بدن اجزاوې هم همداسې دي ، هر یو ځانته خبرې او حال لرې . خوله د حق د ښکلاو په وړاندې وازه پاتې او سترګې بیا د دې ټولو انځورونو په لیدو سره بېسده شوي . دا هغه زامن دې چې د خدای د تجلی له نُوره زېږېدلي ، او بې له شکه په ساده پردو کې پیچل شوي .

اوس دې چې ډېر عمر تېر شویاو په زرهاو واره دې د لمر موسکا لیدلي او چمن پر ناو دې لاس وهلی ، هغه ټول تللي ، ته او ستا غړي پاتي دي . د هغوی نه پوښتنه وکړه یا دا چې در په یاد کړه چې ستا خالق څوک وو ، او ټول عمر دا ښکلا وې دې له کومه لیدلي دي .
پوه ښه چې ته لکه ګل یې او ستا سوچ لکه ګلاب ، دا به ډېره عجیبه وې چې ګل دې د ګلاب نه منکر شي .د کافرانو له دې بیزو صفتیونه تېر شه او خپل مهر د انبیاو ته ورته کسانو ښنو ته وشینده .
دا لجاجت او سرتمبګي پرېږده چې د بېزو صفتو سره ښاي . منمونکی او شاکره اوسه ، په دې باد راوړو پیسو چې کومې مانۍ جوړېږي ، هغه د ظالمانو او سپو هستوګن ځي دي . د عزت خزانه په کندوالو کې لټوه . د ناپوهو ځان خوښونکو لرې شه چې تېرباسي دي ، د زیرکانو او عاقلو لورته مایله شه .

## د هغه فقیر داستان چې د کار اوکسب پرته روزي یې غوښتله

یو بېوزلی مفلس سړی وو ، چې د ولړې لکبله یې کار نه شوی کولی . بنا پر دې شپه او ورځ به پر لمانځه او دعا بوخت وو . خدای ته په زاریو وو ، او یل به یې :« ای عالم او ساتونکیه خدایه ! په خپله تا زه بېوسي او لټ شته کړی یم ، بیا له زیار پرته روزي هم راکړه .
ربه څرنګه دې چې پینځه ظاهري او پینځه باطنی حواس راکړي ، بیا له هغو د کار آخیستلو وس هم راکړه . »

هغه لکه د داود(ع) د زمانی سړی وو ، چې شپه او ورځ به یې ، له خدایه د زیار او ستونځو پرته حلاله روزي غوښتله . تر دې چې د نېکمرغی غویه د هغه کورته ور دننه شو . کله به د دعا د تأخیر لکبله بد ګمانه شو او کلبه هیله مند . کله به چې ناهیلی شو د خدای له خوا ورته پیغام را ورسیده ، چې هغه ته یې ویل : « ستا رب ټیټونکی او جیګونکی دی ، له همدې کبله د کال یوه برخه سممسوره او شنه وي ، بیا نیمه نوره یې وچه! د ژوند نیماي شپه او نیمه نوره یې ورځ وي . انسان کله روغ رمټ وي او کله هم نارغه بې وسی . »

قحطی ، معموری ، سوله او جنګ دا ټول د دې نبنه ده چې ، د جهان مرغی د وېرې او امید د دوه وزرو سره ، خپلي آلوتني ته ادامه ورکوي .
دا نړی لکه لرزېدونکي پاڼه د تاوده او مرګوني باد په لاس کې ده ، تر هغو چې د الهی وحدت د شرابو څرک د سل رنګ خمونو نرخ مات نه کړي ، د جهان کار به همداسي وي ، په د داسي حال کې چې د آخرت جهان بیا لکه مالګینه ځمکه په ځان کې هر څه ته د بېرنګه کېدو د پاره ځای ورکوي . بې ارزښته خاورې ته ووګوره ، هره ورځ نوی رنګ خپلوي ، خو ګوهر بیا تل یو رنګه وي . د معنویت مالګینه بېدیا هم له ازله تر ابده تلپاتي او تازه وي .

په دې جهان د تل د پاره زوړ د نوي په ضد وي ، خو په معنوی جهان کې د زاړه او نوي د پاره هېڅ معنی نشته ، همدارنګه ضدیت او ورتوالی هم خپله معنی د لاسه ورکوي . همهغسي چې د حضرت مصطفی(ص) نُور جاذبی د یهودي . مشرک ، مسیحی او زردشتي اضداد سره راټول او یو رنګه کړل . په سلګونو زره لنډ او اوږده سیوري د هغه لمر په وړاندې تت او نشت شول . د هغه لمر په وړاندې ، اوږده ، لنډ او سورور ټول سیوري ونشوی درېدلی . د محشر د ورځي یو رنګي ډېره څرګنده ده ، ځکه په هغه ورځ ټولي معناوي څرګندې او په صورت بدلېږي . دا د سل رنګی او سل زره توب جهان دی ، ځکه د یورنګی عالم نشي څرګندېدلی ، همهغسي ، کله چې د تور زنګي وار وي ، رومی ته ښاي چې پټ شي .

دا سپي د څو ورځو د پاره آزاد دي او بې خرته روزي ور په برخه کېږي . دوی له دې غافله دي چې د حق زمري ، تل د خدای امر ته سترګې په لار دي ، چې ځانو نه څرګند کړي . د حشر ورځ مومینانو ته لکه آختر او د کافرانو د پاره د هلاکت ده . بازان د سلطان په لور آلوزي او کارغي ادیرې ته درومي . په دې دنیا د کارغو خواړه هډوکي او مرداري دي ، د حکمت خواږه چېرې او کارغه چېرې ؟ .
کوم چینجی چې په مردارو کې خوځېږي د باغ سره هیڅ تړاو نلري .
نا مرده کسان د نفس سره د جهاد ورتیا نه لري ، ځکه چې د ښځو د پاره قتال ممکن ندی او نشوو کولی چې له هغو د اکبر جهاد تمه وکړو ، له یو لړ شمیر ښځو پرته چې ته به وای ، رستم په هغو کې پټ دی . لکه بي بي مریمه (س) که څوک په خپل ځان کې میړانه ونویني ، د حشر په ورځ چې د عدالت ورځ ده ، د ځان وړ جزا به وویني ، پوه شه په هغې دنیا ستا حشر د هغه شی سره کېږي چې په دې فانی دنیا کې له هغه سره خوښ وې . فیل د فیل سره اوسېږي او مچ د خپل ورته جنس سره . همهغسي چې رسول اکرم(ص) د خپلو صدیقو یارانو اوسېدهاو ملعون ابوجهل د خپلو

پستو ورته جنسو سره ناسته ولاړه کوله .

د مرو له حاله عبرت وآخلئ . آدمی په لومه کې مښتي مرغه ته ورته دی .
داسي کسان له اختياره پرته د الهی غلي عدالت مزه څکي . هر کس خپله قبله لري . هممغې چې د جبرآيل او څپېځلو ځانونو ځای په جنت کې دی ، د نس پرسو قبله خوان ، د عرفانوقبله د وصال نُور ، د فيلسوفانو، خيال ، د زاهد کعبه خدای او د تمه کونکو قبله د زرو کڅوړه او .... زموږ روزی په زرين لوښي کې ايښي خواږه شراب دي او د سپو روزی بيا د خولي لاړې ، اور په بې ارزښته کاسه کې !

ته چي په دې دنيا د خپل ملګري سره د آرامی او رضايت احساس کوې ، بيا ولي په هغې دنيا له هغه تښتې ؟!

پايله داشوه چې هغه لټ سرپيه خوب کې رښا وليده ، يو غيبي غږ د هغه لور ته راغی او وې ويل :« ای د خوارو ځکونکيه ! د هغه کتاب پلورونکي ګاونډي کورته لاړه شه ، د هغه په کتابو کې په دې نښو نښانو سره يو کاغذ دی هغه تر لاسه کړه . بيا يوازې يوه کوټ ته لاړ شه او هغه ليک ولوله ، که درته څرګند نشو ، خپه نشې ، ځکه چې له تا پرته بل هېڅوک هغې خزانې ته لاس نشي ور وړی . څه دې چې په هغه ليک کې ولوستل ، هغه حافظې ته وسپاره .

د راويښيدو سره سم هغه سړی د خوښی لکبله په خپل خت کې نه ځايده . هغه فکر کاوه چې د دوست له خوا يې ځواب آورېدلی . هغه د ګاونډي د دوکان په لور و خوځېد . د کتابونو مينځ يې لټاوه تر هغو چې هممغه ليک يې د ويل شو نښو سره سم ومند . ليک يې پټ په جوب کې کيښود او خپل کتاب پلورونکي ملګري ته يې وويل :« زه ځم بيا بېرته راځم . » له هغه ځايه لرې شو ، کاغذ يې راوېست او ولوست .

ليک يې ولوست او ډېر حيرانه شو . ځکه ده نه منله چې ، په داسي آسانی سره به د خزانې نقشه تر لاسه کړي . په ذهن کې يې يو سوچ راغی چې الله د هر شي حافظ دی او نه پرېږدي چې څوک دې داسې بې‌ځايه څه لاس ته راوړي . که ټولي بېدياوې له سرو او سپينو زرو ډکې شي ، د الله د رضايت پرته هېڅوک نشي کولی چې د يوې اوربشې په اندازه شی ترې پورته کړي او که يو کس په سلهاو کتابونو ولولي د الله له خوښې پرته يوه کلمه هم ذهن ته سپارلی نشي . په داسي حال کې ، که د حق خدمت وکړې ، د يوه کتاب د لوستلو پرته به هم په سلهاو نادر علمونه زده کړې .

موسی(ع) خپل لاس په ګريوان کې دننه کړ ، او هغه يې د ځوارلسمې سپوږمی په څېر بېرته ځلانده راويست . د زموږ د پوهاوي د پاره وو . هغه څه چې په آسمانونو کې دي ، ممکنه ده چې د انسانانو په ژوند کې هم پېښ شي . که داسي نه ده ؟ چې خدايتعالی د دواړو جهانونود شته کېدو دمخه د انسان عقل خلق کړ . دا خبره پای نلري ، خو مچ د عنقا د اسرارو محرم کېدی نشي . بنا پر دې اوس به بېرته د فقير او خزانې قيصې ته راوګرځو .

په خط کې ليکل شوي وو ، په پلانکي ښار کې يوه ګنبده ده چې د هغه ستر سړي قبر دی . دوه درې لري چې يوه د ښار اوبله د بيديا په لور ده . هلته لاړه شه ، شا ګنبدې او مخ قبلې ته ودرېږه ، بيا غشی په ليندی کې کېږده . په کوم ځای کې چې غشی ولوېد ، هممغه ځای وکينه چې خزانه ده .

هغه دا کار وکړ . بيل او لېندی يې را وآخيسته د بديا په لور روان شو . غشي يې په ليوندی کې کېښود او په ټول قوت سره يې غشی پرېښود او د غشي ځای يې وکينده . خو د خزانې هيڅ پته ونه لګېده . غشی ويشبل او د هغه ځای کيندل د هغه ورځنی کار شو ، تر دې چې خلک خبر او په ښار کې لويه غوغا جوره شوه .

يوې ډلې چې د فقير څارنه کوله ، پاچا ته ورغله او وې ويل :« پلانکي د خزانې نښه منډلې او هره ورځ د ځمکو په کيندلو بوخت دی .»
پاچا هم د هغه پسې لاړ ، فقير پوه شو چې سلطان خبر دی ، د څه ويلو پرته يې هغه کاغذ سلطان ته ورکړ .
او وېويل :« زه د يوې مياشتي راهيسې د هغې خزانې پسې ګرځم ، خو هيڅ پته يې ونه لګېدله . کېدی شي بخت ستا ياري وکړي او هغه لاس ته راوړې . »

شپږ يا کيدی شي ډېرې مياشتي پاچا له هرې خوا غشي ويشتونکي راغوښتل او په غشو لګېدلي ځايونه يې کيندل ، خو بيا هم د خزانې څه نښه څرګنده نشوه .
پاچا د دښتي وليښت ولېښت و کينده . په پايله کې ناهيلی شو ، هغه کاغذ يې د فقير مخ ته وآچوه او وې ويل :« دا بې ارزښته کاغذ وآخله چې ، يوازې ته د دې ور يې . تا د خپل لېونتوب ، بېکاری له کبله زړه ښه کړی چې له

وسپنې وابښه شنه کیږي . ورځه که دې ونه مند غم یې نه کوې او که دې ومند تا ته دې حلال وی .»

نا هیلي هیڅکله عشق ته لاره نه مومي ، دا عقل دی چې د نا امېدی په لور ځغلي . لېونتوب د عشق کار دی او د هغه په وړاندې عقل د ګټې پسې وي . عشق تن ربړونکی بې پروا او په بلاو کې لکه د ژرندې لاندینی تیږه دی . هغه ډېر هڅانده او ځېږځلی لوبغاړی دی ، او مزد غوښتونکی ندی . دومره مېړانه لري چې خپله هستي هم د کوم علت پرته بایلي . پاکه لوبه او مېړانه د بې علته بایلو نښه ده . هر چېرې چې یو ملت په فضل او خپلولکی سره ژوند کول غواړي ، بیا د هغو پاک طینته وګړي د قربانی ډګر ته دانګي .هغوی له خدایه امتحان نه آخلي ، د ګټې او تاوان په فکر کې هم نه وي .
لنډه دا چې پاچا نا هیلی شو ، هغه کاغذ یې فقیر ته ور کړ او لاړ . خو فقیر په خپل خوب او دعاګانو ایمان درلود ، پرېکړه یې وکړه ، بیا د خزانې په لټون بوخت شو .
له هغې وروسته د ښمنانو له ځارنې بېغمه شو ، هغوی فکر کوه چې لېونی دی ، نور نو د هغه پسې نه ګرځېدل .
فقیر د عشق کارو بار خپل کړ او په خپل کار لګیا وو . نور څوک تر مینانو لېوني نه دي . عشق دی چې عقل کوڼ او ړنده وي . تر دې چې د طب علم هم د عشق درملنه نشي کولی ، ځکه چې د طب علم د عقل پوهه ده ، د عقل علم په زړه بایلو او ورو هیڅ نپوهېږي .
فقیر سړی داسې مین وو ، چې د غیبي ږغ او پیغامه پرته ، د هغه د امید غوړونه د لبیک انګازې آورېدې . هغه لکه کوتره د حق خوا ته جذب شوی وو ، پرته له دې چې څوک یې وبولي همهغې خواته ته . تر دې که به یې ورته ، بیا به هم طواف ته ورته ، ځکه هغه پوهېده چې خپله دانه او خواږه د حق د کبریای بام پر سر مندلی شي .

هغه چې داسې مین وي ، که روح یې انکار وکړي ، د عشق ساتونکی به د هغه روح وسوځوي او هغه ته واي :« د عشق سلطان دې بولي ، ژر پاڅه او راشه .»
زه هم لکه مسته کوتره ، د دې بام او کوډلی پر شا او خوا آلوزم . لکه د عشق جبرآیل او سلام ته یې ! زه ناروغه او شفا ښښونکی عیسی (ع) ته یې ، بیا د سخاوت سمندر په ځپو راوله او د دې ناروغ پوښتنه وکړه ! دا هغه ناره ده چې خدای څرګنده کړه ، بد مرغي دې هغه ناره چې پټې پاتې شي .!
آدمي دوه خولې لري ، یوه هغه خوله چې پرې خبرې کوي ، بله هغه خوله چې د ژوندو تر شا پټه ده . بیا دانسان ټولې زمزمې او نارې له هغه دي ، که د حس په ژبه یې خبرې نه وی کړې ، نری به له خوږو ډکه شوې وی .
د روح د خولې دا ټولې سمندریخوټېدا له څه دي ؟ دا نعرې او فریادونه له کوم ځایه سر راپورته کوي ؟ په دې دنیا کې پست او ناولي خلک تل ّځه کوي چې ، پاک او نُورانی انسانان له مینځه یوسي ، یا یې هم پټ کړي ، ترڅو چې د دوی کرغېړنتوب څرګند نشي . حسودان دوښمني کوي ، د روح یوسف (ع) ته ښاي چې د څا په تل کې پټ پاتې شي .

دا دی زه بې له شرا ب او میو ، مست شوی یم او سحرا ته مې مخه کړې . بیا هغه بې خزانې فقیر ته ووایئ منتظر پاتې شي ، ځکه چې زه شڼا کې ډوب شوی یم . ای فقیره ! له خدایه مرسته وغواړه ، نه لکه زه یوه مست نه ، زه له ځانه ناخبره شوی یم ، نور هېڅوک نه پېژنم ! ای ساقی څه نور دراندہ شراب راوړه ، چې مستی مې لا زیاته او خوشي شم . زه خدای پېژنم ، د همدې کبله د هغه په وړاندې مات شوی یم . هغه لکه پېړ دی ، چې د سل کاله وروسته پېښېدونکې پېښې ویني .

هغه څه چې عام خلک یې په هنداره کې نه ویني، د تجربو خاوند پیران یې په خامه خښته کې وینی . ای هغه کسه چې د دنیا په خزلو او خسو پوري مښتی یې ، او فکر کوې چې ارزښتناکه دې ! پوهه شه چې تېروتی یې . ته جګ او له معنا ډک روح لرې ، تا ته ښاي چې لکه کب د الهی حقیقت او معرفت په سمندر کې لامبو ووهې ، خپل عمر په وچه کې مه تېروه ! د الهی وحدت سین سیال او مثال نلري ، ځپې ، کب او ګوهر ټول د سین برخه ګڼل کېږي ، او دې سین ته شریک نشي مندلی . مشرکان لوڅ سترګو خلکو ته ورته دي ، بیا زه هغو ته څه ووایم .؟ هېڅ نشم ویلی ! ماته ښاي چې د هغو تر څنګ خپل ژوند ته ادامه ورکړم او چپه خوله پاتې شم او کله مې چې د راز محرم ومند ، بیا به خوله بېرته او ځان اسرار به بربند کړم ، لکه بُلبل کله چې ګُل ومومي بیا نارې وهي . کله دې چې کوم تېر ایستونکی مکار سړی ولید ، لکه تش منګی څرګند او غلی شه ، ځکه چې هغه دښمن دی ، که وخوځېدې ، هغه به د جهل په کاڼه ستا منګی مات کړي .
د جاهلانو په وړاندې د زغم نه کار وآخله ، د جاهلانو په وړاندې صبر ، زړه ته صیقل ورکوي . تا ونه لید چې د نمرود اور ، د نبی ابرهیم (ع) زړه ته لکه صیقل داسې شو او د کفر ځورونو او صبر د هغه د روح هنداره پاکه کړه .

د هغه مین فقیر ږغ آورم ، څکه چې د هغه سر همرازه یم . هغه د خزانې غوښتونکی نه دی ، بلکې په خپله دی خزانه ده . هغه چې د الله سره دوستي کوي ، په حقیقت کې دی خپله دوست دی . کله چې خدای ته سجده کوي ، داسې

وګنه چې هنداري ته ولاړ دی او خپل ځان ته تنده لګوي . داسې کس د خدای په وجود کې فاني او نشت شوی . هغوی چې په هنداره کې خپل مخ ويني ، په ناپوهی او خيال غولېدلي ، سترګې يې لوڅې دي . کله چې وای :« لااله الاالله» د واحد خدای پرته بل هېڅ نشته ، بيا وحدانيت ته رسېدلی يي . دا دی د دې وخت را رسېدلی چې خدای مې بېرته په سد کړي ، تر څو چې الهی اسرار برملا نه کړم او خپله خوله د رحمت د چينې په اوبو وونځم . هغه واي : « همغه د درويش او خزانې نکل وايه ، د آورېدونکو انتظار پای ته ورسوه ، ځکه چې ما پر هغوی د رحمت له چينې ځښل او اسرار حرام کړي . هغوی خپلې لمنې له خاورو ډکې کړي او پر دې چينه يې شيندي ، چې وچه شي . خو دا چينه سين ته ورته ده چې په څو موټو خاورو نه وچېږي .»

معمولی انسانان د انبياو پر خلاف عمل کوي . هغوی پر شيطان ډه ډه لګولي ، او خاوره خوري اوبه پرېږدي . ته پوهېږې چې سترګې دې د څه پورې نيولي ؟ خپلې دننه نی حقيقت ليدونکې سترګې پرانيزه ، بيا به د پېرزويني د لمر انځور چې د هغه دکرم له برکته په اوبو کې ځرګند شويووينې . هغه د مينو بنده ګانو کفر په توبه بدلوي ، هغه ستر ببنونکي ، خپلو مخلوقاتو ته د دوستی سل چينې ببنلي دي ؛ غوتۍ ته يې اغزي ور کړل چې د هغې ساتنه وکړي ؛ دشپې له زړه ورځ زېږوي ، او بېوزلي ته شتمني ورکوي . خليل ابرهيم(ع) ته له شګو اوره جوړه وي ، غره ته وای چې د داود (ع) پسې لاړه شه او غر ناري وهي چې :« که خلکو ته يوازې پرېښودې ، زه در سره ملګرتيا کوم . »

هغه فقير درويش د توبې ور وواهه او وې ويل :« ای په تولو رازونو پوه ربه ! ما دهغې خزانې د مندلو د پاره ډېرې بې ځايه هڅې ،تمه او بيره مې کوله ، ځکه مې تر خورو د مخه خوله وسوځېدله . زه نپوهېدلم ، کومه غوټه چې ته وتړې ، يوازې ته د هغې خلاصونکې يې .» د
حق د کلام تفسير يوازې حق کولی شي . کېدی شي چې د هغه راز په په نظر آسانه راشي ، هيڅ کله داسې نه دي . بنا پر دې فقير وويل :
« خدايه !! د بيرې په هکله زما توبه ومنه . دا ور تا ترلی ، که لازمه وي ته يې خلاص کړه . د دعا دکولو په هنر هم نپوهېږم ، هنر چېرې ، زه چېرې او زړه چېرې ؟ ! دا تول ستا دي . زما تدبير او سوچونه د بېړی غوندې دوبېږي ، هله زه پاتې کېږم نه هنر ! تن مې لکه مرداری پر ځکمه نا خبره پرېوزي ، داسې ! ته به واې چې نهنګ خوړلی يم . ګهيز کله چې لمر د تيارو ريبنې باسي ، دا نهنګ خوړل شوي شيان ، بېرته له خولې راباسي . هممغسې چې يونس(ع) د نهنګ له خېټې وژغورل شو ، خلک د شپې په تياره کې آرامی ته رسېږياو سحار بيا د تازه تېزو سترګو ، هيبنو غوږونو او سپک تن سره زېږي .

کريم خدای ، د شپې په داړونکي زړه کې د رحمت خزانې ايښي . بنا پر دې ، ترهغو چې له هغه سره يې ، مه ډارېږه ، د هيڅ وحشتناکه او کرغيرن شي مه تښته ، موږ ته شپه توره زنګي ښکاري ، په داسې حال کې فرښتې ته ورته ده .

تا ون ليدل چې ساحرانو د حقيقت په ليدو سره ، لاسونه و پرکول . او په الله يې ايمان راوړ . کوم څوک چې له الله پرته له بل شی وډار شي د هغه په دوستانو کې نه شمېرل کېږي . سره له دې هم الله ته دوست او نه دوست دواړه ګران دي . هغه د وړ او نا وړه سره په رحمت چلند کوي .

ای هغه کسه ! چې پردی په دوست بدلوې او ګُل ته د اغزو خت اغوندې ! موږ هېڅ يو ، موږ شته او خاوره مو په ګُلستان واړه وه .! تر دې چې دا دعا هم ته رابښې ، کنه خاوره چېرې او دا غوښتنه چې سمسور بڼ دې شي .؟ بيا ته زما دعا قبوله کړه . د شپې په دې زړه کې ، چې د ډېرو خلکو حواسو او پوهي بېړی ما ته شوی ، نه هيله پاتې شوي ، نه ډار ، زه دې د پېرزوينياو رحمت سين ته و بللم . دا ته يې چې يوه ته نور او جلال ورکوی او بل د وهم او خيال سره شړې . که زه قادره وی چې شپه د خپل تدبير واک لاندې راولم ، هره شپه له ارادي پرته نه بېسده کېدم . بيا د دعا کچکول په غاړه ستا وره ته راغلی يم و په داسې حال کط چې زړه مې ډېر تنګ دی ، ستا د له وره پرته بل ور هم نه پېژنم ؛ هوش او حواس مې بايللي . د بېسدی او خوب په وخت کې هېڅ يم او د ويښتيا په وخت بيا په خپل ځان موښلی . بيا بې ځايه پر دې غوټې د دولت نو مه ږده . زه څه نلرم چې حال مې پرې بدل شي . ډېرې ستونځې ګالم ، شتمنمې کړه ، زما ناخوالو ته د پای ټکی کېږده .!

هيڅکله مه پرېږده چې ستا د پاره دې زما سترګې بې اوښکو او وچې شي . کله چې ګنهګار ، تش لاسی او غوړه مال وم ، له تا لرې شوی وم ، داسې وکړه چې ، د اوښکو پر ځای دې زما له سترګو وينې وبهېږي .

خدای ته تل همداسې دعا کوه او اوښکې تويه وه . مني يې او که نه يې مني ، هېڅکله له دعا لاس وانخلې . که مړی يا کوم بل نعمت ،د دعا خنډ شي ، بيا هغه نعمت لرې وغورځوه . ځان دې ته جوګه کړه چې د اوښکو سره ډوډۍ پخه کړې .
فقير سړي د خدای سره همدا خبرې کولې ، چې خوب يوړ ، بيا همهغه غيبي ږغ د ده پوښتنې ته راغی او وې ويل :
« خدای تا ته ويلي وو ، چې غشی په ليندۍ کې کېږده ، نه دا چې ليندۍ راکېکاږه . تا په خپله پر ليندۍ زور راوړ او بيا به دې پرېښودله . بيا ليندۍ مه کېباسه غشی مه آلوزه وه ، په کوم ځای کې چې غشی ولوېد ، همهغه ځای وه کينه .»
خدايی ستا په خوا کې دی او ته د خپل فکر غشی لرې شړې ، ځومره چې هغه لرې درومي ، هومره له خزانې لرې کيږې . لکه هغه فيلسوفان چې د فکر سره ځانونه وژني ، په دې توګه له خزانې محرومه کېږي . هغوی ته وواېه ځومره چې چټک وځغلی ، دزره له مراده لرې کېږی ، لکه کنعان چې د خپل پلار نوح(ع) سره د مخلفت له کبله د غره سر ته و خوت، ځومره چې پورته ته د خلاصون ډېوه يې تته کېده .

هغه فقير د ليندۍ د کېباسلو سره ، ځان له خزانې لرې کوه . دا مثال کولی شي ځان وژغوري . پداسې حال کې چې جاهله کسان ، پر ناخوالو ځانونه آرزانه خرڅوي ، ځکه ناپوه کسانو ته د استاد لرل ننګ ښکاري ، له همدې کبله بل دوکان پرانيزي او هغه دوکان له مارانو ، لړمان او ګند ځنې ډکېږي . بنا پر دې ژر تر ژره دا دوکان و پلوره او بېرته راوګرځه . کنعان د کبر او غفلت له کبله ځان ته پټنځی جوړ کړ ، پايله يې څه شوه له هغه عبرت وآخله ، . د غشي ويشتو هنر د فقير د پاره حجاب ګرځېدلی وو ، اجازه يې نه ورکوله چې خزانې ته ورسېږي . ؛ لکه ډېر علمونه او وړتياوې چې د حقيقت د لارې غله دي . جنت ته د تلونکو لويه ډله مجنون صفتي دي ، چې له فيلسوفانو لرې اوسيږي .
بيا ځان د فضل خرڅوني ، پوښتنو ګېګنو خلاص کړه ، چې خدای پر تا رحم وکړي . زيرکي د ماتې او اړتيا ، نياز سره اړخ نه لګوي ، بنا پر دې د حماقت سره جوګه شه . زيرکان د پيدايښت په هکله سوچ کوي ، او هغوی چې له عقله لرې تښتي د مخلوق او شته کونکي په باره کې فکر کوي . څرنګه چې مور ، د ماشوم د پاره لاس او هم غذا ده .

## د شيخ حسن خرقاني د مريد نکل

يو ځوان درويش ، د شيخ خرقاني د ليدو په موخه له تالقانه د هغه د ښار په لور وخوځېد . هغه په لار کې ډېرې ستونځې وليدلې ، ډېر وچې ښکلنې بيدياوې يې تر شا پرېښودې ... او داسې نور . خو زه خبره لنډه وم او آصلي مطلب ته راګرځم . ځوان ښار ته د رېږدو سره سم ، د شيخ په لټون شو ، د هغه کورې ومند او په ډېر احترام سره يې ور وه ډباوه .
څو دقيقې وروسته يوې ښځې له وره ، سر را وايست ، او وې ويل : « څوک يې ؟ څه غواړې ؟. »
ځوان وويل : د شيخ دليدو په موخه ، له ډېر لرې ځايه راغلی يم آو د هغه پسې ګرځم . ښځې د هغو خبرو په آورېدو سره ، د پسخند له مخې ځوان ته وويل : « لکه چې اوزګار وې ، چې دا دومره اوږد مزل دې کړی ؟ بېکاره لېونيه له وطنه بېزاره شو يې ، که شيطان وغولوې ، چې دې اوږده مزل ته دې ملا تړلې ؟او.... »

لنډه دا و ښځې دومره سپکې سپورې وويلې چې ، د ځوان زړه مات او خوابدی شو . خو بيا يې هم د دې د پاره چې د هغه سفر نتيجه تر لاسه کړي ، له ښځې د هغه پته ولګوله .
ښځې ځوان ته وويل: « ولې د هغه پسې ګرځې ؟ هغه ستا په څېر سل زره خام خلک ، بېلارې او تېر ايستي دي . بو پوچ مغزی او غوره مال سړی دی ، چې د رسوايی ډول يې هر خوا ږغېدلی . ستا ګټه د هغه په نه ليدو کې ده . هغوی چې د ده پسې ځي ، لکه د خوسې پالونکو قوم ، په کړه لاره تللي . هغوی ، شرعه او تقوا تر پښو لاندې کړې ، د تقوا او امر په معروف سره ... هېڅ کار نه لري . له هغې راهيستي چې مفسدان د دې ډلې د باطنيکرغېړنتوب نه خبر شوي ، خپلو کړو ته ډېر خوشحاله دي . د رسول الله(ص) لاره چېرې ؟ او د هغو لمونځ او آدب چېرې دی ؟. ورځه چې دا ډله به تا ته هېڅ ګټه در ونه رسوي .

ناپامه ځوان پرې چيغه ووهله .وې ويل :« دا اپلتې دې بندې کړه ! د الله د دې مېړنو نُور ، له ختيزه تر لوېديزه ، خپور شوی . آسمان مېشتې هغوی ته سجده کوي او لمر د شيخ په وړاندې ، له شرمه سر د وربځو ته لاتې پټوي . ته څه فکر چې ، چې ستا اپلتې به ما ، له خپلې پرېکړې را وګرځوي ؟
زه د باد سره نه يم راغلې ، چې دوړې سره لاړ شم . په خپله دی ، نُور او قبله ده . هغه د خدای مومين بنده ، او کمال ته رسېدلی دی . د هغه نُور کفر په ايمان بدلوي ، او په شيطان اسلام مني !

هغه د عزت مظهر او د حق محبوب دی ، او د بري توغ يې له فرښتو تښتولی . آدم ته سجده ، دهغه د پاره وه . ته د حق د ډيوی پر وړاندې ولاړه يې او غواړې چې هغه تته کړې؟ داده اوسه د دې کار سره به دې خپله خوله وسوځي ، ځکه چې ډېره بوېناکه خوله لرې .
که سپی له سینه اوبه وڅکي ، هغه به مردار نکړي ، ستا کرغېړن نفس هم ځلانده لمر ته ضرر نشي رسولی . تر دې چې که په ظاهره دې هم حکم کړی وی ، له تا سره دا خبرې نه ښاي ، ځکه چې د هغه د وجود نُور په ځرګنده ليدل کېږي . ته هغه بوم ته ورته يې چې هره شپه د لمر د يتيمی خوب ويني ، ځکه دليدو جوګه سترګي نلري . سپی غاپي او سپوږمی د تل د پاره خپلي وړانګي خوره وي . »
ځان شرعه او تقوا عارف دی ، او د زاهد د پرمختګ حاصل د عارف معرفت دی . عارف زهد کري او معرفت رېبي . بنا پر دې ، کله چې تن د جهاد او ايمان په لاره روان شي ، له هغه يو داسي ځان لاس ته راځي چې و امر په معروف او نهی له منکرو کوي او دالهی اسرارو کاشف او مکشوف دی .
ځوان ادامه ور کړه :
« هغه په دنيا او آخرت زموږ سرور دی ، کله چې آنالحق ووای ، يوازې ړانده خوابدي کېږي . که سترګی لرې ، خلاصي يې کړه او دهغه نندارہ وکړه .
کومې لاړې چې پورته آسمان ته تو کوې ، بېرته ستا په لور راګرځي . ته دا ورتيا نلرې ، چې د داسي خزاني په قيمت پوه شي ! تر دې چې ، روزی هم د هغه روزی خوړونکي ده . هغه د پاره ستا ناسته پاسته ننګ دی ، همهغسي چې نوح(ع) ته د کافرې ښځي لرل ننګ وو . ورځه د خدای شُکر پرځای کړه چې د شيخ ميندينه يې، کنه ستا پر سر به مې ستره بلا روستي وی ، شيخ به هم ستا له شره خلاص شوی وی . »
ځوان مريد لاهم د مرشد پسي ګرځېده ، تر دې چې يوه کس ورته وويل :« شيخ غره تللی ، خس تولوه وي . »
ځوان د غره په لور وخوځېد او د ځان سره يې ويل :« شيخ ولي داسي ښځه به کور کي ساتلي ، او هغې سره ژوند کوي ، دا دوه ضده څنګه سره ګډ اوسېږي ؟ .» بيا به يې ويل : « توکل پر خدای ، زه ځوک يم چې پر هغه نيوکه وکړم او دخپل شيخ په چارو کي لاسوهنه وکړم . کېدی شي چې دا به زما ، او زما د نفس ستونځه وي . »

ولی نفس نه غلی کيده ، بيا به يې پر هغه بريد وکړ ، او دهغه زړه يې تشه وه چې : « ديو څنګه کولی شي چې د جبرايل سره و اوسي ؟ ځوک چې د دوست حضور ته رسېدلي ، بيا څنګه کولی شي چې بد طينتو سره کښېني .؟ »

مريد لا په خپلو سوچونو کي ډوب وو و چې شيخ ، بر نر زمري خس ايښي پداسي حال کي چې خپله د خسو پر سر ناست دی او د مار نه يې قمچينه جوړه کړې ، د ده په لور راروان دی .

يقين ولره هر هغه شيخ چې کمال ته رسېدلی وي ، پر زمري سور دی . سره له دې چې د شيخ خرقاني سورېدل محسوس ول ، خو د هغوی سورلی نه ليدل کېږي . سل زره زمري د هغو تر پښو لاندې دي ، خو بيا هم هغوی د خسو په تولولو بوخت دي .
څه چې د ځوان په زړه کي ګرځېدل ، شيخ پرې خبر وو . تولي پېښي يې يو په يو ورته بيان کړې . د ښځي په هکله چې کوم سوال د ځوان په زړه کي تېرېده ، هغه وويل : « د دې ښځي زغمل ، د نفس له پاره ندي ، که مې د هغې ښځي په وړاندې صبر نه وی کړی، بيا به دا کرمات د زمري سورلي هم نه وی .زه د الله تعالی د فرمآنونو په پلي کولو دومره بوخت يم ، چې د چا د غيبت آورېدو د پاره وخت نلرم .زموږ يو ځای اوسېدل د هوا او هوس له مخی ندي . زموږ ځان دالله تعالی په لاس کي غندسکي ته پاتي کېږي ، څرنګه چې وغواړي دا مری تاو راتاوه وي . يوازې د هغه په خاطر د هر کس او ناکس نازونه وړم .دا کار د خپلو شاګردانو ، د زدکړې د پاره کوم ، کنه زما په زړه کي د الله د نُور پرته بل هيڅ ځای نلري . »

شيخ ادامه ور کړه :« دا چې تا سره په دې پستو خبر بوخت يم ، د دې د پاره دي چې زما په څېر د بدو ملګرو سره جوړ جاړی وکړي . د ناکسو سره جوړ جاړی د الهی سنتونو څخه دي . که تا نه دي آورېدلي چې د الله انبيا به د منکرانو د زو رولو او آزار لکبله لکه مار په ځان تاو راتاوېدل ، خو بيا به يې هم صبر ته پناه وړله . په دې ارته نړۍ کي ، يوازې خدای دی چې ضد او سيال نلري .

## د انی جاعِلُ فِی الارض خَلیفَةً د حکمت په هکله

الله تعالی زموز سينه د دې د پاره پاکه او صافه شته کړې ، په هغه کي يې خپل تصوير کي ځرګند ، نُور او ظلمت يې هم پکي کېښود . له دې اضدادو نه تور او سپينوالی رامينځ ته شو . آدم سپين وو او ابليس تور . د دې دوو لښکرو تر مينځ ، د لمري ځل د پاره جګړه رامينځ ته شوله . دوهم وار هابيل او قابيل يو د بل په وړاندې ودرېدل . ډېر ځله وروسته ، نمرود او ابرهيم(ع) د جګړې ډګر ته را ووتل ، د دوی جګړه اوږده شو ، اور راغی او دې جګړې ته يې و

د پای ټکی کېښود . په وار وار او پېړی تېرې شوې و چې د موسی(ع) او فرعون وار راوه رسېد . هغوی هم په کلونو کلونو سره وجنګېدل ، په پایله کې سین د هغو تر مینځ فیصله وکړه . دا لړی همداسې روانه وه ، چې حضرت محمد(ص) او ابوجهل سره مخا مخ شول .
د قارون ، عاد او ثمود قومونه چې د خدای په وړاندې درېدلي وو ، برخه لیک هم همداسې وکښه . الله تعالی کولی شي چې ، خپل قهر ستا په مړی کې هم کېږدي او په دې توګه به دې ژوند ته خاتمه ورکړي . بنا پر دې ستا خوړونکې مړی هم لکه د الله په لاس کې توره ده . بیا خپلې بېوسی ته ووګوره ، چې د کار له پایلې غافل نشې .

د شعیب(ع) دقوم برخه لیک هم همداسې شو ، چې د خدای په حکم د ډبولونو ، او د کوړ چتونو ، خپل سیوری ترې و سپمه وه . پدې توګه د لمر ، باد او باران په وړاندې ، هغوی ته د پټېدو ځای نه منده کېده ، تر هغو چې توبه یې وه ایستله ، او دخدای په لور بېرته را وګرځېدل .

که عقل لرې ْ همدا یو ټکی درته بس دی ، چې موسی(ع) خپله اعصا واچوله ، او هغه په ښامار بدله شوه . د خواشینی ځای دا دی چې ظاهر لیدونکی سترګي لري خو د هغه په معنا نه پوهېږي .! په سړي اوسپنې هم هېڅ ستېک اثر نه کوي . په خیالونو د بوختیا له کبله دې سفسطو او بدګمانی ته زړه ښه کړی .
د معنی درک د چینې‌بهېدو ته ورته دی ، بیا ځان د تن له بنده خلاص کړه چې دا تولې چینې دې دننه په ځان کې وبهیږي . له همدې کبله دی ، چې زموږ دننه نی حسي قوې ته روان وای ؛ ته به وای چې د معنی چینې پکې روانی دي . که د جسم له غوټې خلاص شې ، روان به دې پاک شي . بیا به اغزي ، ستا په خوښه په ګُل بدلېږي .

## د بلا د نزول په وخت کې د اُمت د تخلص د پاره
## د هود(ع) معجزه

کله چې تند باد په لګېدو شو ، د عاد قوم سره را غونډ شول ، هغوی ویل ځنګه کولی شو ، چې د دې طوفان له تباه کونکو څپېړو نه ځانونه وژغورو ؛ لکه هغه خر چې د مرګ په وخت کې تېښتې ته زړه ښه کوي . خدای هم غوښتل چې هغوی و ډاره وي ، کېدی شي چې په دې توګه د شعیب (ع) ، رسالت ته غاړه کېږدي .

الله د دې جهان ستن په وېره ودانه کړې ده ، او موږ ته ښاي چې ترې مننه وکړو ، ځکه همدغه وېره د ځمکې پر مخ د اصلاح سبب شوې ده .
انسانان له نیکی او بدی نه ډېر وېرېږي ، خو هېڅوک له خپل ځان نه وېرېږي . بیا دا حقیقت دی ، څومره چې یو شی چا ته نږدې وي ، هغه لږ درکه وي . ته د خپل وجود په پټنځي کې پټ شوی یې ، ځکه خپل وجود نشي درکولی . دا رنګه حس یوازې په آخرت کې را څرګندیږي . الله هم پټ دی ، چې یوازې د هغه وجود درکولی شو ، خو دا احساس د ځمکه نیو حواسو سره د پوهېدو یا درک وړ ندی . که دا حس په دې دنیا کې موجود وی ، له هر خره او غوي نه به بایزید بسطامي جوړ وی .

هغه چا چې له تن نه د روح مظهر جوړه کړې، هغه چا چې د بېړی نه د نوح سورلی جوړه کړې ، هغه دا هم کولی شي ، چې طوفان د انسانانو د پاره د هدایت وسیله وګرځوي . په دې دنیا ، ستا ښادی او غمونه ، همدا طوفان دی . بیا ستا په دننه کې هره ورځ طوفان پېښېږي ، که بېړی او سین نه وینی ، لږ تر لږه خپله دننه نی خوځېدا وګوره .

که انسان د خپلې وېرې په رښتیني دلیل پوه شي ، تر ده د راچاپېره شیانو نه به تل په وېره کې وي، بنا پر دې ، ډېرې سترې تېروتنې به وکړي. لکه دا ، که یو لېونی د ړانده سټ ته څپېړه ور کړي او په همدې وخت کې د اوښ ږغ هم وآورېدل شي ، ړوند ګمان کوي چې اوښ په لګده وهلی .ځکه هغه د غوږونو سره ویني نه د ستګو سره .! له همدې کبله د انګورو د یوې داني د ږغ سره ،د هغه په خیال کې دا را ګرځي چې کانه پر ځمکه راپرېوته .
موږ د خپلو ډېرو وېرو په دلیل نپوهېږو ، ځکه چې له ځانه وېره ، نېږژنو او پدې هم نپوهېږو ، چې دا وېره په موږ کې چا ایښې ده .ځنې طبیبانو بې دلیله دې ډار ته د وهم نوم ور کړی ، پداسې حال کې چې ، له حقیقت پرته هېڅ وهم نه رامینځ ته کېږي ؛ څرنګه د روغتیا پرته هېڅ زړه کار نه کوي .
که د ریښتیا خبر نه وي ، بیا دروغ هیڅ معنی نلري . دروغجن هم د دې د پاره چې د هغوی دروغ ، لکه رښتیا وبرېښي او باور پرې وشي د دروغ ویلو ته زړه ښه کوي . ای دروغ ویونکو ! چې د رښتیا د وجود له برکته ، ستاسو دروغو رواج مندلی ، لږ تر لږه خو و د ریښتیا د وجود خواږه ومنی.

د الله د پیرزوینو بېړۍ ، همهغه نصیحتونه دي چې د الله انبیاو به انسانانو تهپرله پسې کول . او طوفان د خلکو بېځایه خبرې دي چې د حق وجود نه مني . بیا څرنګه چې ، له نر زمري او شامار نه تښتي ، له خپلو جاهله دوستانو نه وېره ، وکړه . ځکه د ډېرو دوستانو د ناستې پاستي لکبله ، ستا د عمر خزانه تشه ، فکر دې بوخت ساتي او لکه تړی خر ، ستا د ذهن شربت څکي . ستا په دننه کې د حقیقت د سین یوه پرخه وه ، که پدې پوهېدل غواړې چې هغه لا تر اوسه هم له تا سره شته او که غلاشوې ده ، ځان ته ووګوره چې د خدای د امر په وړاندې ، لکه تازه لښته هره خو تاو راتاوېدی شي او کنه ؟ که داسې نه یې ، بیا وچه لښته یې ، د وچې لښتې سزا سوځول دي . څرنګه چې اور لرګی سوځوي ، باطل سوچونه هم زموږ د ځان ریښه سوځوي

همغسې چې د الف حرف د بسم کلمه کې پټ شوی ، چې هم شته او هم نشته ، د ډېرو خبرو ویل په لفافه کې کېږي بنا پر دې ، خپلې خبرې لنډو او د وروستي داستان پسې ځو ، تر څو چې زموږ د ذهن ماشوم لږ څه لوبې وکړي .

## دهغو درې کسانو حکایت

یوه ورځ درې کسه چې یو یې مسلمان ، دوهم یهود او دریم بې عیسوی ، په یوه لاره روان شول . د دې درې واړو مخالفو جنسونو ملګرتیا د مومین ، نفس او شیطان یو ځای اوسېدو ته ورته ده . یا لکه باز او کارغی چې په یوه قفس کې واچوې .
مساپران په داسې حال کې چې هوا ډېره سړه وه او واوره هم ورېدله ، یوه تم ځي ته ورسېدل . پرېکړه یې وکړه چې شپه همهلته تېره کړي . خو د واړې ورېدا او ساړه لا زیات شول ، داسې چې دوی چې د مجبورۍ له مخې په مېلمستون کې ګیر پاتې شول . لکه موږ ټول انسانان ، چې د تن په مېلمستون کې بندیان یو . کله چې عقل او خرد دا کوډلې ورانه کړي ، زموږ هر غړی او اجزاوې د خپل آصل په لور درومي . خو تر هغو چې په دې دنیا کې ژوند کوو ، زموږ غړي که له هر جنسه وي ، د واورې او سړو له وېرې ، د دنیا په مېلمستون کې زنداني دي . له دې غافله یو ، کله چې لمر وځلېږي دا واړې ویلې او دغرونو سرونه به راڅرګند شي او کوم شیان چې د واورو لاندې پټ وو ، د هغو له مخې پرده پورته کېږي .
کله چې مساپر میلمستون ته ور دننه شول ، د هغو د پاره یې حلوا او توده ډوډۍ راوړه . د سحرا مېشتو ، یو صفت مېلمه پالنه ده . هغه دوه یهودی او عیسوی ماړه ول ، او له خوړلو یې ډه ډه وکړه . خو روژه تی مسلمان ډېر وږی وو . د لمانځه له کولو وروسته یې ، خپلو ملګرو ته وویل :« راځئ ، چې دا خواړه وخورو . »

هغو دوه کسو وویل : « موږ ماړه یو ، ښه به دا وي چې ، دا غذا د سبا د پاره وساتو . »
مسلمان وویل : « زه نن شپه وږی یم ، څنګه کېدی شي چې تر سبا پورې انتظار وکړم . هغو دوو ورته وویل :« لکه چې نیت دې کړي ، په یوازې سر دا ټول خواړه وخوری ، دا ډېرتېنګار دی د همدې د پاره دی .! »

مسلمان وویل : « د دې د پاره چې زموږ تر مینځ اختلاف رانشي ، ښه به دا وي چې خواړه سره وویشو . هر کس به د خپلې برخې مالک شي ، د خوړو او نه خوړو واک به یې خپل وی .»
هغو دوو غوښتل چې مسلماندې ، د خپل نظر نه لاس په سر شي .هغه ته یې وویل:
« تا لکه چې دا حدیث ندی آورېدلی :
« قسام فی النّار » ټول جهان د خدای دی ، بیا موږ ته نه ښاي چې هغه وویشو . »
په پایله کې مسلمان هغو ته تسلیم شو . او وې ویل :« په سترګو ، ستاسې خبرې ته غوږ نیسم . » په داسې حال کې چې هغو غوښتل چې ، مسلمان وزوروي او همدسې وږی وېده شي . په هر حال هغوی ګهیز ته را پاڅېدل ، د مخونو له وینځلو وروسته را راټول شول .
د هغو یوه کس وویل : « هر یو دې خپل بېګاه لیدلی خوب ووای ، چا چې ښه خوب لیدلی وي ، هغه دې دا غذا وخوري . که هوښیار سړی دا خواړه وخوري ، داسې ګڼو چې ټولو خوړلې ده . »
که یو عاقل تر ابده باقي پاتې شي ، دا په دې معنی ده چې ، ټول جهان مېشتي باقي پاتې دي .

بیا یهودی د خپل خوب په ویلو پیل وکړ . : « ما بیګاه موسی(ع) په خوب ولیده ، او د هغه پسې مې منده کړه . موږ دواړه د طور په لور لاړو ، بیا موږ درې واړه ، یعني ، موسی(ع) زه او د طور غر په نُور کې ورک شوو ، داسې چې زموږ سیوری د حق په لمر کې ورک شو . وروسته له هغه په نُور کې یو ور خلاص شو ، بیا د هغه نُور له زړه نه بل نُور راووت . زه ، موسی(ع) او د طور غر دربواړه ، په دریم نُور کې ډوب شوو . وروسته له هغه نُور درې برخې شو . تا به ویل چې د حق نُور پکې ځغلېدلی . د نُور درې واړه څانګې په دربو خواو لاړې .
یو ښاخ د سین پهور ګډ شو ، د سین ترخې او خوږې اوبه زړه راښکونې شوې . دریم ښاخ په خاوره ورګډ شو ، له خاورو یوه چینه را وخوټېده ، دا چینه د الله د وحیې له برکته ، شفا ښبنونکې شوه ، چې ټولو مریضانو ته یې شفا و

ښنله . درې يم ښاخ د کعبې او عرفات په لور لاړ ، کله چې په سد شوم ، څه ګورم چې د طور غر هممغسې پر خپل ځای ولاړ دی ، خو غر د موسی (ع) تر پښو لاندې لکه کنګل اوبه کېږي ، چې د هغې هېڅ برخه پر ځای نه پاتې کېږي ، تر دې چې غر د حق د تجلی له هيبته پلن هوار شو .
بيا چې را پاڅيدم ، موسی(ع) او غر هممغسې نيغ ولاړ دي ، اود غره په لمن کې‌خلک راټول دي او ټول موسی(ع) ته ورته دي ، . ټولو د موسی(ع) په څېر خرقې او اعصا لرلې او په ګډه د طور د غره په لور تلل . کله چې بيا په سد شوم ، د خلکو څېرې بدلې وې . هلته مې د انبياو يوالی درک کړ . ښکلې ملايکې مې وليدلې چې ، صورتونه يې له واورو وو . بله ډله مې وليدله چې ، له الله نه يې مرسته غوښتله چې صورتونه يې له اوره ول .» يهودي غوښتل چې په دې توګه وواي ، په پايله کې يهوديان بريالي دي .

هيڅ کافر ته په خواره سترګه مګورئ ، ځکه چې د مسلمانېدو هيله يې شته . ! ته خو د چا د عمر په پايله نپوهېږې . ! دا ممکنه ده چې هر سړی خپلو کړو وړوه بدل کړي .
وروسته له هغه مسيحی په خبرو راغی ، وېويل :« څرنګه چې زه مسيحی يم ، په خوب کې مې وليدل چې د عيسی(ع) سره څلورم آسمان ته ولاړم ، کوم ځای ته چې مرکزاو د لمر د هستوګنې ځای دی . هلته مې د آسمان د لوړ والي عجايب وليدل ، چې تر ځمکې ډېر زيات دي . »

## د اوښ ، غويي او مږ حکايت

يوه ورځ اوښ، غويه او مې په ګډه روان ول ، چې يوه شنه بوټي ته ورسېدل . مږ وويل :« که دا بوټی په درې برخو ووېشو ، يو به هم موړ نشي . بيا د اوږده عمر خاوند دې ، دا بوټی ووخوري . »

د مشرانو عزت ساتل د رسول الله(ص) موږ ته راپاتې سنت دی . خو په دې وختونو کې چې د پستو خلکو تله درنده ، يوازې په دوه حالتو کې دا رسم پرځايه وې ، کله چې خواږه سره وي ، بل هم د وران پله ، له سره د تېرېدو په وخت کې ، مشرانو ته واي : ته مخ ته شه چې تر ما مشر يې . نن هېڅوک مشرانو ته په درنده سترګه نه ګووري . په هغه ځای کې چې د خلکو خير داسې وي ، بيا دې خدای د هغو له شره وژغوره .؟

## مثال

يوه ورځ پاچا يوه ښار ته ور دننه شو ، د هغه ساتونکي مخ ته روان ول ، او خلک يې لرې کول . هلته د خلکو د کنې ګونې او د ساتوکنو د وهلو لکبله ، دچا سر او د بل کالي څيرې شوه . يوه چې د لرګو لس ګذاره خوړلي ول ، پاچا ته ووېل :« ستا خير چې داسې وي ، بيا د شر اندازه دې خپله ولګوه . »

هيڅ پست کس بوډا ګانو ته سلام نه واي ، تر هغو چې د څه غوښتونکی نه وي . لېوه سره له دې چې ډېر ظالم دی ، خو د هغه په کار کې د چل ول هېڅ نښه نشته ، پداسې حال چې ، پر آدميانو د مکر او حيلې ختمه ده .

لنډه دا چې مږ غوي او اوښ ته وويل : « اوس به هر يو د خپل عمر پرده پورته کړي ، تر دې چې يوه شو په موږ کې څوک د ډېرو کلو دی . مږ وويل : « زه د هغه مږ سره همزولی يم ، کوم چې د اسماعيل(ع) په ځای د قربانۍ د پار ه لېږل شوی وو . زه په هممغه وخت دنيا ته راغلم . »
غوي تر هغه هم پورته لاړ او وې ويل :« زه تر تا مشر يم ، زه د هغه غوي جوړه يم کوم چې ، د آدم (ع) په وخت کې به يې ځمکه څيرله . اوښ چې د غوي او مږ خبرې واورېدې ، سم دلاسه سر کوز او بوټی يې وخوړ ، وې ويل : « زه تاريخي اسنادو ته څه اړتيا نلرم ، ځکه ، تاسې ټول پوهېږۍچې ، سره د دې جګ قد او اوږدې غاړې تر تاسو کشر نه يم . ټول پوهېږي چې آسمان تر ځمکې ارت دی ، بيا آسمان چېرې او ځمکه چېرې .؟ »

له هغو دوو وروسته ، مسلمان وويل :« ای ملګرو ! تېره شپه زما سردار حضرت محمد(ص) په خوب کې راغی او وې ويل : هغه يهود د طور د غره په لور لاړ د کليم الله سره مينه او خواله کوي ، هغه عيسوی هم څلورم آسمان ته ووخوت ، تاوان خو تا وکړ چې له دې ټولو پاتې شوې ، اوس پاڅه لږ تر لږه دا حلوا او ډوډۍ خو وخوره . هغه دواړه هنرمندان اقبال او نېکمرغی ته ورسېدل ، د ملاءکو سره ناست پاسته کوي . ته هم وآلوزه د کاسې تر خوا کښېنه او له حلوا خوند وآخله! . »

هغو دواړو په يوه ږغ وويل :« بيا ته حريص هم پورته شوې ، او حلوا دې وخوړه .؟ »
مسلمان وويل :« کله چې هغه ټولواک امر وکړي ، زه بيا څوک يم چې سر غړونه وکړم . ته يهودی که دې خوښېږي او کنه، کولی شې چې د موسی(ع) له امر نه په څنګ شې ؟ او ته عيسوی ، که دې په خير وي يا په شر د عيسی(ع)

له امره سر غړونه کولی شي ؟ اوس زه چې مسلمان یم ، ما څنګه کولی شوی ، د رسولانو د سردار خبره ونه منم . ما حلوا وخوړه اوس خوشحاله هم یم .

هغوو وویل :« په خدای دې زموږ قسم وي ، چې زموږ تر خوبه ستا خوب ښه دی ، ځکه چې ستا د خوب اثر په ویښه څرګند شو . » بیا

ته هم د چالاکی ، چل ول نه لاس وآخله د خدای او د خلکو خدمت وکړه . د خدای مردود شوو ساحرانو ته د هغو هنر څه ګټه ورسوله ؟ که هغه قارون نه وو ، چې د شتمنۍ سره د ځمکې تل ته لاړ ؟ ریښتینی هنر دا دی ، کله چې اور وویني ، پر سر په هغه کې دننه نشي، که دې دا ونه لیدل ، بیا دې هیڅ نه دي لیدلي .

## د سید ملک ترمد جار وهل چې که په دري یا څلورو ورځو کې سمرقند ته ورسیدې ..

سید ترمد چې د ترمد پاچا وو ، یو همرازه کس درلود . یوه ورځ ، سید تر مد ته په سمرقند کې ډېر ضروری کار پېښ شو ، له دې کبله د یوه باد پښې آستازي پسې ګرځېده ، تر څو چې سمرقند ته لاړشي او د ده کار په ښه توګه ، سر ته ورسوي . بنا پر دې خپلو مامورینو ته یې وویل ، په ځای کې جار ووهي چې : « هر څوک چې په پینځه ورځو کې سمرقند ته لاړ شي ، او د پاچا امر سرته ورسوي ، هغه ته به ډېر سره زر او مریان ورکړی . »

هغه مشله توکي په کلي کې وو ، د دې خبر د آورېدو سره یې ، ژر ځان پاچا ته را ورسوه . توکمار دومره په بیړه وو ، چې هیڅ آس هغه ته نه تینګېده ، او د ډېرو منډو لکبله یې ، دوه آسونه مړه شول . هغه په د دریم آس په سورلی ځان شاهي مانۍ ته وره رسوه . په ښار کې ، کونګوسه شوه ، خلکو په خپلو کې ویل : « ممکنه ده چې دښمن پر موږ برید کړی او یا خو کومه ستر بلا له غیبه را رسېدونکي ده ، چې توکمار دومر په بیړه او وارخطایی سره ، ځان پاچا ته رسوي . او تازي آسونه یې مړه کړل . »

خلک د شاهي مانۍ خوا ته راټول شول ، چې د توکمار د بېړې په علت ځانونه پوه کړي . د ترمد پاچا هم کله چې د توکمار د بیړې په هکله خبر شو ، څه پریشانه غوندې شو .
ځینو پر زنګنو خپل سرونه ایښي او نور بیا په وهم او وېره کې ول ، ګمان یې کوه چې کومه بد څه پېښېدونکي دي .
لنډه داچې توکمار شاهي مانۍ ته ورسېد ، او د دننه تګ اجازه یې و غوښتله . پاچا وویل ، ژر دې رادننه شي . هغه را دننه شو او د د احترم په دود یې ځمکه ښکل کړه . مانۍ مېشتو په خپلو کې ویل : « څه پېښ شوي ؟ » توکمار په اشارې سره وویل: « اجازه راکړی ، لږ سا وآخلم چې د ویلو جوګه شم . »
د څه وخت په تېرېدو د اضطراب لکبلهد پاچا ستونی او خوله وچه شوې وه .
هېڅکله هم چا توکمار په داسي حالت کې نه وو لیدلی . هغه به تل په توکو او ټاکالو بوختو . پاچا د هغه توکو او حرکتونو ته داسي خندل چې ، کله به یې د ډېرې خندا له کبله خپل تشي ټینګ ونیول .
پاچا غوښتل چې پوښتنه وکړي ، خو توکمار ، په اشارې سره وویل غلی شه . د ترمد پاچا وېرېده ، هسې نه چې د خوارزم ویني تویونکی سلطان دی ، پر دوی برید کړی وي . نور یې نو زغم ختم شو ، په ډېر ځوګ سره یې هغه ته وویل :« ووایه څه پېښ شوي ، دا ټوله همهمه د څه د پاره ده .؟ »

زه په کلي کې وم . : « وامې وریدل چې ستا جاچیان له خلکو پوښتنه کوي ، څوک کولی شي چې په پینځو ورځو کې سمر قند ته لاړشي ، زه به زر او کنیزه هم ور کړم . زه په بېړه دلته راغلم ، تر څو چې تا ته ووایم ، زه دا کار نشم کولی . بیا زما په هیله مه کښېږنی . ! »

پاچا وویل : « لعنت دې په تا وي ، چې د دې کار سره دې ټولو خلک په وېره کې آچولي . »
د هغو توکمار کړه ، هغو مدعیانو ته ورته دی ، چې د خپل فقر او بې وزلي په هکله د ډول او نارو سرهوای : « موږ فقیر یو . » یا هغوی چې د سلوک او شیخی لاپې وهي ، داسي ښي ، چې ګواکې دوید بایزید بسطامي په څېر دي .
د مثال په توګه ، کله چې د زوم په کور کې شور و ځوګ وي، د ناوې په کور کې کراره کراري وي . په دې هیله چې دلدار ته رسېږي ، هغوی په خوشحالی سره خپل کور پاک او سینګاره وي ، په داسي حال کې چې د زوم کورنی ، له واده هیڅ خبره نده ، هغې سره موفقه نلري ، او په حقیقت کې واده به هم تر سره نشي .

د ترمد وزیر پاچا ته مخ ور واړوه او وې ویل : « زما خبر واوره ، دا توکمار د بل کار د پاره راغلی وو ، سمد لاسه له خپلې خبرې پښېمانه شوی ، او خپله خبره یې بدله کړه . په دې توګه هغه غواړي چې ځان وژغوري . موږ باید هغه مجبور کړو چې ، رښتیا ووايي . د هغه خبرو ته پام ونکړې ، د مخ رنګ او د بدن خوځښت ته یې ووګوره ، بې له شکه د هغه په اوږو کې شکه ده . »

توکمار وویل : « ای زما سرداره ! زما له وژلو لاس وآخله ، دا ګمان او وهم دی ، حقیقت نلري . » بیا یې مخ وزیر ته ور واړوه او وې ویل : « سلطان د هغو کسانو زورول هم نه غواړي ، کومو چې زورولی دی ، بیا ممکنه ده هغه کس وتړي او زوره وي چې تل یې خندولی .؟ »

خو د وزیر حیلې بریالی شوې ، سلطان امر وکړ چې ، توکمار.بندي کړی او وې ویل : « دی دومره ووهی او وږی یې کړئ چې ، لکه تش نس کرنګهار او خپل راز بر ملا کړي ؟ هله به زموږ زړه آرامه شي . ځکه آرامی او اطمنان په صداقت کې دی . هېڅکله زړه د دروغو سره کرار نه مومي . »

توکمار وویل : « ای ستره ټولواکه ! د حلم او بښنې خوا وساته . دا ډېره بې‌ړه د څه دپاره ده ؟ تا نه دي آورېدلي چې‌و حضرت علی(ض) د دې د پاره بیړې ونه کړه ، چې د هغه په عمل د غضب سیوری ونه ولې‌ږي . د مثال په توګه ، کاذبه ولږه او اشتها موږ د خوني په لور ځغله وي ، پداسې حال کې چې وږي نه یو . ولې رشتینې اشتها مو د صبر او حوصلې سره د غذا خواته بولي ، تر څو چې خواړه هضم او زموږ د صحت د پاره ګټور تمام شي . بلا په ظلم نه رټل کې‌ږي . بښنه او احسان یې چاره کولی شي .»

پاچا وویل :« هو ! ښې‌ګڼه او خیر په خپل وخت کې ښه دی ، خو ژوند د سطرنج دانې ته ورته دی .، هره دانه باید د ځانګړو حرکتون سره ، خپل ځای ته ورسول شي . په شریعت کې لطف او بښنه ، همدارنګه جزا هم موجوده ده ، چې هر یو ځان ته وخت او ځای لري . »

الله تعالی هیڅ باطل شی ندی شته کړی . غضب ، حلم ، حیلهاو نصیحت هر یو خپل ځانګړی ځای لري . هېڅ مطلق خیر او مطلق شر نشته . ګټه او تاوان په خپل ځای کې معنا مومي .د همدې کبله باید د علم لمن ونیسو . ډېر ځپې‌ږي دي چې ، تر خوږو هم خواږه لګي . کله چې په سوباړي ټغر وهي ، د ا کار دې د دښمنی له مخې نهدی ، بلکې په دې توګه له هغه خاوره لرې کوي.ته خاوره وهي نه ټغر . کله کله په بدو اوښتي زخم درملنه په سوري کولو کې وي .

توکمار وویل : « زه نه وایم چې غصه مه کوه ، بلکې لږ صبر ، سوچ او پلټنه وکړه ، تر هغو چې زما جرم درته ثابت شي . د صالحانو سره مشوره وکړه ، ځکه چې حضرت محمد(ص) به هم ، خپل یاران مشورې ته هڅول . دا کار د انسان د ت‌ېروتنې مخه نیسي .»

هوښیاران د دیوې په ځې‌ر لارو ته رڼا ښېي . خدای په دې دنیا ، ښه او بد سره یو ځای کړي ، له همدې کبله کله کله حقیقت د پردې تر شا پټې‌ږي . ښنا پر دې ځرنګه چې الله ویلي ، په نړی کې سفر وکړو او تل خپله روزي او بخت و آزمایو . د نبی اکرم (ص) د وینا سره سم ، لمړی کوښښ وکړو ، خپل او ل او آخر په نظر کې ونیسو ، بیا د خلکو تر مینځ وګرځو او د بصیرت غوښتنه وکړو ، له همدې کبله ګوټ ته ناستی په اسلام کې وجود نلري .

خو په ځینو امورو کې چې الله ځانګړي ګړي ، هڅه نه ښاي ، لکه قبله چې مشخصه شوې او دهغې بدیل هم نشو مندلی . که غواړي چې د کارونو پایله دې ښه وي ، مخکې تر دې چې کار پیل کړې ، لږ سوچ وکړه .

## د موږک سره د چنګاښ د اړیکې نکل

د قضا له مخې د یوه لښتي پر غاړه د یوې چنګښې او موږک ملګرتیا جوړه شوې وه . هغوی به هره ورځ سره کتل او خبرې او اترې به یې کولې . د هغوی ملګرتیا ، ورځ تر بلې ټی‌کې‌ده . د ژبې پرته یې خپل رازونه سره شریکه ول . یوه شه چې د دوو کسانو تر مینځ ، د کلام نژدې والی د هغو تر مینځ د دوستی او مینې نښه ده . همدارنه نه خبرې کول غلی ناستی و د دوستی د نلرو غمازي کوي . کوم زړه چې دلبر ووینې ، خوشحاله او خوږ ږغی کې‌ږي ، له رازونو پردې ب‌ېرته کوي ، دیار فکر د معارفو چینه ده ، چې رازونه ځیري ، او د یار قدم ، د لارې لارښود دی . له همدې کبله حضرت محمد(ص) خپلو اصحابو ته د ستورو خطاب کړی .

ځینې‌ځلې یاران هغه الهی ستوري دي چې ، د څه خبرې پرته باید د هغو پسې اقتدا وشي . د هغو سره مجادله مکوې چې ، کله کله د دهغو دوجود ستوری ، د جدال د وربخو لاندې پټې‌ږي .ښنا پردې د یار سترګې تر خبرلوڅو ژبو ښې دي

. کله چې آدم (ع) د خدای د وحي او دوستۍ مظهر شو ، د الله د هغو نومونو اسرار ورته څرګند شو ، کوم چې الله ورښودلي ول  سترګې یې ویني او ژبه یې لولي .

په دې توګه د هغه شي ټول خواص او ماهیت څرګندیږي . پر هر شي ښه نوم ایښودل شوی ، څرنګه چې هېڅوک ، نا خوان ته مېړنی نشي ویلی .
نوح(ع) نهه سوه کاله عمر وکړ و او هره ورځ به یې نوی ذکر کوه . هغه وعظ نه وو زده کړی ، خو واعظ وو ؛ تا به وې چې وینا د هغه له دننه نه راخوټیږي . یا هغه نوی زیږېدلی ماشوم چې د مشرانو د ژبې فصاحت ولري . داود(ع) هم له غره سل غزله زده کړل ، داسي چې مرغانو خپلې نغمې هیرې کړې او له هغه سره همغږي شول . تر دې چې اوسپنه به هم د هغه د ږغ سره پسته شوله ، عجیبه نه وه چې مرغان دي  هم د هغه د ږغ سره مست شي . د صرصر باد چې د عاد د قوم وژونکی وو، سلیمان(ع) ته مطیع او د خبر راوړنکی شو .

دا خبرې پای نلري ، بیا خپلې قیصې ته راګرځو . یوه ورځ موږک چنګښې ته وویل : « ای زما ګرانه ملګریه ْ کله مې زړه غواړي چې تا سره خبرې وکړم ، خو ته د اوبو لاندې یې ، په لامبو بوخت یې ، زما ږغ نه آورې . ستا بېلتون مې ناکراره کوي . »
سمه ده چې لمونځ پینځه وخته دی ، خو ځني مینان بیا د پینځه سوو زرو سره هم نه مړیږي .
موږک بیا ګیله وکړه :  دا اوبه زموږ تر مینځ حایل او د لرېوالي سبب دی . ستا یوه شیبه لرېوالی ، زما د پاره چې مین یم ، لکه یوکال وي ، او ستا د کلونو کلونو انتظار بیا لکه یو خیال ژر تېرېدونکی دی . » ټل عشق عاشق بولي او عاشق هم عشق ! معشوق ټل د عاشق په زړه کې وي ؛ څرنګه چې وامق د عذرا په زړه کې وو ، همهغسې چې د خیل ځان په لیدلو کې ځنډ نه خوښوو ؛ عاشق او معشوق هم په خپلوکې د لیدو ځنډ نه خوښه وي .
عقل ته د دې خبرې پته نه لګېږي ، چې یوه ورځ به عاشق معشوق ته رسیږي ، کوم چې د ده په وجود کې نشت شوی او وجود شړي . که زموږ ورځني عقل ته دا څرګنده وی ، تر اوسه پورې به یې نفس له خانه شړلی وی .

موږک ادامه ورکړه :« ای زما خوږ او زړه ته نژدې یاره ، ستا د لیدو پرته زما زړه کرار نلري ، ته زما د سترګو رڼا او کرار یې . بیا دا به ښه وي چې ټل مې په یاد ولرې ، د دې سره به زما زړه خوشحاله شي . زه  یوازې هره ورځ ګهیز تا لیدلی شم ، سره له دې چې زه ، ستا د دوستۍ وږ نه یم ، خو ته د پېرزویني له مخې ، زما بدیو ته مګوره ، ځکه چې خدای همداسې شته کړی یم . ته لکه پسرلی زما وجود ته ښایست وبښه ، لکه ګُل دا اغزی ښایسته ، او لکه طاووس دې مارته ښکلا ورکړه . »

موږک بیا وویل :« زه ډېر بدرنګه یم ، خو ستا لطف او کرم هم انتها نلري . که زه مړ شم ، ته به غمجن او زما پر قبر به اوښکې توې کړې . بیا هغه څه چې ماته زما د قبر پر سر واې ، مهرباني وکړه ، همدا اوس یې راته ووایه چې ښاد شم . »

## صوفي وخت د لاسه نه ورکوي

په سخی سړي ، صوفي ته وویل :« ستا تر قدمونوجار شم ! که وغواړې نن تا ته یو درهم درکوم . خو که تر سبا صبر وکړې ، بیا به درې درهمه در کړم . »
صوفي ځواب ورکړ :« که پرون دې نیم درهم را کړي وی ، د نن ورځې له یوه درهمه به ډېر خوشحاله وم . دا خولا پرېږده چې سبا درې درهمه راکړې . نغده څپېړه ، تر پور حلوا ښه ده ، په ځانګړې توګه که څپېړه هم ستا وي ، چې ما مست کړي . »
بیا اې ماته له ځانه ګرانه دوسته ، بیا راشه د زمان دا ګړی غنیمت و ګڼه . د دې ځوارلسمي له سپوږمۍ مخ  آړوه او داوبو دې روانولښتېوته ووګوره . پسرلي ، باغ او ګُل ته نظر واچوه ، چې دا ننداری به د ټل د پاره نه وي .

موږک چونګاښ ته وویل :« ای وروره ! زه د خاورو یم او ته د اوبو یې . دا به دې پېرزوینه وي ، چې کله نا کله سره ووینو . یوه نښه کېږده چې زما ږغ تا پورې ورسوي . » هغو دواړه ډېرې خبرې اترې وکړې ، پایله یې دات شوه  چې ، یو اوږد پړی را وآخلي ، د هغه یو سر دې د موږک او بل د چنګاښ په پښه وتړي ، او هغوی همداسې وکړل . له هغې وروسته چنګاښ بېغمه اوبو ته ته او موږک د لښتي پر غاړه لوبې کولې . خو کله کله به پړي د چنګاښ د چټک تګ مخ نیوله او کله به ورته نورې ستونځې جوړېدلې . زړه ته چې هر کراهت پېښېږي ، هغه د خدای نُور دی نه وهم . بیا هغه ته پام کوه .
تا ونه لیدل چې د حبشي پیلانو ، کعبې ته له تګ مخ آړه وه ،تا به ویل چې پښې یې وچې شوي دي . د پیلانو حس د خدای غضب درک کړی وو . یا کله چې د یوسف(ع) ورونو له یعقوب (ع) نه وغوښتل چې یو سف(ع)دې پرېږدي چې

دوی سره بېدیا ته لاړ شي ، هغه(ع) وویل : « زما په زړه کې درد دی ، او زړه هېڅکله ما ته دروغ نه وايي . » بیا د زړه حس کره دلیل دی ، چې څه پېښېدونکي دي .
خو چنګاښ خپل زړه نا زړه توب ته توجوح ونکړه . کله نا کله زیرک او بصیر انسانان هم تېر ووځي ، سره له دې چې د کار په ستونځو پوهېږي بیا هم په لومه کې مبتلي . دا دژوند غوښتنه او الهی قضا ده ، چې برخه لیک تل د بلېدو په حال کې وي .ته به وایې چې چا یې په منتر سره سترګې تړلي . زړه د برخه لیک له کاره کله خبر او کله هم ندی . په ځانګړې توګه کله چې وايي . :« څه چې خدای غوښتي وي ، همهغه پېښېږي . » له همدې کبله ځان به نا پوهی وهي او عقل پټه وي .زړه پوهیږي چې د یوې بلا سره مخامخ کېدل ، هغه له نورو سلو بلاو ژغوري او یو ولېدل د لس ګونو لوړتیاو سبب ګرځي . تا نه دي لیدلي چې الهی پېرزویني، خام او شوخ کسان ، د بد سیرته او خامو کسانو له حیلي او مکر نه ژغوری ؟.
په پایله کې پاخه استادان ترې جوړ او د د نیا له غلامی نه آزادېږي . کوم کس چې الهی لایزاله شراب وڅښي ، له نورو خلکو متمایزه کېږي ؛ یعني له سستو او تقلیدي اعتقادونو لاس آخلي . د خیال او وهم له شره خلاصون مومي . داسي یو ادراک د ډېرو مد او جزرونو وروسته تر لاسه کیږی .
په بیدیاو کې له ډېرې سرګردانیو وروسته ، کولی شي چې ملکانه مانیو ته ورسېږي ؛ لکه هغه زېږېدونکی چې د نېستي له جهانه د هستی په جهان کې پل ږدي . هره نوې ډله د پخوانی ډلي ځای نیسي . تر څو چې زوی د عقل خاوند کېږي ، پلار له دې نړۍ نه درومي . دا جهان د تلونکو مساپرو لاره ده . په زیر سره ووګوره ! موږ په ناستي روان یو ، موږ ټول د نیستی د مېنې مساپر یو ، بیا بېځه دې لارې پورې زړه مه تړه . هغه څه چې تا مقصد ته رسوي د سفر تګ لاره ده ، پاتي نور ټول تصورونه دي چې له ظلمته ستا د زړه چینې ته ځي ، خپل لوښي ډکوي او درومي . داسي وګڼه چې دا فکرونه د آسمان ستوري دي ، کله څرګند او کله پټیږي . که ستوري درته نېکمرغه ښکاره شو د خدای شُکر پر ځای کړه او که نحس یا بد مرغه ول صدقه ورکړه استغفارووایه .

خدایه موږ ډېر بېوسي او واړه یو و ته زموږ طالع ښې او بختوري کړه . زموږ روح د ستورو له ضرره وساته ، د وهم او خیال نه خلاصون را په برخه کړه ، د غلامی د بند او ځانه مو را بهر کړه ، چې ستا د خواخوږی له برکته مو زړونه وزرې وموميِ، تر څو چې د تن له اوبو او ختو آزاد شو .

د روح یوسف ناري وهي : « ای د مصر عزیزه ! زما د پاره خوب ووینه ، چې په هغه کې وو ډنګر غوي چې غصه ، حرص ، هوس ،شهوت ، کبر ، حسد او دروغ دي ، د فکر ، وو غوښن غوي چې عبارت دي ، د احساس ، فکر ، خیال ،عواطف ، اراده او عقل خوري او دا وو وچ کرغېړنو رذیله صفتونو د وو ښو صفتونو تازه څانګی خوري . ما له دې پېښې وژغوره ، چې د ځان مصر قحطی سره مخامخ کېږي ، د روح یوسف د نفس له زندانه آزاد کړه . آدم چې د عقل نښه ده ، حوا چې د شهوت نښه ده وغولوه او د دنیا په زندان کې برمته شو . بیا زموږ اول او آخره تېروتنه له شهوته وه او شهوت هم تل د ښځو په لاس کې دی . خدایه ! د زنداني یوسف ناري واوره یا خو د یعقوب په بېتابی رحم وکړه او موږ له دې زندانه چې د افکارو له لښکرو ډک دی ، آزاد کړه . تا ته لکه یوسف له خپلو ورونو ګیله وکړم ، که د ښځو له مکر او حیلي .؟ له هرې خوا بلا وربرېږي .
کله مې چې ستا کرم او پېرزوینه ولیدله ، د دې د پاره چې د بدو سترګو له نظره بچ پاتي شم ، ځان ته سپېلني لوګی کوم ، خو د بدو سترګو زخم پر سپېلني هم بر شو . د بدو سترګو له اثره زما ژغورونکی یوازې ستا نظر دی ، چې هره بدي ښه کوي . بیا ماته ووګوره . کوم روح چې ستا په لور لاره ومومي ، د مرګ له سستی ژغورل کیږي .

لنډه دا ، کله به چې د موږک په زړه کې د چنګاښ د لیدو شوق پیدا شو ، د پړي سر به یې راکېباسه ، د دې سره به چنګاښ له اوبو را ووت .زړه هم د عاشق او معشوق تر مینځهغه رسی ده ، چې هره سا معشوق د مین په لور را کېباسي .
دا ملګرتیا همداسي روانه وه ، تر دې چې یوه ورځ د یوه سور پېښي کارغه سترګې پر موږک ولګېدې او برید یې پرې وکړ ، هغه یې په منګولو کې د ځان سره هوا ته پورته کړ . بېوزلی چنګاښ هم په هوا شو ، څکه چې پښه یې د موږک سره تړلي وه . کومو خلکو چې دا پېښه ولیدله د ځان سره یې ویل :« عجیبه چالاکه کارغی دی ، څنګه یې وشو کړی چې و په اوبو کې د چنګاښ ښکار وکړي ؟ » چنګاښ هم د ځان سره ویل : « دا د هغه کس سزا ده چې ، د خپل مخالف جنس سره ملګرتیا کوي ، زه بد مرغی وم چې د مخالف جنس سره مې دوستي کوله . »

ای دوستانو د ملګرتیا د پاره ښه دوستان ولټوئ ، عقل تل د نفس سره په تکلیف کې دی ، ځکه نفس ظاهري ښکلا ته ګوري ، او عقل وای : « جنسي ورتوالی ښه دی ، خومعنی ته باید وکتل شي ، نه اوبو او ختي ته . » بیا د صورت پالنه مکوه آو په صورت کې هم جنسیت مه لټوه .

ځان لکه میږی دي او تن هم لکه د غنمو دانه . میږی غنم هر خوا بیاي ، ځکه پوهېږي که هغه وخوري ، ده ته به ورته شي .یوه میږي د اوربشو دانه ورله او بل د غنمو .
دواړه د خپل پېتي لاندې پټ شوي ول ، که چا دا پېښه لیدلي وی ، په تصور کي یې راتله چي ، اوربشه د غنم په لور درومي ، په داسي حال کي چي هېڅکله هم اوربشه د غنمو په لور نه ځي ، دا میږی وو چي د خپل جنس په لور خوځېدل . دا تېروتني ډېرې پيښيږي ، دا د عقل کار دی چي جنسونه سره بيل کړي .

عيسى(ع) په خلکو کي ژوند کاوه ، خو د فرښتو له جنسه وو ، له همدې کبله آسمانونو ته ووخوت . نېکمرغه دي هغه سترګي چي عقل پرې حکومت کوي ، ځکه په دې صورت کي به پايلو ته کتونکی او پوهه وي ، د ښو اوبدو ترمينځ توپير کوي ، نه د تور ، سپين پوستکي او ظاهر . دانه ليدونکي سترګي مرغه د بلاپه منګولو کي آچوي ، او لومه ليدونکي يې بيا ژغوري ! د جنس او ناجنس پېژاندل او ظواهرو پسي نه تلل د عقل کار دی ، يوازې او يوازې خرد دا کار کولی شي .

## د شپې او د غلو نکل

يوه شپه سلطان محمود په ساده جامو کي د ښار لخوا خپلي ماڼی ته راته ، چي د غلو د یوې ډلې سره مخامخ شو . هغوی ته ورننږدې شو ، وېويل :.« زه هم ستاسو يو کس يم . » بيا ټول له هغه ځني را تاو شول . يوه غله وويل : « هر څوک ذاتاً يو هنر لري ، او موږ کولی شو چي ، له دې وړتياو د خپل مسلک په چارو کي ګټه وآخلو . اوس دې هر يو د ، خپل هنر څرګند کړي . »
لمړني وويل : « زه پوهېږم چي سپي ، د غپېدا په وخت کي څه واي . »
تولو وويل : « دا خو څه د ارزښت وړ هنر ندی ، د سپو خبرې د کوم درد دوا دي . ؟ »
دريم وويل :« زما خاصيت ، زما په متو کي دی ، زه کولی شم د متو په زور تونل وکنم . »
څلورم وويل : زما وړتيا په سپږمو کي ده ، کله چي ځمکه بوی کړم ، پوهېږم چي خزانه چېرې ده . که د انسان بدن بوی کړم ، پوهېږم چي ، د ځان سره څومره پيسي يا زر لېږدوي . زما شامه يا دبويولو حس مجنون ته ورته ده ، ځمکه به يې بويوله چي ليلي وي ، زه دشامي قوی حس لرم . تر دې چي د خلکو د کالو په بويه ولو پوهېږم ، يوسف(ع) ته ورته دی او که شيطان ته . لکه حضرت محمد (ص) چي ديمن نه به يې هم د يارانو بوی محسوسه وه . زما دبويه ولو حس ډېر پياوړی دی . همدارنګه د بويولو سره په دې هم پوهېږم ، چي کوم ګاونډی زر لري او کوم بېوزلی دی .
پينځم وويل : « زما ټول کمال په پنجو کي دی ، کولی شم چي ، ديوه منار په اندازه ليندی يا کماند پورته وآچوم ؛ څرنګه چي حضرت محمد (ص) به خپل کمند پورته تر آسمان آچوه . »
سلطان وويل : « زما خاصيت په ږيره کي دی ، کله چي هغه وښوره وم ، هر مجرم ، تر دې که قاتل هم وي ، له جلاده خلاصی مومي . »
تولو غلو وويل : « بيا زموږ مشر ته يې ، که ونيول شو ، ته کولی شي موږ وژغورې . »
بيا ټول پا څېدل او د سلطان د خزاني په لور وخوځېدل . کله چي ماڼی ته ور نږدې شول ، يوه سپي وغپل ، کوم کس چي د سپي په غپېدا پوهېده ، وويل : « هغه واي چي سلطان مجمود ، له تاسي سره دی . » چا د هغه خبرو ته غوږ ونه نيوه . هغه بل ځمکه بوی کړه وې ويل : « دا د کوم بېوزلي کور دی ، هېڅ نلري . ښه به دا وي چي په مخ لاړ شو . » تر دې چي د سلطان ماڼی ته ورسېدل .

هغه کمند آچونکي کمند وشړه ، تول پورت وختل . د دېوال له سره قصر ته کوز شول . يوه ځمکه بوی کړه وې ويل : « له دې خايه د پاچا خزاني ته لاره ده . » هغه متور بيا تونل وکينه ، تر دې چي خزاني ته ورسېدل . هغوی د خزاني تول قيمتي شيان د ځان سره يوړل او په يوه پټ ځای کي يې کېښودل .
سلطان دا هر څه په خپلو سترګو وليدل ، د هغو په چل او د خزاني د پټولو په ځای هم پوه شو . ګهيز وختي يې مامورين ولېږل ، غله يې لاس ترلي راوستل . بله ورځ سلطان پر خپل کښېناست ، مامورينو غله په داسي حالت کي را وستل چي له وېرې رپېدل . کوم کس چي به په تيارو کي ليدلی کس ، د ورځي په رڼا ک پېژانده، د ليدلو سره سم يې سلطان وپېژاند ږ هغه وويل : « تېره شپه هغه له موږ سره وو ، دا هغه کس دی چي ، هنر يې په ږيره کي وو ، بيا زموږ نيول هم د ده دلاسه دي . هغه پاچا وو او زموږ په تولو رازونو پوهېده . سپي هغه پېژاندلی وو ، ځکه توله شپه غپېده . زه د ځان او د ځخپلو ملګرو خلاصون له ده غواړم ، بيا ای سلطانه ! ږيره دې وښوروه او خپل هنر څرګند کړه .
پدې يوه شه چيځ ، د عارف سترګي په دواړو جهانونو د خلايقو د خلاصون سبب دی ، ځکه حضرت محمد(ص) د هغه چا شفيع کېږی چي د دنيا په دې توره شپه کي حق ويني او هغه ته اميد کوي . هغه څوک چي د خدای د آياتو په رانجو خپلي سترګط توري کړي ، هغه څه به ويني چي جبرايل هم ندي ليدلي . د کامل انسان باطني نُور ځلونکي دي ، د بنده ګانو درجي ورته ښکاري . ځکه خو خدای هغه ته د نورو بنده ګانو د شاهد او ليدونکي نوم ورکوي . د شاهد

د کار سامان د هغه ژبه او تېز لیدونکي سترګي دي . که په زرهاو مدعیان د هغه په وړاندې حاضر شي ، خدای غوږ شاهد ته نیولی وي .

قاضیان د قضاوت او حکم په وخت کې ، شاهد ته د دوه بیناو سترګو په څېر ګوري . سره له دې چې د مدعي سترګې هم همهغه څه لیدلي کوم چې شاهد لیدلي ، د شاهد سترګې بې پرې ، خو د مدعي سترګې بیا غرض لرونکې دي .
او غرض بیا د زړه پر سترګه لکه پرده ده . حق له تا غواړي چې غرض پرېږدېاو شاهد شي ؛ هله به د لمر په څېر نُور ستا پر زړه کښېږني ، چې ستوري هم د هغه په وړاندې هېڅ ارزښت نلري .
شاهد بې حجابه اسرار ، د مومینانو او کفارو د روح بهیرویني . په ځمکه او آسمان کې ، د آدمي تر روح بل پوشلی شی نشته . الله تعالی جهان له وچو ، لمدو ، ټیټو او جګو ډک کړی او روح یې په هغو کې پټ کړی . بیا هغه سترګې چې روح لیدلی شي ، هېڅ څه له هغه پټ نشي پاتیکېدلی . هغه د هرې لانجې مطلق شاهد دی او د هغه خبرې تولي لانجې ختمولی شي .

عدل د خدای یو نوم دی او شاهد هم له الهی عدله راوتی . بنا پر دې شاهد او عدل دواړه یو دي . د شاهد زړه په دواړو جهانونو د خدای د لیدو منظر دی . د شاهد سره د خدای همدا مینه وه چې جهان شته شو . برخه لیک او قضا پر ښو او بدو حاکم کېږي ، خو پر شاهد حکومت نشي کولی .
تر دې ، هغه کسان چې د نورو برخه لیک ، دهغو په لاس کې دی ، د خپل برخه لیک برمته دي . عارف له خدایه تل ډېرې غوښتنې لري . هغه له خپل خدای نه غواړي چې ، خیر او شر ور وښيي او د زړه سترګې یې پرانیزي . وای :« ای یاره ! ما شپه او ورځ یوازې مه پرېږده ! ستا لرېوالی ، په خانګړې توګه له وصل وروسته راته لکه زنکدن دی . چا چې لیدلی یې ، هغه همداسې مه پرېږده او پرې، د وصال اوبه پېرزو کړه .
پر موږ چې لکه تازه واښه نوي غوړېدلي ، د وصال اوبه پېرزو کړه . زه لټ او بې کاره نه وم ، ته هم ما سره هغه چلند مکوه کوم چې د هغوی سره کوې . ستا له مخ پرته د هر څه لیدل راته ، لکه په غاړه کې پروت زنځیر دی ، بغیر له تا هر څه باطل دي .؛ که داسې نه ده چې باطل دي د باطل په لور لاړ شي . که دا ټوله ځمکه او آسمان ذرې ذرې کړې ، بیا به هم هره ذره لکه کهربا خپل جنس جذب کړي ، څرنګه چې معده مړی او تږی لړمونواوبه جذبوي . ای په راز پوه ربه ! داسې وکړه چې موږ ستا په لور جذب شو ، ځکه چې ته ، پر ټولو جذب کونکو غالب بر یې ، او په لاره پاتې ژغورې . هغه چا چې ډېرې او ذره لیدونکې سترګې لرلې ، لکه تږی چې د باران وریدا ته سترګې په لار وي یا لکه هغه کس چې د قدر په شپه یې میاشت لیدلې وي ، مخ سلطان ته ور واړه وه او وې ویل :« موږ لکه ځان چې خاورین وجود پورې مېښتی وی ، تا پورې مېښتي یو .
بیا موږ ته نوی ژوند را وبښه. د دې وخت را رسېدلی چې خپله ږیره وښوره وي ږ موږ ټولو د خپلو خاصیتونو ننداره وښودله ، چې موږ ته یې له بدمرغۍ پرته بل څه نه لرل . دا دی دهمهغو هنرونو لکبله پلې په لاره پاتې یو، یوازنی د کار خاصیت همهغه د سپي وو ، چې په توره شپه یې سلطان و پېژانده . نور ټول پاتې بېکاره باطل وول . »

سلطان هغه سپي ته چې دی یې په شپه کې پیژاندلی وو ، د پیرزوینه له مخې ، د اصحاب کهف سپی نوم ور کړ . او وې ویل :« دغوږ خاصیت هم ښه دی، ځکه، پدې وسیله سپي د خپل ږغ سره،موږ ته د زمري شتون په ګوته کوي. »

سپی ټوله شپه ویښ وي او څارنه کوي ، بنا پر دې له شپه ویښو سلطانانو خبر دی . بیا نه ښاي چې د بد نامو اسرارو ته په غوږ نیولو وشرمېږو ، او کوم کس چې یوار بد نامی شوی وي ، نور نو په کار نده چې د هغه نوم وآخلو . داسې ډېر زرینا جسام دي چې ، د غلو له وېرې یې مخونه توره وي .

## هغه نکل چې د اوبو غوي د کاویان ګوهر د سین له تل نه راویست

د اوبو غویه شپې د څړ د پاره له اوبو را اوځي ، د دې د پاره چې د هغه په رڼا کې ، د سین په غاړه شته سنبل او سوسن وخوري ، د ځان سره ګوهر راوړي ، ځکه چې د اوبو د غوي خواړه ګُل او خوشبویه بوټي دي .

هر څوک چې د الهی نُور په رڼا کې د خپلې غذا او نور اړتیاو پسې وګرځي ، شونډې به یې له حلال پرته بل څه ونه څکي او هر هغه کس چې ، لکه د شاتو مچې د الهی حکم سره کار او کوښښ وکړي ، کور به یې له عسلو تش نه پاتې نشي .

يوه شپه له اوبو را ووت ،ګوهر يې د ساحل پر غاړه کېښود او څرېدلو بوخت شو ، چې له همدې کبله له ګوهره لرې پاتې شو . هلته نژدې يو سوداګر وو .، هغه دا پېښه وليدله . په چټکۍ سره راغی او ګوهر يې د ساحل په تورو ختو کې تر پښو لاندې پټ کړ ، ترڅو چې ورشو تياره شي . او خپله وتښتيد .
غويه د سهار پسې وو چې هغه ووهي ، خو سهار ونې ته وخته .کله چې غويه ناهيلی شو ، هغه ځې ته لاړ چې ګوهر په ختو کې ايښودل شی وو . خو کله يې چې ګوهر په ختو لټ پټ خيرن وليد ، له هغه وتښتيد ؛ څرنګه ابليس ختين آدم(ع)وليد خو په هغه کې پټ ګوهر ورته ښکاره نشو ، بنا پردې ترې وتښتيد ، په دې توګه خواري او ذلت ور په برخه شو ؛ يا دا چې آدم(ع )له جنته وښکل او تبعيد شو ، چې لکه ښځې د حيض لکبله د لمانځه نه محروم شو .

پدې پوه شه چې واي : « د نفس هوا د نارينو حيض دی . » تا ونه ليدل چې آدم(ع) د همدغې هوا په خاطر ، له جنته دنيا ته وژړل شو او هغه ګران ګوهر يې په ختو کې پټ کړ . سوداګر پوهېږي چې په ختو کېګوهر شته ، خو غويه بيا دا ورتيا نلري . د څپېڅلي زړه خاوندان په دې پوهېږي د هرې ختې په زړه کې ګوهر پټ دی او هغه ګوهرد بل نُور نښانې لري ، هغه ګوهر چې د حق نُور ونلري ، حق نلري او نشي کولی چې د نُوريانو سره کښېني .

# د عبدالغوث د ښاپيريو وړل او څو کاله د هغو تر مينځ د ژوند کولو قيصه

عبدالغوث چې يو نېک سړی وو ، د ښاپېريو له خوا يوړل شو او نهه کاله د هغو سره پاتې شو . ښځې يې ګمان کوه و چې هغه مړ دی . بنا پر دې د بل چا سره يې واده وکړ . خو د هغه بچيانو نه منله او دا ورته لکه يوه آفسانه ښکارېدله . هغوی ګمان کوه چې غلو يا لېوانو پر عبدالغوث بريد کړی ، د وژو وروسته يې د هغه جسد ، په کومه ځا کې آچولی . د هغه زامن په خپل کارو بار کې داسې بوخت شوي ول ، تا به ويل چې هېڅکله يې پلار نه لاره . لنډه دا چې نهه کاله وروسته عبدالغوث را څرګند شو . د خپلو بچيانو سره يې يوه مياشت تېره کړه ، خوبيا وتښتېد ، دا ځل هېچا ونشوی کړی چې د هغه مخ ووينې . ښاپېريو داخل ، هغه لکه روح چې د بدن نه د تورو په زور وښکل شي له ځانه سره بوته .
جنتيان د جنت له جنسه دي او د خپل جنسيت لکبله ، خدای پالونکي دي . حضرت محمد(ص) فرمآيلي دي ، : د« سخاوت او نېک صفتونه د جنت هغه ښه څانګې دی ، چې دنيا ته راځي . »
هره خوا خوږی له خواوږو را مينځته کېږي او هر قهر له قهره ، هره کرکه له دښمنۍ ، چې په دې توګه د نورو بديو سبب ګرځي . ځکه چې هغوی هم له يوه جنسه دي . نبی ادريس(ع) منجم وو ، له همدې کبله اته کاله د زحل سره همراز او ملګری شو . نور ستوري به هم په يوه ليکه کې ولاړ او د هغه درس ته يې غوږ نيوه .
ووګوره چې د جنسيت جذب يو انسان د ستورو خواته بولي ، ستوري د ادريس(ع) په وړاندې درېدل ، خپل نوم او حال به يې ورته بيانه وو ، تر دې چې د خپل رصد څرنګوالی به يې هم شرحه کاوه . جنسيت د نظرونو د يوالي پرته بل څه ندی ، همدا د لارې يو ډول والی د دې سبب کېږي چې ، يو بل ومومي .
کوم نظر چې خدای پر تا کړی ، که هغه په خپل وجود کې ومومې ، بيا به دهغه همجنسه شي . تر هغو چې دا نظر ونه پېژنې ، تا سره ملګر تيا نه کوي . که خدای د چا په وجود کې ، ښځينه خاصيت کېږدي ، هغه به ښځينه حرکتونه کوي او که په ښځه کې د نارينه خويونه کېږدي ، بيا هغه ښځو ته جذبېږي .
که په تا کې هم د جبرايل صفتونه کېږدي ، نور نو په ځمکه نه ټينګېږې، بيا د آسمان سره مينه کوې . که په تا کې يې د خره صفات ايښي وی ، سلګونو درهمو ته به دې هېڅ پام نه کولی ، غوجل ته به دې منډې وهلې وی . موږک د وړکتوب لکبله خوار او ذليل شوی ندی ، بلکې د خپل د ننه ني جنس په خاطر خوار دی .
هغه طمعه لرونکی ، خاين او تم پالونکی دی ، د پوڅو ، پيسته او د انګورو د شيرې په ليدلو سره مست او بېسده کېږي . خو که خړ باز د موږک خوی ولري ، موږکو او آلوتونکو ته به د پېغور پېټی شي . کله چې د هاروت او ماروت خصلت بدل شو ، بشری خوی يې خپل کړ ، له همدې کبله د بابل څا ته ولوېدل ، په داسې حال کې چې د هغوی په ظاهري بڼه کې هېڅ بدلون نه وو راغلی . هر څوک د خپل خوی او خصلت سره سم ، ځای او مقام نيسي . بيا د نېکو خصلتونو پسې شه او د نېک خصلتو سره ناست پاسته کوه ، او د خوی خپلول د ګُل له اعصارې نه زده کړه ، چې څنګه د ګُل بوی ورکوي . تر دې چې د ګور خاوره هم ، په هغه کې د ايښي کس له برکته ، شرف او اقبالمومي .
ته هم دې ضربالمثل ته غوږ ونيسه چې واي : «الجارُثم الدار . » لمړی ګاونډی بيا وروسته کور .
له ځايه چې ته پکې کښېنې د ګاونډي اهميت ډېر پورته دی . که زړه لرې ، بيا د دلدار پسې ګرځه، داسې ژوند وکړه چې وروسته له مرګه دې عزيزان خاوره د سترګو رانجه کړي . څومره ډېر دي په خاورو کې پراته چې ، تر سلو ژوندويو يې خلکو ته ډېره ګټه رسېږي . هغوی په خپل ژوند کې داسې سيوري تيار کړي ، چې سل زړه ژوندي يې تر سيوري لاندې اوساي او آرامي مومي .

# د هغه چا نکل چې د تبرېز له محتسب نه يې
# دنده درلوده

يوه درويش د تبرېز د ښار په ځنډوکي ژوند کاوه ، چې د فقر له وجهې له ډېرو خلکو ، د سروزرو نهه سوه زره سکې پوره وړی وو . درويش آورېدلي وو چې ، په تبرېز کې يو محتسب ژوند کوي .
هغه په ورکړه او لاس نيوي کې تر حاتم طای هم مخ ته تللی وو . فقير په همدې هيله د تبرېز په لور روان شو .
درويش غوښتل ځان محتسب ته ور ورسوي ، تر څو چې د ده سره څه مرسته وکړي او په دې توګه به ، پر ده د پوررونو بوج لږ شي . هغه د اوږي په سوځنده ورځو کې مزل کوه ، خو زړه ته يې غم نه پرېښوده . هغه څوک چې د ورېځو سره ژمنه او هيله لري ، د اوبو او سقا له نشوالي نه نا هيلي کېږي .
د فرعون د زمانې ساحرانو هم ، کله چې د خدای لاس وليد ، بيا له دې ونه وېرېدل چې خپل لاس يا پښې به له لاسه ورکړي . د کوم ګيدړ تر شا چې زمری وي ، بيا کولی شي چې په يوه سوک د پړانګ ککری ماته کړي .
لنډه دا چې له پوره وېرېدلی سړی د تبرېز وره ته ور ورسېد . هغه داسي ښاد خوشحاله وو ، تا به وې چې ګلستان ته رسېدلی . يا د يعقوب(ع) سپړمو د يوسف(ع) د وصال بوي محسوس کړ . او د ځان سره يې ويل :« ای ساروانانو د اوښانو پړي خلاص کړی – دا دی د تبرېز ګُلستان ته ورسيدو . »
هغه ته تبرېز لکه جنت وو چې ، عرشي وړانګي پرې لګېدې . سمدلاسه يې د سړي په لټون پيل وکړ . خلکو ورته وويل :« هغه د خدای دوست څو ورځي وړاندې وفات شو . له همدې کبله د ښار نر او ښځې د هغه په وير غمجن دي .
هغه عرشي طاووس ته ملکو ، د کبريای عرش بوی را ورسوه او دی هم دعرش په لور لاړ .
د هغه سيوری د ټولو خلکو پټنځی وو ، خو لمر دا سيوری له موږ وآخيست . کېدی شي چې هغه ستر انسان به ، دې دنيوي غم ځپلي کور کې په تنګ شوی وو . له همدې کبله يې خپله بېړی د آرامی د ساحل په لور بوتله او لاړ . »

سړي د دې خبرو د آورېدو سره ، چيغه ووهله او بېسده شو . تا به وې چې دی هم مړ شو . خلکو د هغه پر مخ اوبه او ګُلاب شيندل . ملګرو يې اوښکي تويولي ، تر دې چې سړی شپې بېرته را په سد شو .

کله چې سړی را په سد شو . وې ويل : « خدايه ! زه ګنهګار يم ، ځکه د دې پر ځای چې تاته اميد وکړم ، هغه ته مي هيله کړې وه . دا سمه ده چې هغه به ډېر سخي وو ، خو ستا تر سخاوت ډېر نه وو . هغه خولی ډالی کوله او تا له عقله ډک سر رابښلی ، هغه کالي ببښل خو تا قد او ونه ، هغه د زرو سکې ببښلي خو تا هغه لاس چې زر پرې شمېرلی کېږي ،؛ هغه خواړه ببښل او تا د خوند پوهېدو حس ، هغه کار ورکوه او ته اوږد عمر ورکوې. کېدی شي چې هغه په يوه کوټه راکړي وی ، خو تا ماته آسمان او ځمکه را ببښلي ده .
په حقيقت کې دا ټولې کوټې او کورونه ستا دي . زر تا شته کړي . دا ډودی تا هغه او ټولو ته ورکړې ده . تر دې چې هغه رحم او سخاوت هم تا د هغه محتسب په زړه کې ايښی وو . تا داسې کړي ول چې سخاوت او پېرزوينه ، هغه خوشحاله او راضی کړي ، له دې پرته هغه هيڅ هم نشوی کولی .
سره له دې هم ما ته هېر کړی وی او هغه ته مې د قبلې او اميد په سترګه کتل . »

موږ چيري وو ، کله چې هغه د دين خاوند ، په ختّه او اوبو کې عقل ايښوده ؟ موږ چېري وو ، کله چې هغه له عدمه خاورينه ځمکه او آسمان شته کړ ؟ موږ چېري وو ، کله چې هغه له ستورو څراغ ، او زموږ له بنسټ نه يې لاره ښونکی عقل جوړه وه .؟ څومره ډېر دي هغه پټ او څرګند قوانين او بستونهچې د ځمکې او آسمان په ضمير کې ايښودل شوي ؟ که داسي نه ده چې انسان د هغه د قدرت او آياتو مظهر دی ؟
خو انسان د خپل پېچلي خلقت سره سره ، په خپل کار کې پاتې راغلی ، او د الله د دې ټولو پېرزوينو سره ، بيا هم د ژوند په پېچومو کې ګوډ ګوډ ځي . الله د دوی د لارښوني د پاره انبيا راولېږل .

د غيب ليدلو د پاره ، غيب ليدونکي سترګې ښاي . دنيا لکه ځا ده ، هر څوک چې د ځا مينځ ته ووګوري ، خپل انځور پکې ويني ، پر ځان وياړي او ځان د ځاه تل ته آچوي . کوم څه چې په ځا کې ويني ، د باندې هغه په خپل ځان کې و لټوه . او کنه د ځا په تل کې به پاتې شي . کوم څه چې په ځا کې دي ، که ته تر هغه هم پياوړی يې ، بيا له هغه وتښته . هر څوک چې مقلد وي د نفس د خندا وړ ګرځي . ځکه چې نفس د حقيقت او مجاز همدارنګه د دروغو تر مينځ توپير نه پېژني . کرکه او دښمني به ستا د خواری سبب شي .
دا د خدای خوښه وه چې په ځا کې درته خپل تصوير وځلېږي . تر څو چې تا بې لارې او له تا سره دښمني وکړي .
بيا د خلاصون پوازينی لاره دا ده چې ، کرکي او دښمنی له خپل وجوده لرې کړې ، تر هغو چې په هنداره يا اوبو کې ګورې ، له پليدی او خيرو پرته بل څه نه ويني .

کوم کسان چې خپلې تېروتنې او بد مرغي تقدير ته منسوبه وي ، هغو کسانو ته ورته دي ، کله چېپه اوبو کې د ستورو انځور ويني ، فکر کوي چې همدا د بدمرغي ستوری دی ، او پر هغه عکس خاورې آچوي ، دا انګېرې چې په دې توګه يې هغه ستوری له مينځه يوړ .
هغوی په دې کار سره د يو څو دقيقو د پاره دا انځور ګډ وډولی شي ، په داسې حال کې چې ستوری لا همهغسې پر خپل ځای ولاړ دی . د هغه يوازينی لاره دا ده چې خپل زړه الهی صفاتو سره جوخت او پدې توګه خپل برخه ليک بدل کړي .
د بدمرغي ستوري د انسان همهغه بد او کرغېړن صفتونه دي . د انسان سره د خدای وجود داسې خلط شوی ، ته به واې چې هغه ته او ته هغه يې . که ځان داوبو او خوړو له قيده آزاد کړي ، هغه به پرته له دې دوه وو ، تا پاک غوښن او ستا غوټوالی به د خدای په وړاندې وړوکی کړي ، او ستا ډنګر والی به ستر وبښي . دا ده اوسه ، څرنګه چې هغه خپلو فربښتو ته روزي ورکوي ، تا ته به يې هم درکړي ، موړ او بې نيازه به شې .
دا ځان څه دی چې ته د هغه په وسيله تلنی ژوند غواړې . الله تعالی تا د خپل عشقپه وسيله ژوندی ساتي . دا ټول خلک صافی او زلالې او به وګڼه چې د الله پرتمين صفتونه پرې ځلېږي . علم ، عدل او پېرزويني، همهغه صفتونه دي . واړه سلطانان د حق د سلطانی مظهر دي ، او فاضلان يې د پوهې هنداره .
پيری تيرې شوې ، موږ په نوې پيری کې ژوند کوو ، په داسې حال کې چې د خدای د پيرزويني او مهرباني سپوږمی چې پر موږ رڼا خوره وي ، همهغه سپوږمی ده ، خو زموږ د وجود دا اوبه چې عکس منعکس کوي ، همهغه اوبه ندي . عدل همهغه دی او فضلونه هم هغه ، خو پيری او انسانان بدل شوي . د دې ټولو سره سره معانی همهغسې پر خپل ځای ولاړې او دوام لري .اوبه بهېږي او درومي ، خو د ستورو او سپوږمی عکس پر خپل ځای ولاړ پاتې کېږي .

ښکلي د خدای د ښکلا هنداره او د هغو سره مينه د خدای د محبت نښه ده . که په زير سره ووګورې ، هر څه د هغه تصوير دی چې د روانو اوبو پر مخ ولېږي .
په پايله کې عقل مينځګړی شو او فقير له دې کبله چې هغه سري يې د عامو خلکو په څېر ګڼلی وو ، وشرمېد ، ځکه چې هغه د خدای يو جزو وو .
عقل هغه ته وويل :« سترو خلکو ته لکه شيطان مګوره ، دا کمان مکوه چې دا ټول له ختو دي . د لمر ملګرو ته بم مه وايه . نور نو هغوی انځور ندي ، بلکې خدای لکه خپل عکس هغوی ځمکې ته رالېږلي دي .هغوی د ګلو غوړوته ورته دي ، چې د لمر د وړانګو سره له جامد حالته راوځي او په مايع بدلېږي ؛ معنا دا چې د خپل رب په وړاندې ډېر مات او هر څنګه چې وغواړي ، همهغه شکل نيسي . دوی د ځمکې پر مخ ، د حق د وجود تجلی دي .
که قيصه بله وی ، بيا به د انسانانو قبله له مينځه تللې وی او ملکې به هم نه پوهېدی چې چا ته سجده وکړي .

بيا سرې پوه شو ، د منې کوم انځور چې ده په اوبو کې ليدلی وو ، رښتينی وو . بنا پر دې خپله لمنه يې له منو ډکه کړه . هغه پوه شو چې د لوړ رتبو خلکو ليدل ، د خالق ليدل دي ، او دهغوی خدمت هم د خالق خدمت دی . دا خلک سوړو ته ورته دي ، کوم چې خپله نُور لري ، نه داچې له لمر نه يې وآخلي او د وربځو سره ورکه شي . له دې سوړو کولی شئ چې خدای ووينئ .بيا د هغوی مدحه او تسبېح ، لکه د خدای مدحه او تسبېح ده . د هغو د پښو خاورې د سترګو رانجه کړه . کله چې لمر د ځمکې پر سر را وخيږي ، بيا ولې سترګې پورته او ستورو ته ووګورو . ؟

هغو چې د خدای د عظمت په وړاندې تاب را نه وړ ، د هغه په لايزاله وجود کې نشت او فانی شول ، نور نشي کولی هغوی بيل بيل ووينې.او ووايي چې سره بيل دي . که د هغوی تر مينځ دې توپير ومنه ، بيا پوه شه چې متن او عنوان دې ورک کړل . بيا دواړه يوه قبله ده او د هغو بيل ليدل به دې ، له دواړو خوا وو پرېږدي .

د پوروړي او د هغه د پور قيصه ، هر خوا خپرو شوه ، يوه مېړني دا نکل وآورېد او ډېر خواشينی شو . هغه به د سوالګرو په څېر په ښار کې ګرځېده ، او د فقير ، قيصه يې هر چا ته کوله ، له خلکو يې غوښتل چې د هغه سره مرسته وکړي . په پايله کې يې سل ديناره غونډ کړل . خو دا فقير د پور په وړاندې ډېرې لږ وی . هغه مېړني ، پيسې فقير ته ورکړې ، فقير هم د هديرې په لور لاړ چې د هغه محتسب زيارت وکړي ، په لاره کې يې د ځان سره ويل : « کله چې يو بنده د چا سره ښېګڼه وکړي ، له هغه مننه پکار ده ، ځکه له هغه مننه ، له خدايه مننه ده ، او له هغه نه مننه له خدايه نه مننه ده . »

سمه ده چې د مور رحمت ، له خدايه ده ، خو د هغې چوپړ ، فريضه او واجب دی . د قيامت په ورځ خدای بنده ته واي :« کوم څه مې چې درکړي ول ، ولې دې د هغو شُکر پر ځای نکړ ؟ » بنده واي :« ما ستا شُکر پر ځای کړ ، ځکه چې ته روزي ورکونکی يې .» خو الله بيا ورته واي : « څرنګه چې تا د هغه مرسته کونکي مننه ونکړه ، داسې وګڼه چې زما شُکر دې نه دی پر ځای کړی ، تا دهغه مرسته کونکي سره ظلم وکړ ، که داسې نه ده چې ، هغه نعمت تا

ته د هغه په لاس در ورسېد . ؟»

فقیر سړی له همدغو سوچونو سره د خپل ولی نعمت قبر ته وه رسېد . بیا یې په ژړا او زاریو سره وویل :« ای ستره ښځونکیه ، چې د سپوږمۍ شا لکه لمر له تا ته توده ، د هرې خزانې او کندوالې رونق له تا دی ! ای هغه کسه ! چې لکه میکایل هېڅ‌ا ستا په ټنده کړې لیکی ونه لیدلې او ای هغه کسه!
چې د غیب له سین سره یو ځای شوی یې آو ستا د وجود د قاف پرغره د غیب شاهین ناست دی ! ته زما هر څوک او هر څه یې . نور نو د لاسه تللي مال په هکله سوچ نه کوم ، بلکې زما حسرت له دې کبله دی ، چې ته مې ونه لیدلې .
ته مړ نه یې بلکې زما بخت مړ دی ، چې ستا لیدل مې په برخه نشو . ته داسې لاس خلاصی ښځونکی یې ، چې وروسته له مرګه هم ورکړه کوې . ته هرې سا ته حیات ورکوې ، کوم چې زه د هغه ور نه یم او زما له وجوده ډېر ځپېځلی دی . تللی ژوند چې ، لکه نغده زر بې شمېره او بې تاوانه دې . ای ستره ! چې آسمان هم درته سجده کوي ، هېڅ وارث ستا د ښه خوی ارث ندی وړی .ته لکه موسی کلیم الله (ع) شپون او خلک ستا مېږی دي . »

یوه ورځ یو مږ له موسی(ع) نه وتښتېد . موسی(ع) دومره منډه ور پسې ووهله چې پښې یې تڼاکې شوې . تر دې چې مږ ستړی او له منډې پاتې شو . موسی(ع) هغه ونیوه ، لکه مهربانه مور د هغه په سر او شا یې لاس واهه او وې ویل : « که په ما دې رحم ونکړ ، بیا په خپل ځان ولې دا ظلم کوې ؟ . » په همدغه وخت کې الله تعالی ملایکو ته وویل : « هغه د نبوت وړ دی . »

حضرت محمد(ص) فرمايلي : « هر رسول په ځوانی یا کوچنی والي کې د شپانه دنده تر سره کړې . الله تعالی هغوی د شپونتوب په دنده آزمایلي ، بیا یې د جهان لار ښونه ور سپارلې . »
الله تعالی خپلو آستازو ته د همدې دندې په سبب صبر او تمکین ور ښې ، بیا د نبوت مسوولیت ور سپاري . کوم امیر چې لکه شپون د خلکو دحق ساتنه وکړي ، الله تعالی به هغه ته په آسمانونو کې روحانی شپونتوب ور وبښي .

فقیر د محتسب د قبر پر سر ادامه ورکړه : « ای ستره انسانه ! زما په هکله تا خپله دنده تر سره کړې ، له همدې کبله پوهېږم چې ، الله تا ته تللې سروري درکړې . زه دلته ، د دې د پاره راغلی وم چې‌له تا یوه دنده تر لاسه کړم . ته چېرې یې چې زما د پوز لس برابره را او خوشحاله مې کړې .؟ زه د دې خبرو سره خپل زړه ډاډه کوم .که دا جهان په یوه موتي خختېه کې ځاېدلی ، بیا به آسمان هم په ځمکه کې ځای شوی وی .
ته په دواړو ، مرګ یا حیاتپه وخت کې ، له دې جهانه بېل وې .ته هغه مرغه یې چې ، د غیب په آسمان کې آلوزې ، او هغه څه چې موږ له تا ولیدل یا وآورېدل، د هغه مرغه سیوری وو ، چې پر ځمکه ولوېد او محو ه شو .

د سترو خلکو جسم مري ، خو روح یې په آسمانو کې ځلېږي . ځان د تن په خت کې پټ شوی ، او تن ته د تقلب فرصت په لاس ورغلی . هغه داسې ښې چې ، ګواکې ځان دی . د روح د پاره هېڅ مثال نشو مندلی . سړي په ژړا او زاریو سره ادامه وکړه : « دریغه چېره ده هغه خوله چې ، د خپلو ځوابونو سره به یې اسرار بر بندول .؟ چېرې ده هغه کیلي چې زموږ ستونځې به یې خلاصولې ؟ چېرې دی هغه دم چې . لکه زولفقار عقلونه به یې ناکراره کول ؟ ته چېرې یې چې رحمت ، مېړانهاو داسې نور صفات په تا کې غوند ول .؟ چېرې یې چې فکر او زړه به تل لکه زمری ، ستا ګوټ ته درتلل ؟ چېرې یې چې ، ښځو او نرو به د ستونځو په وخت کې ، تا پورې زړه تړه .؟ نهه زره دیناره پور لرم ، یوازې سل دیناره مې په لاس کې دي . ته حق له دې ځایه بولی یې ، دا دی زه ستړی ستومانه او ناهیلی ځم .زه دې چینې ته تږی راغلی یم او په هغه کې د اوبو پر ځای وینې وینم . »

درویش ویل : « آسمان همهغه آسمان دی ، خو سپوږمۍ نشته . لښتی همهغه دی ، خو اوبه نشته . د نېکی کونکی شته خو ، هغه پاک سیرته محتسب چېرې دی .؟ ستوري شته ، خو هغه لمر چېرې دی ؟ ځرنګه چې ته دحق په لور لاړې ، زه هم د خدای په لور ځم ، ځکه یوازې هغه کولی شي چې ، هر انځور ثبت یا محوه کړي . هغه دې چې قهر راولي او رضا بیاي .بخل راولي او سخاوت بیا یې .»

هر منګی یوه هنر مند جوړ کړی ، کنه منګی کله کولی شي ، چې په خپله دې جوړ شي . همداسې لرګي د ترکاڼ او کالي د ګندونکي او .... په لاس جوړېږي . بیا هر شته شوی ، له خپل خالق نه عتبار تر لاسه کوي . که سترګې لری ، په خپلو سترګو ووګوره نه د پستو خلکو په سترګه . که غوږونه لرې په خپلو غوږونو یې واوره ، نه د ناپوهو په غوږونو . سوچ ته مخه کړه او هر څه د عقل په تله وتله ، چې ونه ښویږې .

په پای کې فقير له اديرې بېرته را وګرځيد او هغه مېړني سړي له خانه سره خپل کور ته بوته او سکې يې ورکړل . کوربه د فقير ښه پالنه وکړه او داسې قيصې يې ورته وکړې چې ، دهغه هيله بېرته را وټوکېدله . نيمه شپه شوه دواړو ته خوب ورغی . همغه شپه ځوان ، محتسب به خوب کې وليد . محتسب په خوب کې هغه ته وويل : « هغه فقير سړي ته ووايه ، ټول هغه څه چې تا زما پر قبروويل ، ما يو په يو وآورېدل، خو د ځواب ويلو اجازه مې نلره . موږ د خدای د اذن او اجازې پرته ژوندي نه بېرته کوو .

سره له دې چې په هر څه پوهېږو ، خو ته به واې چې زموږ پر خوله يې مهر لګولی ، تر څو چې خلک د غيب اسراره وانه وري او له دې کبله د خپل کار او بار نه پاتې نشي . سمه ده چې د حس غوږونه نلرو ، خو سر تر پايه غوږ يو . موږ ټول خبري يو ، خو غلې پاتې کيږو .

د ا جهان د پردې غوږولو او کرلو جهان دی . ته نه وينې چې د کښت په وخت کې زړې پټوي .؟ د آخرت جهان ، د لو جهان دی . په هغه ورځ هر څه بربنډيږي او د ښې‌ګڼو کونکي به ، د خپل کړي کښت حاصل آخلي .»

محتسب ادامه ورکړه :« زه د هغه فقير په ستونځه پوهېدم ، ځکه مې څه جواهر هلته چيرې ايښې . ما غوښتل چې په خپل لاس دا ورکړم ، خو آجل مهلت را نکړ . او په پلانکي دفتر کې مې هم ليکلي دي . تر دې چې ، پدې هم پوهېدم چې د هغه پور نه زره سکې دی .

هغه ته ووايه ، قرض ادا ، پاتې د ځان سره آخله او خپله خرچه پرې وکړه . له دې وروسته دې ما په خپلو دعاګانو کې يادوي . هغه ته ووايه که ، په کومه معامله کې د بيعانې په توګه څه ورکوي او وېره لرې چې تاوان ونکړي ، د حضرت محمد(ص) د حکوم سره سم ، درې ورځې د معاملې د فسخې شرط هم کېږدی .او هېڅکله له تاوانه مه وېرېږه .وارثانو ته مې مې سلام ووايه او زما نصيحت يو په يو هغوي ته ورسوه ، چې د څه ځنډ پرتههغه پلی کړي ، که هغه ټول مال ونه غوښت ، پاتې برخه دې له هغه وآخلي او په وړو کسانو دې وويشي .

ځکه زما په تګ لاره کې دا نشته چې ښنل شوی څيز بېرته وآخلم . که يې ونشوی کړی ، چې هغه مستحقو خلکو ته ورسوي ، زر دې په وره کې کېږدي ، هر چا چې وآخيستل د هغه دې شي .

ما دوه کاله دمخه دا نذر د هغه دپاره نيولی وو ، او که څوک خپل نذر ادا نکړي، شل برابره تاوان به ور پېښ شی .زه له خدايه دا اميد لرم چې ، زما مال به مستحقو کسانو ته ور ورسوئ . » له هغې وروسته محتسب ، دوه نورې قضيې هم بيان کړې ، د هغو شرحه به پرېږدو چې لکه ، سر پوشلی راز پټ پاتې شي .

کوربه ناپامه له خوبه راپاڅېد . خينجکې ، نارې او غزلې يې ويلې ، مېلمه د هغه شور سره راپاڅېد . وې ويل : « څرنګه خوب دې ليدلی چې ، دومره خوشحاله ،مستشوی او په خت کې نه ځايږې .؟ که فيل دې د هندوستان خوب ليدلی .؟ »

ځوان مېړنی سړی وويل : « ما هغه تلپاتې خواجه په خوب وليد ،» بيا يې خپل خوب بيان کړ او د همدې سره بېسده شو . يوه لويه ډله خلک له هغه راټاو شول . تر دې چې په سد سو . او وې ويل : « ای د ښادی سمندره ! ای هغه کسه ، چې هوشونه دي ، بېهوشی ته اړ ايستي دي . ای چې خوب دې په ويښه او دلداری دې په بېدلی کې ايښی ! دا ته يې چې شتمني او دولت د فقر لاندې پټوې! ضد په ضد کې پټ ساتې ! او جنت د نمرود په اور کې ، دخلونه دې په ورکړه او ډېرېدل دې په ذکات کې ايښی !عصمت له فحشا او منکر له ورکړې دی ؛ ذکات د جوب او مال ساتنه کوې او ورکړه ، تن د شپې له وږو ساتې .

هغه دی چې خوږه مېوه يې د ونو په پانو او څانګو کې ايښې ده ، او تلنې ژوند يې په مرګ کې پټ کړيدی .هغه دی چې موجودات ، په عدم کې نغاړي او د ساجدانو په پنځ کې يې د سجدې تنده ايښې ده . هغه دی ، چې په سترګو کې يې د سترګو رڼا ايښې دهاو د تن دغويې په څېته کې يې ، سلطان زوی کښېنوليدی . ته به واې چې په کنډواله کې دې خزانه پټه کړې ده ، تر څو چې ناپوه او شيطان له هغې پرتميني خزانې وتښتي ، ځکه چې هغوی غويه وينې خو د سلطان زوی نه وينې .»

## د يوې کلا د نيولو د پاره د جعفر (ض) يوازې راتګ او د ملک مشوره کول

يوه ورځ جعفر (ض) په يوازې سر پر يوې کلا بريد وکړ . هغه پر آس سو او د کلا د نيولو د پاره مخامخ روان وو . د هغې کلا ساتونکو چې دا پېښه وليدله ، د کلا ور يې بند کړ . هېچا نشوی کړی چې يو پل هم مخ ته کېږدي او د هغه سره ډغره ووهي . د کلا ملک خپل وزير ته مخ ور واړوه او وې ويل : « اوس چاره څه ده ؟ »

وزير وويل : « غرور او زيرکي يوه خوا پرېږده ، د تورې او کفن سره هغه ته ورشه او خان تسليم کړه . »
ملک وويل : « هغه خو ، يوکس دی . »
وزير وويل : « دهغه يوازېتوب ته په خواره سترګه مګوره ، سترګي وغوړوه ، د کلا مېښتو د ښېنټېدلی ژير رنګ او رپنده پېښو ننداره وکړه . هغه پر آس داسي ټينګ او ډاډه سور دی ، لکه دلوېديز او ختيځ لښکرې چې ور سره وي .»

څو تنو سرښندنه وکړه ، د هغه په لور ورغله . خو طيار جعفر ، هريو بيل بيل د تورې په ضرب سره ځمکي ته ګذار کړل . تا به ويل چې ، خدای ده ته ديوه امت قوت ور کړی . کله به چې چا هغه ته وکتل ، د هغه يوازېتوب به يې هېر کړ . ته نه ويني چې ستوري ډېر دي خو لمر يو ، خو ټول ستوري د لمر په وړاندي ، نُور نلري .
که زر موږکان را مخته شي ، پيشو په يوازې سره د هغه لښکرې درې وړې کوي . له همدې کبله موږک هېڅکله هم پر پيشو ډليز بريد نه کوي . قصاب هېڅکله هم د غويو او مېږو له ډېر والي نه وېرېږي . که خدای اراده وکړي کولی شي چي ، يوه ډله په يوه وجود کي را ونغاړي ، چي لکه زمری پر څاروو بريد وکړي .
خدای د جهان څښتن دی ، کولی شي چي ، يوه بشر ته د ملکو ښايست ورکړي او يوسف(ع) خلق کړي ، او پاچا ، د يوې وينځی مريه شي . د چا سترګي چې له هغه نُور وآخلي ، په تياره کي هم د ښو او بدو توپير کولی شي ؛ لکه يوسف(ع) او موسی(ع) چي له هغه نه يې نُور آخيستی وو . د موسی(ع) مخ داسي نُوراني وو ، چي سترګي به ورته خړې شوې ؛ لکه د زمردو نُور چي زموږ سترګي ړنده وي .
موسی(٩) له خدايه وغوښتل چي د يوې پردې سره هغه نُور پټ کړي . الله تعالی موسی(ع) ته وويل : « د خپلي وړيني خرقي نه يو نقاب جوړ کړه ، چي خپله ما په هغه کي برکت او صبر ايښی دي ، تر څو چي ستا د نُور په وړاندي ټينګ شي . » له دې خرقي پرته بل څه نشي کولی چي ، دا نُور پټ کړي ، تر دې که د قاف غر هم وغوړي چي د الهی نُور مخه ونيسي، سوری سوری به شي . که ويني چي د الهی مېړنو جسم د الله نُور ته تاب راوړي ، هغه له دې کبله دی چي ، خدای دوی ته د دې نُور د جذبولو قدرت ور کړی .
حضرت محمد (ص) فرمآيلي دي : « زه په ځمکه او آسمان کي نه ځايږم ، خو د مومين په زړه کي ، ځای نيسم . هېڅ هنداره نشي کولی چي زما د ښېګڼو تصوير څرګند کړي ، خو د مومين زړه دا وړتيا لري . » که خپل زړه پر هغه وپلورو ، بخت او سلطنت به تر لاسه کړو . يوه ورځ صفورا د موسي(ع) ښځي غو ښتل چي د هغه مخ ته ووګوري .
هغي يوه سترګه پټه کړه ، غوښتل يي چي په يوه سترګه د الله دنبی مخ ته ووګوري .
خو د نُوراني وړانګو لکبله د هغي سترګه ړنده شوه . صفورا د لاسه صبر تللی وو ، هغه نُورته داسي مشتاقه وه چي سمدلاسه يي بله سترګه خلاصه کړه ، او دواړه سترګي يي ړندې شوې ، لکه هغه سخيان چي د خدای بېوزله بنده ګانو ته خواره ببني . په حقيت کي دا ډوډې ورکونه ، د خان ورکونې مقدمه ده ، په دې توګه دا ويل غواړي ، چي ځانونه هم بايللی شي .

يوې ښځي صفورا ته وويل : « دا چي د خپلو ښکلو سترګو بيناي دي د لاسه ورکړې ، خواشيني يي ؟»
صفورا وويل :« خواشيني په دې يم ، چي ولي په سلهاو زره سترګي نه لرم ، چي ټولي مي د موسی(ع) د مخ نه ځار کړې وی ، خو د هغي په بدله کي ، د نُور خزاني زما پر صورت ناستي دي . »

د روح يوسف ستا د جسم په تنګ او تياره کور کي زنداني دی . سوړه پرانيزه ، هغه يوسف ته ووګوره ، چي د کور ورانول درته آسان شي . زما دا نصيحت وآوره ، تل خپل دننه ته ګوره او پاتي نور ټول ادراکات له ذهن نه وباسه . که غواړې چي حقيقي ښکلا ته ورسېږې ، لمړی خپل دننه ښکلی کړه .
الله تعالی په سلهاو زره بيل بيل ، نعمتونه شته کړي .د حسن نعمت دي زندان ته ور بولي او د علم نعمت دي آسمان ته . د علم او هنر ملک ، تر ښکلا ډېر ښه دی .

## د غبرګ ليدونکي مثال

د کوم کس نوم به چي عمر وو ، د کاشان په ښار کي چا ډوډی نه ورکوله . هر دوکان ته چې لاړشي همدا حال دی .
په دغه ښار کي يو څوک د ډوډی پخولو دوکان ته ودرېد او وېويل ، زما نوم عمر دی . ډوډی پخونکي هغه ته ډوډی ورنکړه او وي ويل : « هغه بل دوکان ته لاړه شه ، هغه به ترما ښه ډوډی درکړي . » نانوا پوهېده چي ، هغه ناپوه سړي غبرګ ليدونکی دی ، بنا پر دی ، دې ته يي پام نه کيږي چي ، په هغه ځای کي آصلاً بل دوکان نشته .
هر دوکان ته به يي چي ودروه ويل به يي : « ای ملګرو ، دې عمر ته ، ډوډی ورکړئ » په حقيقت کي د هغه د خبرې معنی دا وه ، پام کوئ ، چي د دې سړي نوم عمر دی څه پرې خرڅ نکړئ .

غبرګ لیدونکی سړی بل دوکان ته لاړ ، هغه هم پرې څه خرڅ نکړل .او بل دوکان ته یې ولیږه . کله چې د یوه دوکان مخ ته عمر یې ، داده اوسه ، ټول دوکانونه به دې له ډوډی محروم کړي . که هغه د کوم دوکان مخ ته ویلي وی و چې زما نوم علی دی ، بې له شکه د څه سرخوږي او غوښتني به یې خپل مقصد تر لاسه کړی وی .
کله چې غبرګ لیدونکي د داسي بلاو سره مخامخ کیږي ، یوه شه چې د لس لیدونکي سره به څه وکړي . د خوف او امید په دې کوډله کې ، د لوڅ او غبرګ لیدلو لاس په سر شه ، سترګې پرانیزه ، په دواړو سترګو حق ته ووګوره ، چې هغه په دواړو جهانونو د حقیقت لیدونکو ملګری او مل دی .
د ژوند لبنتي ته وګوره ، که په هغه کې دې ، د ونې تصویر ولید هغه ونه وموږه چې رښتیني ده او د هغې له میوې نه به ګټه وآخلي . د انبیاو وجود زلالو اوبه ته ورته دی ، چې په ځان کې د حق نور متجلي کوي او ته کولی شي چې د هغو لګبله له الهی نعمتونو ګټه تر لاسه کړي .
بې دلیله لوڅ او دې اوبو ته ور ګډ نشي . ته به په دې اوبو کې ، یوازې انځورونه ووینې ، بیا به وروسته وتوانیږې چې هغه لاس ته راوړی .
د خرو پر شا ، بیل بیل پېټي ایښي دي ، خو ټول یو شانته ندي او په لبنته هغه مه ځغلوه . په یوه خره د لعلو پېټی ایښودل شویاو د بل پر شا ، د کانو او مرمرو بار دی . تل له هرې پېښې یو شانته نتیجه مغواړه ، کله کله د اوبو تصویر خیالي او ستا دښمن وي او کله دې بیا منزل ته رسوي .
نشو کولی چې په ټولو سیندونوکی حکمت ومومو . په کوم لبنتي کې چې د سپوږمی انځور وي ، هغه ته ځان ورسوه . د حقیت نور او هغې سپوږمی ته یوه ساده انځور په سترګه مګوره .
د هغه لبنتي اوبه د حق اوبه دي ، بنا پردې نه بناي چې وحشي او اهلي څاروي دې له هغې اوبه و ځښکي ، ځکه کله چې ته لبنتي ته وګوری ، بیا په آسمان کې د حقیقی سپوږمی وجود ته متوجې کیږی او تا ته بناي چې د هغې د لاسته راوړو د پاره هڅه او کوښښ وکړي .

## خوارزم شاه رحمته الله د خپل یوه وزیر ښکلی آس ولید

یوه ورځ خوارزم شاه د خپلو ملګرو سره ، دآس په سورلی بوخت وو . د هغه یو وزیر چې ښکلی آس یې درلود ، دهغه سره یو ځای شو . کله چې د پا چا سترګې په آس ولګیدی ، هغه یې ډېر خوښ شو ، داسي چې د بیرته راتګ تر وخته پورې یې ، سترګې له هغه نه اوښتې . هغه به چې د آس هر غړي ته کتل ، ورته تر ټولو آسونو ښایسته ښکارېده . په هغه آس کې د ښایست ، چټکی او ښکلي ګرځېدو پرته نورې ښدیګنې هم وی .
بنا پر دې د پاچا عقل په لټون شو چې : « پدې حیوان کې څه دي ، چې د عقل پر مخ لاره تړي .؟ ولی زما سترګې د هغه په لیدو نه مړیږي .؟ ته به وای چې له دوه سوه لمرو رڼا یې آخیستي ده . جادو شته کونکي خدای ، پر هغه جادو کړی چې داسي جاذبه لري . »
سلطان دژوندو لاندې فاتحه لوستله او ویل یې ، خدای ته پناه وړم . هغه پدې یقین وو ، چې دا جذبه د خدای لخوا ده ، چې هر سا نوې او نادرې ښکلاوې پنځوي ، تر دې چې آس او غویه هم د هغه د مکر سره د سجدې وړ ګرځي . هغه څه چې بت پالونکې سجدې ته اړباسي ، د بت پرتم ، شان او روحانیت ندی ، بلکې هغه جاذبه ده چې خدای د کاڼي او لرګي په زړه کې ایښې ده ، عقل د دې حقیقتونو له درک نه عاجز او خجله دی .
کله چې خوارزم شاه له ښکار بیرته را وګرځېده ، دا خبره یې د خپلو مامورینو سره شریکه کړه . بیا یې خپلو مامورینو ته حکم وکړ ، چې لاړ شئ او هغه آس ما ته راولئ .
د پاچا کسانو سمدلاسه ځان امیر ته ور وه رسوه . امیر یوه شو چې آس ترې بیا یې ، د دې سره په وجود اور بل شو . نور یې نو زغم پای ته ورسېد ، پرېکړه یې وکړه چې ، عمادالملک ته ځان ور وه رسوي .عماد الملک د پاچا هغه نږدې کس وو ، چې د هر مظلوم ږغ به یې ده ته رسوه .
سلطان هغه ته دیوه لارښود په سترګه کتل . هغه یو بې تمې ، رښتینی پارسا او شپه ویښ سخي سړی وو . پاچا په څو واري د هغه رأیه او نظر آزمویلی وو ، او پوهېده چې د سر او مال په سربښندنه کې خپل سیال نلري ، او دغیبي نور طالب دی . هغه اړو خلکو ته لک پلار وو ، د سلطان په وړاندې ، لکه شافع او د ضرر لرې کونکی . په وار وار غروته ختلی او پاچا په زاریو بیرته راستون کړی وو .کله به چې هغه د کوم مجرم شفاعت کوه ، پاچا شرمیده که یې ونه مني .
لنډه دا چې امیر سرلوڅی د عمادالملک پېښوته ولوېد . وې ویل : «خوارزم شاه ته ووایه ، زما هر څه دې لوټ او وآخلي، خو دا آس زما ځان دی ، دا دې نه آخلي چې ، که داسي ون شوه ، په یقین سره چې مرم . د ښځې ، زرو او شرا بو په وړاندې صبر کولی شم ، خو دا یو نشم زغملی . که یې نه مني ، ما وآزمایه . » عمادالملک په داسي حال کې چې ډېر پریشانه وو ، ژر د پاچا په لور وخوځېد .

کله چې شاهي ماڼۍ ته ورسېږ ، نیغ خوارزم شاه ته ورغی او پرته له دې چې څه ووايي د هغه خوا کې ودرېده . بیا يې د زړه په دننه کې مخ خدای ته ور واړه وه او وې ویل : « ای خدایه ! هغه امیر چېخپل آس د لاسه ورکړی ، که له تا پرته يې بل بنده ته پناه وړې، ته هغه ته پناه ورکړه ، لاس يې ونیسه ځکه ټول خلک ، له سوالگر نیولې تر سلطانانو پورې تا ته محتاج او اړ دي» دا درسته ده چې د لمر په شتوالي کې ، له ډیوې لاربنونه غوښتل ، د نعمت کفران او بې ادبي ده ، خو زموږ فکر او سوچ لکه بم ، تم پالونکی دی .

بوم په دې نپوهېږي ، کوم چینجي چې دی په شپه کې خوري ، د لمر په نُور سره روزل شوی ، سره لدې هم لمر خپل دښمن ته روزي ورکوي . خو که ښکاري باز چې ، چټک الوتونکی او تیز لیدونکی دی ، او لکه بم ړوند ندی ، که د شپې له خوا د ښکار پسې ووځي ، بیا د دې وړ دی چې لمر يې غوږونه کېباسي . لمر کولی شي هغه ته ووايي :« ته په کوم حق سره له ما وتښتېدې ؟ اوس دې غوږونه نیسم چې بیا داسې ونکړې .»

## له غیره د مرستې غوښتنې په تور
## د صدیق یوسف(ع) مواخذه

د یوسف(ع) یو بندي ملگری له زندانه خوشې کېده . یوسف(ع) هغه ته وویل : « له خوشې کېدا وروسته به خاماخا ، د پاچا خدمت کوې . کله چې د هغه سره وې ، ما در په یاد کړه آو هغه ته ووایّ چې ما آزاد کړي .»

کله یو زنداني کولی شي چې بل دې آزاد کړي .؟ ټول نړۍ مېشتي د دې دنیا بندیان دي ، یوازې د مرگ سره له دې بنده خلاصېدلی شي . یوسف(ع) هم د همدغې تېروتنې په جرم ، څو کاله نور په زندان کې پاتې شو او ملگر يې ، د هغه سپارښتنه هېره کړه . کله چې د یوسف(ع) په څېر ستر انسان چې پرانیستې سترگې او بینايي هم لره ، له غیره د مرستې غوښتنې په جرم مواخذه کېږي ، په داسې حال کې چې معمولي انسانان بوم صفته دي .
بوم ړوند او کرغېړن دی ، خو د سلطان باز د سلطان نُورویني . بنا پر دې ، که د پردې په لور وآلوزي ، بیا د مجازاتو وړ دی . الله یوسف(ع) ته سزا ور کړه ، څرنگه چې ژر يې خپلې تېروتنې ته پام شو ، الله تعالی داسې کار وکړ چې ، هغه دومره د خپل خالق سره بوخت او پدې پوه هم نشو چې د بند دا پاتې کلونه کله پای ته رسېږي .

هیڅ زندان د مور د رحم له زندانه ډارونکی ندی ، خو که خدای په همهغه زندان کې خپلې خواته یوه کړکۍ خلاصه کړي ، بیا به هغه زندان د بېحده خوښیو ډک شي ، داسې چې جنین به زیږېدا ته هېڅ میل نکوي . بنا پر دې خپل دننه کې د خوندونو پسې وگرځه ، نه دباندې !
یو د جومات په گوټ کې ښاد او مست دی ، بل بیا په بڼ کې هم نا ښاده او غمجن . دا بدن وران کړه چې په هغه کې پټې خزانې ته ورسېږې . ته نه ویني ، د شرابو په بزم کې کوم کس چې ډېر خراب دی ، د هغه خوشحالي هم ډېره ده . کېدی شي په ظاهره به دا کور تا ته ډېر ښکلی بربښي ، داده اوسه ، کله چې د هغه خزانه لاس ته راوړې، تر دې به لا زیات ودان شي . د ښایسته انځورونو دا ډک کور د هغې خزانې پر سره یوه غوړېدلې پرده ده . څرنگه چې د سین د سر ځک تا نه پرېږدي چې ، په اوبو کې منعکس شوي تصویرونه ووینې ، د تن پرده هم د دې سبب کېږي چې ځان له پامه وغورځې .
لمر قبله او امام دی ، خو موږ لکه بم شپه پالو . خدایه ! ته دا بمان له خوانه لرې نکړې .
عمادالملک وویل : « دا ځوان گرم دی ، د دې پر ځای چې ستا په لور درشي ، زما خواته راغی ، خو ته د هغه تېروتنه وبښه . » د عمادالملک په دننه کې دا سوچونه لکه زمري غرمبېدل. په ښکاره آرامه وو ، خو باطن يې لکه ملایکې ، پورتنی سیمې ته تللی وو ، او هر شېبه د نو شرابو سره مستېده .
هغه په حیرت او انتظار کې وو ، چې څه به پیښ شي . تر دې چې مأمورینو آس د سلطان مخ ته ودروه . په حقه سره چې د ځمکې پر مخ ، د هغه سیال نه وو زیږېدلی . چا به چې ولید ، رنگ يې تښتیده او د هغه په صفت نه مړېده . هغه لکه سپوږمۍ ښایست ، لکه عطارد چټک وو ، تا به وې چې د اوربشو په ځای د صرصر باد خوري .

سپوږمۍهره شپه په آسمان کې خپله لار وهي ، خو هغه نازولي یتیم ، حضرت محمد(ص) یوه شپه همدا سپوږمۍ دوه برخې کړه ، بیا ولې د هغه معراج نه منې ؟ د انبیاو او رسولانو کار او بار ، له آسمانه پورته دی . که د هغو د کړو ننداره غواړې ، له آسمانه و اوځه . د الله د پېرزوینې لمر چې پر هر څه وځلېږي ، هغه ته قیمت ورکوي ، څرنگه چې پر سپي و ځلید ، د اصحاب کهف سپی شو . البته د هغه د لطف لمر تل یو شانته نه وي . تیږې او لعل ته وگوره ، پر دواړو لمر ځلېدلی ، له یوه گران قیمته گوهر جوړ او بل لږ څه تود شوی دی .

خوارزم شاه د آس د ليدلو سره لږ حيرانه غونډې شو . بيا يې عمادالملک ته مخ ور واړوه او وې ويل : « اى وروره دا آس دومره ښه آس ندى ، ته به واې چې ، پر ځمکه ندى زېږېدلى او له جنته راغلى دى .! »

عمادالملک وويل : « اى زما سرداره، کله چې د چا په زړه کې د کوم شي ميل را وټوکېږي ، که هغه ديو هم وي ده ته فرښته ښکاري . دې آس ته ښه ووګوره ، ظاهره يې زړه وړونکى دى ، خو نيمګړتيا لري . سرې غوږ ته پاتې کېږي . » دې خبرې د خوارزم شاه پر زړه اثر وکړ او هغه آس يې له پامه پرېووت . کله چې غرض دې له دلالى نه وي ، کولى شي چې په درې ګزه کرباسو يوسف وپيرې .
کله چې شيطان دلالي وکړي ، ستا ايمان په يوه منګي اوبو آخلي او د اوبو هغه منګى هم د تش خيال پرته بل څه ندي . غولول د شيطان دنده ده . په لمړي سر کې هغه خيال د، د ځوالسمي سپوږمى ته ورته وي ، خو ورو ورو کميږي ، په پايله کې نشته او محوه شي . که اوله د آخر سوچ وکړې ، تيروتل به دى شي .
دا نړى خوسا شوي زړي ته ورته ده ، چې د ماتېدو سره يې ، فساد او پوچ والى را برسېره کېږي . سلطان د حال په سترګه کتل او عمادالملک په لرې ليدونکو سترګو . هغه تر دوه ګزو پورې لاره ليدله ، په داسې حال کې چې عمادالملک د لارې پاى ليده . او دا هغه رانجه دي چې الله تعالى يې د چا په سترګو پورې کوي . هغوى کولى شي د سلو پردو شا هم ووينې .

کوم کسان چې دا سترګې لري ، هغو ته جهان لکه د مرادرو اوبو بوبناکه ډنډ ښکاري .
کوم څه چې عمادالملک ليدل ، د هغو يو ځرک يې سلطان ته ور وښود او له همدې کبله دآس ميل د خوارزم شاه له زړه ووت . خوارزم شاه خپلې سترګې ، هوش او عقل پرېښود ، د عمادالملک په سترګو يې کتل او دهغه خبرې يې وآوريدې . عمادالملک هم يوه پلمه وه ، په حقيقت کې خداى د هغه په وسيله د سلطان زړه نرم کړ . الله د يوې جملې سره د پاچا پر سترګو پرده وآچوله او هغه ته سپوږمى توره ښکاره شوه . الله هغه بنا دى چې په غيب کې مانى جوړه وي ، هر غيبي ږغ چې تر غوږه راځي له همهغې مانى نه را رسېږي . د حس په غوږونو دا ږغ نشي آورېدلى ، تر هغو چې مکر ، ګناه او فساد پرې نږدې .

دنيا ته په خپلو سترګو وګوره ، نه د پستو او رزيلو خلکو په سترګو ، هغوى هغه تپسان دي ، چې تا دنيوي مرداريو ته بولي . هغه اعصا لرونکى ، تر تا هم ړانده دي . لکه ړوندخپل لاس د الله درسى په لور وغزه وه و د هغه امر اونهى پرته بل هېڅ کارته لاس مه ور وړه . الهي رسى د هوا او هوس له پرېښودو پرته بل څه ندي .
د هوا او هوس لکبله د صرصر باد د عاد قوم ته سزا ورکړه . بنديان د نفسي هوا او هوس له کبله هلته پراته دي او هر مرغه د نفس له لاسه په لومه کې مبتلي . په سره تبى پروت کب هم ، له همدې کبله په اور سوځي . او ډېرو پاکو کسانو هم د هوا او هوس په خاطر خپله حيا او شرم له لاسه ور کړى .

د جسم د تيروتنو لکبله روح په غيبي عام کې عذاب ګالي ، خو تر هغو چې له دې مادي دنيا ونه اوځي ، هغه درد نشي درکولى .ځکه ضد په ضد کې ځرګنديږي . ځوک چې د ځا په ککړو اوبو کې لوى شوى وي ، د دښتو او زلالو اوبه څه خبر دى .؟ کله چې د حق له وېرې د نفس هوا پرېږدې ، بيا کولى شي چې هغه ته نږدې شې .
سلطان وويل : « دا بدرنګه آس ژر تر ژره د هغه خاوند ته ور وه رسوئ »
خو په دې يوه شه ، چې خداى د غوږ په سر نشي غولولى . هغه هيڅکله د غوږ غړى ، پر آس نه ږدي . هغه چې هره مانى جوړه وي ، په هغې کې د وتو ډېرې لارې دي ، او هره لاره بلې مانى ته لار لري ، چې د هغو په هر يوه کې لايتناهى عالمونه موجود دي .
د هغو په ځينو کې سپوږمى يوه خيال ته ورته برېښي او په ځينو نورو کې لکه د ځا په تل کې جنت حال هره سا بدلېږي رابدلېږي ؛ له همدې کبله حضرت محمد(ص) له خدايه وغوښتل چې ، د بدو بدي او حق حقيقت را وښيه ، تر څو چې د پانې د بدلېدو په صورت کې پښېمانه نشم .
کوم مکر چې عمادالملک وکاروه ، هغه خداى ورښودلى وو . که داسې نده چې حق د ټولو مکرونو سر چينه ده ؟ بيا هغه ځوک چې د هغه په وړاندې مکر او قياس ته پناه وړي ، داسې وګڼه چې خپل ځان اور ته آچوي .

## خپلو درې زامنو ته د پاچا وصيت او د هغه حيرانوکې کلا

پاچا درې زامن درلودل ، چې هر يو په ذکاوت ، بصيرت ، زړه ورتيا اوسخاوت کې نوميالي ول . ته به واې چې ، د ژوندانه د حقيت کومې اوبه چې د پاچا په وجود کې وې ، د هغه د زامنو په وجود کې هم بهېږې .

کوم څه چې د پلار او مور په ،جود کې وي ، لکه روانه چینه ده چې ونې پرې اوبه کوي ، یعني خپل اولاد . که چینه وچه شي ، هغه ونې هم له اوبو محرومه کېږي . هله بیا ونې د ناچارۍ له مخې له نورو اوبه غواړي .

# د حیات له چینې نه د عارف د مرستې غوښتنې بیان

د ټولو ستونځو حل لاره خپله تا سره ده ، له باندې به هېڅ په لاس در نشي .
په کور دننه چینه ، له باندې د راتلونکي لښتي ډېره ښه ده . کمې کلا ته چې له باندې اوبه راځي ، د سولې او اوامنيت په وخت کې ښه ده و خو کله چې دښمن پرې برید وکړي ، لمړی کلا محاصره او اوبه پرې تړي ، که څوک د اوبو د وړلو د پاره له کلا راووځي ، دښمن پرې حمله کوي . پدې توګه د ساتونکو سرونو ته ستر ګوښ پېښېږي . بنا پر دې ، که په کور کې یوه د تروشو اوبو څا ولرې ، د بادنیو سلو خوږو اوبو لرونکو سینونو نه ښه ده .

کله چې د مرګ لښکرې لکه ژمی چې د ونو پاڼې رژه وي پر تا برید وکړي ، هېڅ پسرلی نشي کولی چې تا وژغوري ؛ پرته د هغه یاره چې د پسرلي ځان دی .له همدې کبله یې دې خاورینېنړی ته د تېراپستنې او غرور د کور نوم ورکړی . ژوند له تا سره داسې چلند کوي ، چې ته به وای ، د غم ، ستونځو او ستا ترمینځد غره او کلي فاصله ده ، خو که ستونځو خپل مخ لو غوندې در ښکاره کړ ، ژوند بیا تا نه پیژني .

شیطان هم همدارنګه عمل کوي . هغه تا غولوي او وای :
« دا کار وکړه ، که څه خطر پېښ شو ، زه به دې وژغورم . د ستونځو او بلا په وخت کې خپل ځان هم درنه ځاره ولی شم .»
په دې توګه تا د کفر او ګناه په لور بیای ، که په څا کې ولوېدې ، بیا د څا په سر درېږي او درپورې خاندي . : « ته ناړې وهې چې ، دا خامه تمه تا راکې پیدا کړه. اوس راشه ، ما وژغوره . »بیا هغه ورته په ځواب کې وای :
« ځه ، ځه زه له تا کرکه کوم ، ته د خدای له عدله ونه وېرېدې شوې ، خو زه ډارېږم ، بیا ما پرېږده .! » الله تعالی ،د قیامت په ورځ فاعل او مفعول دواړو ته سزا ورکوي ؛ په دې معنی ، غولونکی چې نور ګناه ته لمسوي او ګنهکار دواړهد خپلو کړو سزا ويني .
پرته له هغو کسانو چې خپله لار بدله کړي او د فضل د پسرلي په لور را وګرځي .خدای تعالی د توبو قبلونکی دی .
الله تعالی هغه کسان ښبني ، کوم چې په خپلو بدو کړو پښېمانه شي ، ژړا او زاری وکړي .
الله لکه مهربانه مور ، کله چې د خپل بچي رېږدا ويني ، هغه ته لاس ورکوي او خپلې غېږ ته یې را نږدې کوي . ای هغو کسانو ! چې الله تاسې له کبر او تېروتنو ژغورلې یاست ، پدې پوه شئ چې ستاسې رزق او روزی تلنی ده ، او دالله له خوا به در ورسېږي ، نه له بل ځایه .

هغو درې ورونه ، د دې د پاره چې لا نور پرمخ تګ وکړي ، په دې سلا شول چې د پلاره په ور پاتې ملکیت باندې وګرځی .لمړی پلار ته ورغلل ، د هغه لاسون یې ښکل کړه او بیای د سفر اجازه وآخیسته .

پلار د هغو مخونه ښکل کړه . وبويل : « چېرې چې ځئ خدای مو مل شه ، پرته له هغې هوش ورونکي کلانه و پام چې هلته لاړ نبنئ ، سلطانان په هغې کلا کې پل نشي ایښودلی ، تاسې خو لا پرېږده چې د سلطان زامن یاست. له هغه ځایه وډار شئ او ترې لرې ځئ . په هغې کلا کې ډېر زړه راښکونکي انځورونه دي ، چې هر نقش خپل ځان ته رمز او راز لري .
هغه لکه د زلیخا مانۍ ده چې و د مکر له مخې یې هره خو ښایسته انځورونه لګولي ول ، تر څو چې یوسف(ع) په هره خوا د زلیخا له انځور پرته بل څه ونه ويني . خدای مکره چې هغه رنګارنګ انځورونه مو زړونه خپل نکړي . »

دا جهان د خدای د آیاتو مظهر دی ، تر څو چې ژور لیدونکي د هغه د قدرت نښې ووینې . تر دې چې مینان د اوبو ځکلو په وخت کې هم د اوبو په کټوه کې د هغه انځور ويني ، که څوک په اوبو کې خپل صورت ويني ، هغه بیا مین ندی . کله چې عاشق په معشوق کې فانی شوی وي ، بیا په اوبو کې د چا د صورت لیدل پکار دي .؟ هغوی د ښکلو په مخونو کې هم د الله ننداره کوي . شیطان هم که په رښتیا سره مین شي ، کولی شي چې جبرایل شي . دا خبرې پای نلري ، بېرته خپل نکل ته راګرځو .

پاچا بیابیا په اصرار سره خپلو ژامنو ته ویل ، چې هغې کلا ته له تګ ندې ډه ډه وکړي ، ځکه هلته دبلا جړلې دي . په نه تګ د پاچا ډېر اصرار ، د دوی تلوسه لا ډېره وله . ځکه هغوی پرېکړه وکړه چې هغې کلا ته لاړ شي او د کلا په اسرارو ځانونه خبر کړي . کله چې یو انسان له څه شي منع کړی شي ، د هغه حرص لا زیاتیږي ، یوازې تقوا کونکي عاشقان دي چې د حق له فرمان پرته نه څه لټوي او نه هم څه آوري .

په هر توګه ، زامنو د پلار سره ژمنه وکړه چې د ده نصیحت به نه هېره وي ، خو دا یې ونه ویل که خدای غوښتي وي . لکه هغه طبیبان چې د وینځې په درملنه کې پاتې راغلل ، هغوی هم پر خپل ځان ډېر ډاډه ول ، له دې غافله ول چې ، خدای د عزم ، زړه او ځان خوا بدلوی شي ؛ داسې چې ته یو غویه په غوجل کې وتړې ، او کله چې راشې د هغه پر ځای خر ووینې . که تر اوسه پورې دا ندې شوي چې غشی ښې ته ګذار کړې او هغه دې کین ته لاړشي ؟ یا د یوه ښکار پسې لاړ شي او پخپله ته ښکار شې .؟ منظور دا دی چې ډېر کله یو کار سرته ورسوې او د هغه نتیجه بیا بله شي ، او پدې هم نه پوهیږې ، چې چا وکړه .
د مثال په توګه ، د یوې ګټې پسې ځې ، نه دا چې ګټه نه کوی بلکې په زندان کې ولوېږې . د بل د پاره څا کینې ، بیا خپله هغې څا ته ور ولوېږې . کله یو کس د یوې ښځې سره په واده کولو بدایه کیږي ، او ځینې بیا بېوزلی شي .
هسې بېځایه د سببونو پسې مه ګرځه ، سبب د بلاو لاندې پټ دی تر هغو چې خدای ونه غواړي ، له هغو وتښتېدلی نشې .
هغه کولی شي چې ستا سترګې پټې کړي یا یې بلې خواته واړه وي داسې چې لومه لکه دانه او څا درته کور ښکاره شي . دا د سفسطي ویل ندي ، بلکې د خدای په اراده د کارونو بل مخ اوښتل دي ، چې په آخره کې حقیت څرګنده وي .
هغه څوک چې له حقیقته انکار کوي ، په وهم او خیال آخته شوی . هغو درې
ورونو خپل سفر پیل کړ . خو د هوش وړنکي کلا نقش یې له ذهنه نه وته . کله چې آدم (ع) د غنمو له خوړلو منعه شو ، هغه هم د مخلصانو له ډلې ووت . هغوی د پلار نصیحت هېر کړ ، او د کلا په لور وخوځېدل . کله چې کلا ته ورسېدل ، څه وینې چې پینځه دروازې د سین خواته او پینځه نورې مخ په وچې دي .
وچې ته پینځه خلاصیدونکي دروازې ، پینځه ظاهري حواسه او توجهه یې خاورین عالم ته دي . او مخ په سین پینځه خلاصیدونکي دروازې ، پینځه باطنی حسونه دي چې‌د پورتني عالم د اسرارو کشف یې موخه ده .
د کلا په دېوالونو ، ښکلي زړه وړونکي او حیرانوکي انځورونه کښلي ول ، چې د پاچا زامن یې د ځان پسې ګرځول .
شهزادګان له دې غافله ول کومه باده چې په جام کې ده ، هغه د جام نده . هغه ښایسته انځورونه د ازلي انځورګر کار وو . د دې دنیا هره ښکلا د هغه مطلق ښکلا پنځونکي کار دی ، نه د ښکلو صورتونو .

ای آدمه ! د زړه ترلو په آصلي معنی ځان پوه کړه ، دا انځورونه او ممنوعه غنم پرېږده . که بې صورته شې ، صورته ته به ورسېږې . که یو صورت ډېر ځله ووینې ، بیا درته خوا نیونکی کېږي ، خو بې‌صورتې دې تل په حیرت کې ساتي . یوازې خدای دی ، چې په بې صورتې او بې لاسی کې یې زموږ ځانونه شته کړي .

همهغسې چې هجر د خیال د مینځ ته راتګ سبب ګرځي ، پداسې حال کې چې په خپله هجر صورت نلري ، بې‌صورتې به هم د دې سبب شي ، چې نوی صورت وکړې او بل تن لاس ته راوړې . د نعمت صورت ، شُکران دی او د مهلت صورت صابر کېدل دي . د رحم صورت خواخوږي او د زخم صورت ژړېدل دي . په کوم سرې چې غشی لګېدلی او وېرېدلی ، دهغه صورت دا دی چې سپر را وآخلي . د ښکلو صورت ښادي او د غیب ، صورت یوازېتوب . د اړتیا یا احتیاج صورت انسان کار او کسب ته هڅوي او د قدرت صورت د زور زیاتي کولو اراده ده .
دا مثالونه حد او پای نلري . هر سرې سیوری او هر کړه او عمل ، خانه ته بېله نتیجه او غبرګون لري . د مالګې او مرې د خوړلو نتیجه قوت دی او د مبارزې نتیجه برې دی ؛ د مدرسې او زده کړې نتیجه پوه ده . دا ټول صورتونه ، بې صورتی خلق کړي ، چې زموږ ولی نعمت دی . هر چېرې چې یو دېوال ، کوټه او چت ووینې، خاماخا د یوه بنا شتون په ګوته کوي . بیا څنګه ستا تصور ته راځي چې دا جهان سره د ټول اعظمته ، له بنا پرته جوړ شوی دی؟ .

هغه بې صورته کله کله ، له عدمه صورت خلقوي چې نور صورتونه د هغه د کمال او جمال له قدرته قوت تر لاسه کړي ، او بیا خپل مخ پټوي . له یوه صورته د بل صورت کمال آخیستنه ، ستر ضلالت دی .
ولې خپلې اړتیاوې بل ته وړاندې کوې ؟ ټول صورتونه له هغه دي ، بیا هر چا ته چې مخ ور واړوې ، سوه د ټول غفلته ، داسې وګڼه چې د هغه په لور تللې یې . هغه حقیت دی او د ټولو معبود ، خو ځینو سر ورک کړی ، د لکی په لور درومي . سر آصل دی ، له همدې کبله ، په لکی پالونکود بیلارې شوي نوم ړدو .

شهزادګانو په کلا کې یو ښایسته بوت ولید ، چې ډېر ښکلی او زړه وړونکی اوو . هغوی په ټوال عمر داسې ښکلی بت نه وو لیدلی . زړونه یې داسې پرې بایلودل چې بې‌سده شول . کله چې په سد شول و په ژړا او اوښکي تویولو یې پیل

وکړ . هغه د کاڼي بت د هغوی په زړه او دین اور لګولی وو . هغه صورت مینه هر شیبه لکه غشی د هغو په زړه ښخېده . هغو لکه وریځي اوښکي تویولي ، ګوتي یي چیچلي او پښېماني یي ښودله چي ولي یي د پلار خبروته پام ونکړ . د ځان سره یي ویل : « هغه له اوله دا آخر لیدلی وو . موږ ته یي ډېر وویل چي ، هغه ځای ته مه ځئ .» انبیاو هم په وار وار خلکو ته خبرتیا ور کړې او د کار آخر یي را ښولی ، خو د دې سره سره ، بیا هم موږ په کړو. لیچو درومو .

هغوی له دېکبله چي یاغي شوي وو ، د پلار خبره یي نه ده منلي ډېر پښېمانه ول او یو بل ته یي ویل :

« موږ پرخپل عقل او شعور ډه ډه ولګوله ، ځکه د دې بلا سره غاړه غړی شوو . موږ روغ رمټ وو ، خو ځانونو ته مو ناروغي وآخیسته . اوس علت موږ ته څرګند شو . وروسته له دې به ، د پلار په لار ښونو عمل کوو . »

د یوه ښه لارښود د سیوري لاندي اوسیدل ، د حق له ذکر او قناعت د مختلفو خوندور غذاوله خوړلو ښه ده . بینا سترګی له درپسوو اعصاو نه ښې دي ، ځکه دا سترګی دي چي د شګې او ګوهر توپیر کولی شي نه د ړندو اعصا . بیا هم پښیمانی هیڅ ګټه نه کوله . ښه به دا وي چي د حل لاره وموميي . هغوی د بت په هکله پلټنه پیل کړه . په پایله کي هغوی ته یو سترګه ور شیخ چي، د الهام او وحیي له لارې یي د اسرارو چینې ته لار مندلې وه ومند ، او خپله ستونځه یي ور سره شریکه کړه .

شیخ وویل : « دا د چین د شهزادګی دي انځور دی ، چي په حسن او ښکلا کي سیال نلري . هیڅ نر او ښځه هغي ته لاس رسی نه لري ، ځکه پاچا د فتني له وېرې هغه له ټولو پټه ساتلې ده .

تر دي چي څوک د هغي نوم هم نشي یاده ولی ، دا خو لا پرېږده چي د هغي د واده خیال دې په سر کي ولري . تاسي هیڅکله هغي ته رسیدلی نشئ .

ولي مو د پلار نصیحت هیر او پر خپل تدبیر مو ډه ډه ولګوله .؟

په هرحال کار په پیرزوینه او عنایت کیږي نه په تدبیر .

ښا پر دي د مکر او هیلي نه لاس وآخلئ او د حق پیرزویني ته امید وکړئ ، تر دي چي په دي لاره مرګ هم ، له ژوند نه زړه راښکونکی دی . درې واړه وروڼه ، په خپلو کي د مشورې د پاره سره راغوند شول .د درېواړو سوچ یو وو ، ټولو غوښتل چي له خطره خلاص او د تلو هوا یي په سر کي وه .

مشر ورور خپلو وروڼو ته وویل:

« موږ هغه نه یو ، کله به چي زموږ د لاس لاندي کس له فقر او بلا نه ګیله وکړه هغوی به مو زغم ته هڅول ؟

اوس د هغه صبر کلي چیرې ده ؟ هغه قانونو زموږ تر مینځه ولي منسوخ دی ؟

که موږ هغه نه یو ، کله به چي د جنګ په ډګر کي آسونه ترهیدل او سرتیری به د آسونو د تر پښو لاندي شو ، موږ به لښکر لکه غشی مخ په وړاندي بیوه .؟

ټول عالم ته به مو د صبر لارښونه کوله او ویل به مو دا د لارې ډیوه ده .؟

اوس چي زموږ وار را رسیدلی ، دومره خوار او زبون شوي یو ؟ دا دې اوس زموږ وار دی .

د دې وخت را رسیدلی چي ګیره وه ښوره وو . د نصیحت په وخت کي ولې دا دي او هادي وایواو د غم په وخت کي ، لکه ښځي ژاړو .؟

د نورو د درد د پاره درمان یو او د خپل د درد د پاره هیڅ .!؟

اوس د دې وخت را رسیدلی چي خپل اوبدلی شی ، وآغوندو .تر اوسه پورې مو د نورو غوړونه موږل اوس به خپل غوړونه موږو . بیا مه وارخطا کیږئ، د لوبي سر ته راشئ .

د ورور د خبرو له آورېدو وروسته ، هغوي را وپارېدل ، پر خدای یي توکل وکړ ، د عشق او جذبي سرحد چین په لور وخوځیدل .

هغوی خپل پلار ، مور او ملک پرېښود او د معشوق لاره یي خپله کړه .

عشق هغوی لکه ابراهیم « ادهم » ، بې سر او پښو کړي ول ، داسي چي لکه نبی ابراهیم « ع » قادر ول چي ځانونه اور ته وآچوي یا لکه اسماعیل ( ع ) سر د عشق تیغ ته وسپاری .

پای

نازکمیر « زهیر بلخي »

بازګشت به صفحه اصلی — www.said-afghani.org